# د تلو لاره:

# په افغانستان کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون

# د تطبیق په هکله اپډیت راپور



© UNAMA/Freshte Kohistani


د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنری

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی



کابل ، افغانستان ، ۲۰۱۳ دسمبر

# د افغانستان نقشه




منبع: د ملکرو ملتونو د کارتوګرافی مرکز ، نیویارک

# د تلو لاره:

# په افغانستان کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون

# د تطبیق په هکله اپډیت راپور

د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنری

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

کابل ، افغانستان ، ۲۰۱۳ دسمبر

# فهرست

اصطلاحات ........ i
۱. لنډیز ........ ۱
۱. ۱. سپارښتنې ........ ۸
۲. زمینه/شرایط ۲۰۱۲-۲۰۱۳ ........ ۱۲
۳. میتودولوژي ........ ۱۵
۳. ۱. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د قضیو قانوني پروسس ........ ۱۶
۴. موندني ........ ۱۹
۴. ۱. د قضیو ثبت او د عدلي تعقیب د چاروا کو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پلي کول ........ ۲۰
۴. ۲. د محاکمو له خوا د قضیو ثبت او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پلي کول ........ ۲۲
۴. ۳. د افغان ملي پولیسو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د پېښو ثبت او هغو ته رسېدنه ........ ۲۳
۴. ۴. هرات او کابل ........ ۲٤
۵. جریانونه ........ ۲۷
۵. ۱. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د ثبت او تطبیق په برخه کې نا برابر پرمختګ ........ ۲۷
۵. ۲. د منځګړیتوب زیات کارول ........ ۲۹
۵. ۳. د کورونو څخه تېښته او د زناء قصد ........ ۳۱
۵. ۳. ۱. د ستري محکمې ۵۲۷ شمېره تصویب ........ ۳۲
۵. ۳. ۲. "د کورونو څخه د تیښتې" په هکله د لوي څارنوال د دفتر 92/202 شمېره ابلاغیه ........ ۳۳
۵. ۴. ښځې په پولیسو کې ........ ۳۵
۵. ۵. کلیدي ننګونې ........ ۳۵
۵. ۵. ۱. د صلاحیت لرونکو ښځینه پولیس کارکونکو کموالی ........ ۳۶
۵. ۵. ۲. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د نقض په اړه په منځګړیتوب ټینګار ........ ۳۶
۵. ۵. ۳. د سیستماتیکو اطلاعاتو د راغونډولو نه شتون ........ ۳۶
۵. ۵. ۴. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په هکله منفي انګیرنې (یا د دې قانون په هکله نه پوهاوی) ........ ۳۷
۵. ۵. ۵. د ښځو د خوښې ازادي او "د زنا د قصد" تورونه ........ ۳۷
۶. پایله ........ ۳۸

لومړۍ ضمیمه: د تطبیق په اړه د یوناما د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ راپورنو سپارښتنی ........................................ ۳۹
دوهمه ضمیمه: د افغانستان لپاره د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو شکلونو له منځه وړلو د کنوانسیون سپارښتنې ،۲۰۱۳ کال د اګست میاشت ........................................................................................ ٤٤

## اصطلاحات

| | |
|---|---|
| AGO | د لويې څارنوالۍ دفتر |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| ALP | افغان محلي پوليس |
| CEDAW | د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون |
| CoEVAW | د ښځو پر عليه د خشونت سره د مبارزی کميسيون |
| DOWA | د ښځو د چارو رياست |
| EVAW Law | د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون |
| FRU | د کورنۍ غبرګون څانګه |
| MOI | د کورنۍ چارو وزارت |
| MoJ | د عدليې وزارت |
| MOWA | د ښځو چارو وزارت |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان |
| OHCHR | د بشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو د عالی کميشنر دفتر |
| UNAMA | دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندويه پلاوی |

**پښتو ، دری او عربي لغتونه**

بد: د قتل يا نورو جرمونو د جبران لپاره د ښځې ورکول

بدل: بدل ودونه ، اکثرا د دوه کورنيو څخه لونړو يا خويندو بدلول.

حدود: حد د الله تعالی د حقوقو او حکمونو په وړاندې هغه جرايم دي ، د کومو لپاره چې په اسلامي شريعت کې جزاګانې تعيين شوي او جبري بڼه لري نه اختياري. په حدودو کې دغه جرمونه شامل دي: زنا ، غلا ، قذف ، ارتداد ، بغاوت ، حرابه او د شرابو څښل.

جرګه: د مشرانو غونډه

محرم: ميړه ، او يا بل نږدې خپلوان چې واده کول ورسره مشروع نه دي

پښتونوالی: هغه شفايي اخلاقی قواعد چې د پښتنو له خوا رعايت کيږی.

شريعت: د قوانينو مجموعه چې له قران کريم او پيغمبر محمد (ص) له ښوونو او کړنو څخه را اخيستل شوي وي

شورا: محلي غونډه

تشکیل: د حکومت د استخدام رسمي جدول

تعزیر: له هغو جرایمو او جزاګانو څخه عبارت دی چې د اسلامي شریعت پر ځای د قانون له خوا تصریح او ټاکل شوې وي.

زنا: له ودګني ژوند څخه بهر جنسي اړیکې

## ۱. لنډیز

*زه د ۱۵ کلونو په عمر په جبری ډول زما د ورور واده په بدل کی چی زما د میړه له خور سره واده کوله ، واده شوم. د لمړي ورځې څخه زما میړه راته روښانه کړه چه دغه واده د هغه د خوښې خلاف دی او په دوامداره توګه زما په وړاندې د وهلو او بدرفتاری په ګډون له تاوتریخوالي څخه کار واخیست. د ۲۰۱۰ په کال کې زما میړه دوهم واده وکړ او زه ئی مجبوره کړم چی کور پریږدم ، مګر زما کورنی زه بیرته د میړه کورته په تللو مجبوره کړم. د ۲۰۱۱ په کال کې ، وروسته له زیاتو وهلو ، زما میړه او لیور زه ئی خپل پلار کورته بوتلم او پلار ته می وویل چه ما نشي ساتلی. ما د افغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون ته عرض وکړ ؛ د افغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون زه ئی د امن کورته واستولم او یو مدافع وکیل ئی راته وګمارلو. زما قضیه د منځګړیتوب له لاری حل شوه. زما میړه پولیسو ته په لیکلي توګه ضمانت ورکړ چی نور به د تاوتریخوالي څخه ډډه کوی او زه بیرته د خپل میړه سره ولاړم. یوه میاشت کې دننه هغه بیا ځلی زما په وهلو پیل وکړ. هر کله چې ګاونډیانو زما د ژغورنی لپاره مداخله کول زما میړه د دې هڅه کاوه چې ما ووژنی. زه مجبوره وم چه بیا خپل کور پریږدم. زما قضیه دری ځله د محلی شورا ، مشرانو ، جرګه او دښځو چارو ریاست لخوا په منځګړیتوب حل شوی. زما کورنی نه غواړی چه قانوني چلند وکړم ځکه چه دا د پښتونوالی له اړخه شرم دی او همدارنګه بیا به زما ورور هم مجبور اوسی چه خپله ښځه طلاقه کړي. ما ډیر ستونزې ګاللي دي او زه عدالت غواړم. زه د بل هیڅ شي پروا نلرم.*[۱]

**(ن.ا.ک) ، ۲۴کلنه ، ننګرهار ولایت ، نومبر ۲۰۱۳**

دا راپور[۲] د ۲۰۱۲ م کال د اکتوبر څخه تر د ۲۰۱۳ م کال تر سپتمبر میاشت پوری د افغانستان قضاء او د قانون پلی کوونکو ادارو لخوا د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع قانون د تطبیق څرنګوالی ارزیابی کوي. دا راپور د یوناما د ۲۰۱۲ م کال د دسمبر میاشتي راپور"لا هم په مخکې اوږده پرته لا: په افغانستان کې دښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق" او په افغانستان کی د ښځو او نجونو پر وړاندی د تاوتریخوالي په هلکه د نورور مخکنی راپورونو موندني اپډیټ کوي.[۳] دغه راپور د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه د ۱۸ ولایتونو د معلوماتو پر بنسټ او د نموني په ډول د هغه قضیو پربنسټ جوړ شوي چه د افغان ملی پولیسو ، څارنوالی او ابتدائیه محاکمو کې د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له مخی ثبت شوي دي.

د افغانستان حکومت په ۲۰۰۹ م کال کې د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په تصویب سره خپلې هغه ژمنې ته موثره قانونی بڼه ورکړه چه اساسی قانون کې یی د جنسی برابری په هکله درلوده.[٤] د افغانستان په تاریخ کې د لمړی ځل

---

[۱] د (ن.ا.ک) سره د یوناما مرکه ، ۱۹ نومبر ۲۰۱۳کال ، ننګرهار ولایت.

[۲] د دغه راپور ټولی منابع د یوناما/ یو ان او ایچ سی ایچ ار د ګډ راپور د منابعو په توګه کارول کیږی.

[۳] د مثال په توګه لاندی مراجع وګورئ:*له هم په مخکې اوږده پرته لار: په افغانستان کې د ښځي پرعلیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق* ؛ د یوناما راپور ؛ د ۲۰۱۲ کال دسمبر ؛ دغه راپور په لاندی پته موندلای شی: http://unama.unmissions.org/LinkClick.aspx?fileticket=Qy9mDiEa5Rw%3D&ta
لاندی مراجع هم وګورئ: *په مخکې اوږده پرته لار: په افغانستان کې د ښځي پرعلیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تطبیق* ؛ د یوناما او د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنری دفتر (او. ایچ. سی. ایچ. آر) ګډ راپور ، د ۲۰۱۱ کال نومبر ؛ دغه راپور په لاندی پته موندلای شی:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/November%2023_UNAMA-OHCHR-Joint-Report-on_Implementation-of-EVAW-law_ENG.pdf
*په افغانستان کی د ناوړه دودونه او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق* ؛ د یوناما او (او. ایچ. سی. ایچ. آر) ګډ راپور ؛ د ۲۰۱۰ کال دسمبر ، په دی پته موندلای شی: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Publication/Harmful%20Traditional%20Practices_English.pdf

*چوپتیا خشونت دی: په افغانستان کی د ښځو پر حقونو تیری ته خاتمه ورکړئ* ؛ د یوناما او (او. ایچ. سی. ایچ. آر) ګډ راپور ؛ د ۲۰۰۹ کال جولای ، په دی پته موندلای شی: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/human%20rights/vaw-english.pdf

[٤] دافغانستان اسلامی جمهوریت د ۲۰۰۹ کال اګست ۱ نیټه ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون وګورئ ، د یاد قانون (۵) ماده د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی ۲۲ جرمی اعمال ټاکلي چه هغه عبارت دي له: جنسی تیری ، فحشأ ته مجبورول ، د مجنی علیها د هویت ضبطول او ثبتول او دهغه خپرول په داسې توګه چې دهغې

لپاره دښځو پر وړاندی تاوتریخوالی او بد عنعناتو په شمول کم عمر کې ودونه ، واده ته مجبور کول یا منع کول ، ځان سوځونی ته مجبورکول او ۱۹ نور د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی اعمالو په شمول جنسی تیری او وهل په قانونی توګه جرمی اعمال و پیژندل شول.[٥] دغه قانون د پورته ذکر شوو جرمی اعمالو مرتکبینو لپاره مجازات وټاکل.[٦] د افغانستان حکومت د هغه نړیوالو بشری حقونو قراردادونو پربنسټ چه غړیتوب یی لری ،[٧] مکلفیت لری چه په افغانستان کې د قانون پروړاندی ښځو برابری او د یوشاندی قانونی مصؤونیت تضمین کړي.[٨]

یوناما ، د افغانستان حکومت او نړیوالو همکارانو لخوا د ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو لپاره په توکیو کنفرانس کې د ښځو پر وړاندی د خشونت د منع د قانون د تطبیق دوری د ارزونې ملاتړ کوی.[٩] دغه قانونی امر د افغانستان د ټولنې په هر برخه کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی مخنیوی او د ښځو حقونو سره همکاری کوی. ناوړه دودونه او د ښځو او نجونو پرعلیه تاوتریخوالی د اوږد مهال له پاره په ټولنیز ژوند کې د هغوی د ګډون مخنوی کړی او په پریکړو کې ، سیاسی او سولې مذاکراتو کې د هغوی د غږ نه اوریدو سبب ګرځیدلی. د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون په تطبیق کې پرمختګ د ښځو بشری حقونو

---

شخصیت ته زیان ورسوي ، اور ورته کول یا دکیمیاوي ، زهری او یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالول ، ځان سوځولو یا ځان وژنې او یا د زهري موادو یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالولو ته مجبورول ، مجروحول یا معلولول ، وهل او ټکول ، دواده په منظور یا بهانه پیرل او پلورل ، په بدو کې ورکول ، اجباي نکارح ، دواده له حق او یا د زوج د غوره کولو له حق څخه منع ، دقانوني سن له بشپړیدو دمخه نکاح ، ښکنځلې ، تحقیر او تخویف ، ځورول(ازارول او اذیت)، اجباری یوازې پرېښودل(انزوا)، دمخدرو موادو اعتیاد ته دښځې مجبورول ، په ارث کې له تصرف څخه منع کول ، په شخصی مالونو کې له تصرف څخه منع کول ، دښوونې او تحصیل ، کار او روغتیایی خدمتونو د لاسرسۍ له حق څخه منع کول ، اجباری کار ، دمدني قانون په (۸۶) ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو پرته ، له یوې څخه له زیاتو ښځو سره واده کول ، دقرابت نفي کول. (۲) ماده ، د یاد قانون موخې بیانوی چه عبارت دي له: دښځې دشرعی او قانوني حقوقو تأمینول او دانسانی کرامت ساتل ، دکورنۍ دسلامت ساتل او د ښځې پرعلیه د تاوتریخوالي مسبب داسلام دسپیڅلي دین دحکمونو مغایردود ، دستور او عادتونو پر علیه مبارزه ، دتاو تریخوالی مجنی علیها (زیانمنې شوې ښځې) یا تاوتریخوالي ته د مخامخې ملاتړ ، د ښځې پرعلیه له تاوتریخوالی څخه مخنیوی ، دښځې پرعلیه دتاوتړیخوالی په هکله دعامه پوهاوی او زده کړې تأمینول ، دښځې پرعلیه د تاوتریخوالي دجرم دمرتکب عدلی تعقیبول. د یادونې وړ ده چه د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون پولیس مکلف کوي چې د ښځې پرعلیه د تاوتریخوالی قضیه ثبت کړی ، دقانون پراساس رسیدګې وکړي او دقضیی د اړوند اجرااتو څخه د ښځو چارو وزارت ته معلو مات وکړي ، د ښځي پرضد د تاوتریخوالی قضیی د مجنی علیها څخه ملاتړ ، د فردی حقونو او ازادی ساتل ، د جرمونو کشف او تحقیق او دوی پر وړاندی مباره د پولیس دندي په توګه زیات حمایت کړي. یاد قانون د افغانستان دولت مکلف کوی چې د قربانی څخه حمایوی او حفاظتی اعمال ترسره کړي. دغه قانون د اوو وزارتونو لپاره ځانګړی مکلفیتونه ټاکلي او د ښځو پر علیه د خشونت د منع عالی کمیسیون رامنځته کیدل تصریح کړي. یاد کمیسیون ټولو ۳۴ ولایتونو والیانو ته مکتوب واستول چی د ولایت په کچه هم داشاند کمیسیونونه چه مرکزی کمیسیون ته تابع اوسی ، رامنځته کړي. دپولیس قانون (۵) او (۲۶) مادې وګورئ ، دجزائی اجرااتو مؤقت قانون (۲۹) ماده (۲) بند او دښځو پرعلیه خشونت د منع قانون (۷) ماده او (۱۳) ماده وګورئ.

[٥] د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون وګورئ ، پورتنی ماخذ ۵ مه ماده.

[٦] د پورتنی ماخذ دریم فصل. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ۱۷ مه ماده ځانګړی جرایم لکه د جنسی تیرې جزا د جزا قانون ته راجع کوي. د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضایاو ته د رسیدګې په هکله د دولت ټول کارونه په شمول د: ۲۰۱۰م کالی کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع عالی کمیسیون او د هغه تابع کمیسیونونو رامنځته کول ، د ۲۰۱۰ م کال کې د اختصاصی څارنوالیو رامنځته کول ، ۲۰۱۱ م کال کې د ښځو حمایوی مرکزونو مقرره ، د حقوقی مرستو مقرره ، د فساد له منځه وړلو کې د جمهوری ریاست ۴۵ ګڼه فرمان ، د ملی پولیسو په تشکیل کې د فامیلی شخړو د حل واحد رامنځته کول او یوشمیر زیاتو وزارتونوکې د جندر او د بشر دحقونو اداري رامنځته کول. د ۲۰۱۳م کال اپریل میاشت کې کورنیو چارو وزارت ' دافغانستان ملی پولیسو له پاره ۱۰ کلن لید لوری ۱۳۹۲-۱۴۰۲ خپور کړ. د دغه برنامې د موخو څخه یو هم راتلونکو لسو کلونو کې په افغان ملي پولیسو کې د ښځینه پولیسو کچه ٪۱۰ سلنه ته زیاتول. دوهمه موخه د یاد لیدلوری ، د کورنیو چارو وزارت ښځینه کارمندانو د زوروني مخنیوی. دافغانستان اسلامی جمهوریت دملی پولیسو لید لوری په دغه ادرس لیدلي شئ:

http://moi.gov.af/fa/page/5718/5729

[٧] د افغانستان دولت د لاندنیو نړیوالو معاهدو سره یوځای شوی: د نژادی تبعیض ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون ، دښځو پروړاندی د هرډول تبعیض له منځه وړلو کنوانسیون ، د شکنجې ، غیر انسانی او ظالمانه جزا ګانو د منع کنوانسیون او د سیاسی او مدنی حقوقو نړیوال میثاق.

[٨] د سیډا کمیټی عمومی سپارښتنی (CEDAW Committee General Recommendation No. 19, 11th Session, 1992) په لاندی پته وګورئ:

http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/recommendations/recomm.htm

د سیډا کمیټی عمومی سپارښتنی (CEDAW Committee General Recommendation No. 30, UN Doc. CEDAW/C/GC/30, 18 October 2013) هم په لاندی پته وګورئ: http://www.ohchr.org/Documents/HRBodies/CEDAW/GComments/CEDAW.C.CG.30.pdf

د ښځوپروړاندی د تاوتریخوالی په اړه د ملګرو ملتونو د عمومی اسمبلی اعلامیه (UN General Assembly Declaration on Violence against Women, 1993, UN Doc. A/RES/48/104. Article 4(C)) داسی وایی: دولتونه باید دی ته پام وکړی چی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د اعمالو څخه مخنیوی کوی د ارتکاب په صورت کی د هغوی پلټه کوی او د ملی قوانینو له مخی مرتکبینو ته یی جزا ورکوی ، که څه هم دغه عمل د دولت له خوا تر سره شوی وی او یا هم د یو شخص له خوا.

[٩] دافغانستان او جاپان استازو لخوا دملګرو ملتونو سرمنشی ته د ۲۰۱۲ کال د جولای ۹ نیټی مکتوب (UN Doc. A/66/867-S/2012/532, Annex II) چې د توکیو دوه اړخیز حساب ورکولو چهار چوب په هلکه لیکل شوی په لاندی پته وګورئ:

http://www.peacewomen.org/assets/file/SecurityCouncilMonitor/Reports/Afghanistan/unama_s2012_532.pdf.

پیژندلو کې مرسته کوی او همدارنګه ښځو ته توانائی ورکوی چه د خپل هیواد په سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز پرمختګ کې مهم قانوی رول ترسره کړی.

دغه راپور د تیرو ۱۲ میاشتو په موده کې د کابل او هرات ولایتونو سربیره د افغانستان په ۱۶ ولایتونو کې د قضاء او قانون پلی کوونکو اداراتو لخوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په برخه کې پرمختګونه او تشې په ګوته کوي[۱۰]. د ۱۶ ولایتونو څخه د یوناما له خوا د ترلاسه شویو قضیو دغه نمونې دا ښکاره کوی چه یادو ولایتونو کې د پولیسو او څارنوالانو لخوا د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی ۶۵۰ قضیی ثبتی شوی دی چی له دی جملی څخه د څارنوالانو له خوا یواځی ۱۰۹ قضیی (٪۱۷) او ۶ د محاکمو لخوا ۶۰ قضیی د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پربنسټ فیصله شوې. د یوناما په تیر ځل راپور کی (د ۲۰۱۱ د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پوری) په همدغه یادو ۱۶ ولایتونو کې د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی ۴۷۰ قضیې ثبت شوې وې ، د هغه جملې څخه څارنوالانو یواځی په ۷۲ قضیو (٪۱۵) کی د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون کارولی او یوازی د ۵۲ قضیو په پریکړو کی محکمی یاد شوی قانون کاولی وو. د یوناما د تیری دوری د موندنو په شان په اوسنۍ دوره کی هم د ثبتو شویو قضیو په منځ د د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی له ډولونو څخه د وهلو او ټپی کولو جرم[۱۱] له ټولو نه زیات رایج وو.

دغه راپور موندلی چې که څه هم د قضیو په ثبت کې ۲۸ سلنه زیاتوالی راغلی مګر د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون له مخی فیصلی یوازی ۲ سلنه زیاتی شوی دی. په روان کال کی محاکمو په خپلو پریکړو کی دغه قانون ۶۰ سلنه عملی کړی دی (د ښځو پر واندی د تاوتریخوالی د ۱۰۹ ثبتی شویو قضیو ۵۵ سلنه) د تیر کال د ۵۲ پریکړو (د ښځو پر واندی د تاوتریخوالی د ثبتی شویو قضیو ۷۲ سلنه) په پرتله ، په روانه دوره کی دغه رقم د محاکمو په پریکړو کی د د دی قانون په کارولو کی ۱۷ سلنه زیاتوالی ښیی. د اندیښنی وړ خبره دا ده چی د جنایی قضیو د پریکړو شمیر چی د څارنوالانو له خوا د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی او نافده قوانیونو له مخی ثبت شوی دی په روان کال کی کم شوی دی سره د دی چی د راپور شویو قضیو په ثبتولو کی زیاتوالی راغلی دی.

د دغه یوکال څخه بل کال پوری موندنو پربنسټ ، یوناما موندلی چه د پولیسو او څارنوالانو لخوا د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضیو په ثبتولو کی زیاتولی د یادو قضیو ته د څارنوالانو او محاکمو لخوا د ښځوپرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پربنسټ رسیدګي سره سمون نلری. دا ښکاره کوی چه څاروالان او محاکم لازمه منابع نه درلودی چی د قضییو

[۱۰] هغه شپاړس ولایتونه چی د پولیس ، څارنوالی او محاکمو څخه چی د دغه اوسنی راپور لپاره او هم د ۲۰۱۲ کال راپور لپاره د جزیاتو سره امار ترلاسه شوي عبارت دي له: بامیان ، دایکندی ، پروان ، کاپیسا ، ننګرهار ، کنړ ، لغمان ، جوزجان ، سمنګان ، بدخشان ، خوست ، پکتیا ، پکتیکا ، فراه ، بادغیس او غور. د اړونده دولتی ادارو څخه په منظمه توګه د معلوماتو راټولولو سیستم د نشتون له کبله او ځینو ولایتونو ته د امنیتی ستونزو له کبله لاس رسی ناشونی وو ، نو له همدی کبله د ۳۴ ولایتونو څخه یواځی د دیادو ۱۶ ولایتونو معلوماتو پر بنسټ دا راپور جور شوی. د یاد ۱۶ ولایتونو څخه ، چی د دغه راپور او تیر کال (۲۰۱۲) راپور لپاره ، د یوناما لخوا جمع شوی امارو څخه کابل او هرات حذف شوي ؛ ځکه چې دغه دوه ولایتونو کې د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون په پراخه کچه تطبیق شوي او د نورو ولایتونو څخه یو متفاوت روند بیانوي. هرات او کابل په جدا توګه په ۲۴ مخ کې تر مطالعې لاندی نیول شوي. هغه ۱۶ ولایتونه چه د امنیتی ستونزو یا یو منظم معلوماتو جمع کولو نشون له کبله او یا هم د دواړو عواملو له کبله یوناما ونشو کړای معلومات جمع کړي عبارت دي له: بلخ ، بغلان ، فاریاب ، غزنی ، هلمند ، کندهار ، کندز ، لوګر ، میدان وردګ ، نیمروز ، نورستان ، پنجشیر ، سرپل ، تخار ، اروزګان او زابل.
[۱۱] پوتنی ۴ پایلیک ، د ښځوپرعلیه د خشونت د منع قانون ۲۳ ماده وګورئ.

راجستر کولو ته ادامه ورکړی او په نتیجه کې د قضا څخه بهر د منځګړتوب له لاری حل کړی او یا هم څارنوالانو په عمدی توګه داسی پریکړه کړی چې ډیری قضیې د منځګړیتوب له لاری حل شی نسبت دی چه عدلی تعقیب لپاره محاکمو ته واستول شي.

یوناما مشخص کړی ، پداسی حال کې چی د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پراساس دا یو ښکاره بدلون دی مګر پایله به ئی د افغان ښځو له پاره ترهغه ډیره ګټوره نه اوسی ترڅو چی د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضیې د پولیسو لخوا ثبت له وخته نیولی بیا تر څارنوالی او محاکمو لخوا دپریکړه کیدو تر مهاله په پراخه پیمانه اړوند معلومات راټول ، مقایسه او تحلیل نشی.

په دی موده کی په ۱۶ ولایتونو کی د افغان حکومتی چارواکو لخوا د ښځو پرعلیه تاوتریخوالی د منع د قانون پربنسټ په ۶۵۰ راجستر شوو قضیو کې ۲۸ سلنه زیادښت یو مثبت ګام دی مګر دغه زیادښت باید د ښځو چارو د ریاستونو د ثبت شویو قضیو پام کې نیولو سره چی د دغه ۱۶ ولایتونو له جملی څخه له ۱۵ ولایتونو څخه ۱۰۱۹ قضیې ثبتی کړی دی وارزول شی[12] ؛ د ښځو چارو ریاست د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ۱۰۱۹ قضیې ثبتی کړی په داسی حال کی چی پولیسو او څارنوالی په ګډه ۶۵۰ قضیې ثبتی کړی دی.[13] دغه تشه دا ښکاره کوی چی د افغانی ښځې (او دهغوی کورنۍ) لاهم زړه نه ښه کوی چه خپل شکایت پولیس او څارنوالی ته وړاندی کړي.[14]

بله ملاحظه دا ده چی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د ۱۶۶۹ (۱۰۱۹+۶۵۰) قضیو په مقایسی سره چی په یاد شوی ولایتونو کی د ښځو چاورو د ریاستونو ، پولیسو او څارنوالانو له خوا ثبتی شوی دی ، یوناما دا په ګوته کړی چی یوازی ۱۰۹ قضیې (۷٪) د قضایې مراجعو له لاری د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون پر بنسټ فیصله شوی دی. دغه رقم دا ښیی چی د اوسنی دوری په بهیر کی په دغو ۱۶ ولایتونو کی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د مرتکبینو په عدلی تعقیب او محاکمه کی په مجموعی ډول د دی قانون د کارولو کچه لا هم ټیټه پاتی ده.

د نورو ولایتونو په مقایسی سره ، یوناما په هرات ولایت کې د ښځو پروړاندی د تاوتریخوالی راپور شوی ډیری قضیې او دښځو پرعلیه تاوتریخوالی د منع د قانون پربنسټ حل شوی قضیې لیدلی. که څه هم چی د دی راپور په موده کی یوناما دا په

---

[12] دافغانستان ټول ۳۴ ولایتونه د ښځو چارو ریاست لري. د ښځو چارو ریاستونه ، د ښځوچارو وزارت ته راپور ورکی. د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون پربنسټ د ښځو چارو ریاستونه لمړنۍ مرجع ده هغه ښځو له پاره چه غواړی په وړاندی ئی ترسره شوی تاوترریخوالی راپور ورکړی.
[13] د ۱۶ ولایتونو څخه د۱۵ ولایتونو معلومات چه دغه راپور له پاره جمع شوي ، د دغه راپور مودی پوری محدود ده. یوناما ته دا معلومه نشوه چه دیاد ۱۵ ولایتونو دښځو چارو ریاست لخوا وړاندی شوی معلومات ، آیا دهغه معلوماتو سره یوشان دي چې د پولیس او څارنوالی لخوا وړاندی شوی یا متفاوت دي.
[14] دافغانستان قوانینو پر اساس ، د قانون تنفیذ کوونکو اداراتو ته دفامیلی قضایاوو خبر ورکول د متضرر صلاحیت دی. دافغانستان دبشری حقوقو خپلواک کمیسیون او د ښځو چارو ریاست ، یواځی دمتضرر شخص په رضایت سره کولای شی چه فامیلی قضیه پولیس او څارنوالی ته واستوی. پورتنی ۴ فوت نوت ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ۳۹ ماده داسی حکم کوی: د دغه قانون ۲۲ مادی څخه تر ۳۹ مادی دجرایمو اړوند قضایاو ته رسیدګی او عدلی تعقیب د مجنی علیها یا دهغه/هغې وکیل پواسطه صورت مومی ، هغه موارد چې شکایت کوونکې ښځې نشی کولای دخپل شکایت څخه منصرف شی ، دښځو پرعلیه دتاوتریخوالی د منع قانون دریم فصل ۱۷- ۲۱ مادو کې بیان شوي چې عبارت دلي له: جنسی تیری ، فحشأته مجبورول ، دمجنی علیها دهویت ضبطول او ثبتول او دهغه خپرول په داسی توګه چې دهغې شخصیت ته زیان ورسوي ، اور ورته کول یا دکیمیاوی ، زهری او یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالول ، ځان سوځولو یا ځان وژنې او یا دزهری موادو یا نورو زیان رسوونکو موادو استعمالولو ته مجبورول.

ګوته کړی چی په هرات ولایت کی د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د قضیو د ثبتولو ، عدلی تعقیبولو ، او محاکمه کولو کچه لیږ راټیټ شوی ، خو سره د دی هم د هرات ولایت د ښځوچارو ریاست لاهم نسبت بل هر ولایت ته د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی زیات شمیر قضیی ثبت کړی دی. د هرات ولایت څارنوالی او پولیس په ګډه سره د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی ۴۰۵ قضیې ثبت کړی نسبت تیر ځل راپور معیاد ته چه ۴۳۲ قضیی ثبت کړی وی چی ډیر لږ (٪۷) کمښت ښکاره کوي. دوه ځلوییښت سلنه (د ۴۰۵ څخه ۱۷۲ ) قضیی محاکمو ته استول شوي دي چه دی کې هم کمښت راغلی. اکثره نوری قضیی د رسمی یا غیر رسمی منځګړیتوب له لاری حل شوي.

په کابل ولایت کې که څه هم د څارنوالی لخوا د راپور شوو قضیو په ثبتولو کې نسبت تیر ځل ته زیادښت لیدل شوی مګر محاکمو ته د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع قانون پر بنسټ د قضیو استول په خپل حالت باقی پاتی دی. د دغه راپور په موده کې د کابل پولیسو لخوا د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی راپور شوی ۲۵۵ قضیی راجسترشوي چه د هغه جملې څخه ۸۴ (٪۳۳) څارنوالی ته استول شوي. د کابل څارنوالانو د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی ۹۶۸ قضیی راجستر کړی چه ۲۰۵ (٪۲۱) قضیی محاکمو ته استولي. د قضیو دغه نمونه دا څرګندوی چی پداسی حال کې چه ډیرو ښځو د تاوتریخوالی قضیی ثبت کړی مګر د عدلی او قضایی ادارو لخوا د قضیو د حل اندازه په همغه کچه پاتی ده کومه چې د تیر راپور یوکال موده کې ترلاسه شوې وه.

دغه راپور دا هم موندلی چی په اته ولایتونو کی د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع د اته اختصاصی څارنوالیو[15] شتون د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د قضیو د ثبتولو د کچی په زیاتوالی کی مثبته اغیزه درلود. په څو ولایتونو کی د ثبت شمیر جګ و مګر دغه جګوالی په عمومی ډول د ولایت مرکز پوری محدود و.

یوناما دا په ګوته کوی چی د ټولنیزو ستونزو او فرهنګی محدودیتونو ، د ښځو پر وړاندی تبعیض (چی د دوی په وړاندی د تاوتریخوالی لامل ګرځیدلی) ، د ټولنیزی رسوایی یا محرومیت له ویری ، او کله هم د عچ اخستنی یا د مرګ د تهدید له کبله لا هم د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ډیری قضیی راپور نه ورکول کیږی ، په ځانګړی توګه په کلیوالو سیمو کی. هغه قضیی چی د قانون پلی کوونکی ادارو یا عدلی او قضایی ارګانونو ته راجع کیږی او یا د عامو پام وړ ګرځی د دغه راز زرهاوو قضیو یوه ټیټه سلنه منعکس کوی.[16]

[15] بلخ ، هرات ، بدخشان ، ننګرهار ، پروان ، کاپیسا ، بامیان او کابل هغه ۸ ولایتونه دی چی پکښی د ښځو پر علیه د خشونت د منع اختصاصی څارنوالی شتون لري.

[16] د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر د ۲۲ څخه د ۲۰۱۳ کال د مارچ تر ۲۱ پوری د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی ۲۶۶۹ پیښی او همدارنګه د ۲۰۱۳ کال د مارچ د ۲۲ څخه د همدی کال د سپتمبر تر ۲۱ پوری ۴۱۵۴ پیښی ثبت کړی دی چی د ۲۰۱۲ د اکتوبر څخه د ۲۰۱۳ تر سپتمبر پوری (د دغه راپور په موده کی) د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کی د دغو پیښو ټول شمیر ۶۸۲۳ ته رسیږی. د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا معلومات د هجری شمسی کال د هر شپږو میاشتو په موده کی راټولیږی. د کمیسیون په کارول شوی میتودولوژی کی چی د ۶۸۲۳ شمیر لاس ته راغلی دی د تاوتریخوالی ټولی ثبت شوی قضیی شامل دی. که چیری یوې ښځې داسی راپور ورکړی وی چی د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د څلورو سرغړونو سره مخ شوی دی ، کمیسیون دغه شکایت د تاوتریخوالی دڅلورو پیښو په توګه ثبت کړی دی.

سره لدی چه د ستری محکمې او لوی څارنوالی لخوا احکام صادر شوی دي خو بیا هم د عدلی تعقیب ، حبس او ناوړه چلند اوس هم د هغو ښځو او نجونو په وړاندی دوام لری چی له کور څخه تیښتی او بیا د اقدام په زنا تر عنوان لاندی نیول کیږی.[۱۷] د بیلګې پتوګه: ستری محکمې د ۲۰۱۲ مارچ او ۲۰۱۳ مارچ میاشت په موده کې په دریو ولایتونو کی ۲۸۳ تنه (اکثره ښځې) د ''اقدام په زنا'' او ۷۱ تنه د'' د کور څخه د تیښتی/اقدام په زنا'' په تور ثبت او محاکمه کړي. تخار ولایت کې محکمی ۴۸ ښځې او پیغلې نجونې د''اقدام په زنا/ د کور څخه د تیښتی'' په تور محاکمه کړي.[۱۸]

د یوناما موندنو وښودله چې د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون پربنسټ راجستر شوېو زیاتو قضیو کې پولیس منځګړیتوب کاوه او زیات شمیر قضیی د ستونزو د حل عنعنوی جوړښتونو (جرګه او شورا) د لاری حل شوي. منځګړیتوب او د منازعو عنعنوی حل جوړښت قضایاوی د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون څخه منحرف کوی او مرتکب ته د افغانستان جزا قانون او د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون پراساس مجازات نه ورکوي.[۱۹] د محلی نظارت له لاری یوناما لیدلی چه په عمل کې د پولیسو لخوا د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضایاوی منځګړیتوب ښځی هڅوی چه د رسمی عدلی سیستم څخه بهر خپل قضیه حل کړي ، چه بیا هلته ښځې د رسمی شکایت ثبت کولو لپاره ستونزو سره مخ کیږې. د منځګړیتوب په ډیرو بیلګو کې مرتکب ، د مرتکب کورنۍ او بانفوذ اشخاص خبرو اتر غوښتنه کوي او ښځو باندی زیات فشار راوړی چه خپل شکایت بیرته واخلی.

د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون منځګړیتوب ته مراجعه نه کوی بلکی ښځې ته اجازه ورکوی چه په هره مرحله کې خپل شکایت واخلی چه دا په عمل کې منځګړیتوب سره مرسته کوي.[۲۰] پداسی حال کې چه د افغانستان قانون کې هیڅ داسی کومه ځانګړی ماده نشته چه د منځګړیتوب دلاری د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضیی (یا هر بل جرم) د حل پروسه تنظیم کړي ، په منځګړیتوب عنعنوی لحاظه تاکید کیږی. منځګړیتوب د پولیس ، څارنوالانو ، محاکمو ، دښځو دچارو ریاست ، او د شورا ، جرګه او په قضیه کې هر بل ذیدخله لوری لخوا په خاصو مواردو کې استفاده کیږي.[۲۱] یوناما ، زیات شمیر داسی قضایاو بیلګی لیدلی چه دجدی جرایمو په شمول د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضایاوو کې دستونزو سنتی حل

[۱۷] یوناما د خپل نظارت له لاری موندلی چې نجونې په هر دلیل خپل کور څخه فرار کوي د افغانستان جزا قانون ۴۲۷ مادی د تفسیر پراساس چه د مشدده حالاتو په ګډون د 'اقدام په زنا' جرم محاکمه کیږی. د 'اقدام په زنا' د تفصیل په هکله ۵ . ۳ برخی ته او همدارنګه ۷۹ پای لیکی ته مراجعه وکړئ.

[۱۸] د یوناما د ساحوی نظارت مرکه ، ، د ۱۳ ۲۰ اکتوبر ، کندز ساحوی دفتر.

[۱۹] د مثال پتوګه پورته (ن. ا. ک.) ۲۴ کلنه ښځه چې ننګرهای ولایت کې د کورنۍ تاوتریخوالی قربانی ده ، وګورئ. یوناما د دغه راپور په موده کې د ساحوی نظارت په بهیر کې ډیری داسي قضایاوی لیدلي. همدارنګه د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون او په دریمه برخه کی ۴ پای لیکه وګورئ چې د جنسی تیری په ګډون شدید جرمونه فهرست کړي (۱۷-۲۱ مادې) چې مجازات لرونکي دي. د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون د ۱۷می مادې پراساس د جنسی تیری جرم لپاره مجازات د جزا قانون ۴۲۶ می مادې ته راجع کیږی ، پداسی حال کې چې د یا د قانون ۱۸-۲۱ موادو کې جرایمو له پاره په خپله د ښځو پرعلیه د خشونت په قانون کې مجازات ټاکل شوي.

[۲۰] دښځو پرعلیه دتاوتریخوالی منع قانون ۳۹می ماده ۲مه فقره چې په دي اړه داسی حکم کوی: مجنی علیها کولی شی ، د دی مادی په ۱ فقره کی په درج شوو مواردو کی ، د عدلی تعقیب په هر پړاو (کشف ، تحقیق ، محاکمه ، یا محکومیت) کی له خپل شکایت څخه تیره (منصرفه) شی ، پدی صورت کی د دعوا څیړل او د جزا تطبیق درول (متوقف) کیږی.

[۲۱] د ښځو پرعلیه د خشونت د منع قانون د ۷می مادی د ۲می فقری له مخی چارواکی (پولیس ، څارنوالی او نور) مکلف دي چې د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی هر شکایت ثبت او داړوند قانون پربنسټ عمل وکړی. پورتنی ۴ پایلیک د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په اړه وګورئ. سره لدی دکورنۍ وحدت لپاره چی د اساسی قانون ۵۴ ماده کې تأکید شوی او د قضایاو حل ته د منځګړیتوب له لاری د فرهنګی ملاحظاتو پر بنا ترجیح ورکړ شوی. لاندینی ۴۸ پایلیک وګورئ.

جوړښت دافغانستان جزا قانون ، دښځو پرعليه دتاوتريخوالی منع قانون او جزايي اجرااتو تطبيق کې پاتی راغلی. همدارنګه يوناما ليدلی چه اکثرا دمنځګړيتوب دلاری دپريکړو وروسته داړوند مسؤول اشخاصو لخوا دپريکړو د تطبيق په موخه يو منظم نظارتی جوړښت نشتون د دی سبب ګرځيدلی چه پريکړی او موافقې په مناسب ډول عملی نشی او حتی زيات وخت دلازيات تاوتريخوالی سبب وګرځي.

همدارنګه يوناما ليدلی چی په اکثر ولايتونو کې دښځو پرعليه دتاوتريخوالی منع کميسيون تراوس مهال بشپړه توګه فعال ندي. سره لدی چې دښځو پرعليه دتاوتريخوالی منع قانون پراساس ياد کميسيون مهم رول او اختيار لری چه خپل اړوند ساحه کې د ښځو پر وړاندی تاوتريخوالی ته د رسيدګی فعاليتونه همغږی کړي او کولای شي چې په کابل کې ښځو پرعليه د خشونت د منع عالی کميسيون او نړيوالو همکارانو دملاتړ څخه برخمن شي.[۲۲]

يوناما د ښځو پرعليه د خشونت منع قانون د تضعيف په هکله اخرنيو کوښښونو په اړه خپلو اندېښنو باندی تاکيد کوي. د ۲۰۱۳ م کال می مياشت کې دښځو پرعليه دتاوتريخوالی منع قانون هغه موادو چه د ښځو اجباری او کم عمر ودونه منع کوی او ځينی نورو موادو باندی ، په پارلمان کې بحث وشو. پارلمان کې د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون ياد مواد د پارلمان (ولسی جرګی) د ځينو محافظه کاره غړو لخوا غير اسلامی وګڼل شو او د يادو موادو د حذف کيدو غوښتونکي شول.[۲۳]

د ۲۰۱۳م کال جولای مياشت کې ، افغانستان د ښځو پر وړاندی د ټولو تبعيضونو د له منځه وړلو نړيوالې کمېټې پر وړاندی حضور پيداکړ ؛ ترڅو د ښځو پر وړاندی د ټولو تبعيضونو له منځه وړلو کنوانسيون تطبيق په هکله دافغانستان لمړنی راپور وړاندی کړی. پداسی حال کې چه ياده کميټې ، د ۲۰۰۱ کال څخه راپديخوا د ښځو د حقونو څخه د ملاتړ په برخه کې ؛ د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون ، نورو قوانينو چی د ښځو د حقونو څخه ملاتړ کوی ، او د ښځو پر وړاندی د خشونت د منع او د ښځو د حقونو د تقويت په لارکې د مدنی ټولنی د مثبت رول په شمول د افغانستان لاسته راوړنی وستايلې.[۲۴] دغه کميټه د پارلمان لخوا د قانوني چارچوب وړانديز چه د ښځو پرعليه د خشونت د منع قانون تضعيف سبب ګرځی خپله اندېښنې څرګنده کړی او همدارنګه د ښځو پروړاندی د تاوتريخوالی دوامدارو راپورونو په هکله او د مرتکبينو معافيت په هکله هم خپله اندېښنه بيان کړه.[۲۵]

---

[۲۲] دښځو پرعليه د خشونت د منع عالی کميسيون داسی يو نهاد دی چې د ښځو پرعليه د خشونت د منع ولايتی کميسيونونو څخه نظارت کوی.

[۲۳] هغه مسائل چه غير اسلامی وګڼل شول عبارت دي له: دقانونی سن بشپړيدو د مخه نکاح ، اجباری نکاح ، ښوونې ، تحصيل ، روغتيائی او دښځو حمايوی مرکزونو ته پرته دقيد او شرط لاس رسی.

[۲۴] دښځو پرضد د تبعيض دټولو شکلونو د له منځه وړلو (سيډا) کميټی د افغانستان په اوه د دغه کميټی لومړنی او دويمی راپور اخرنی ملاحظی (CEDAW/C/AFG/CO/1-2, 23 July 2013, paras. 10 and 11,) په لاندی پته وګوئ:

http://www.refworld.org/pdfid/51ff5ac94.pdf [hereinafter “CEDAW Concluding Observations”]

[۲۵] دسيدا اخرنی ملاحظی.

په مجموعی توګه دیوناما موندنې ښکاره کوي ، چه د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون تطبیق په برخه کې د لاسته راوړنو د پراختیا په موخه باید د افغانستان دولتی چارواکي لازيات اقدامات ترسره کړي. دښځو او نجونو پروړاندی یواځنې لاره چه د تاوتریخوالی څخه په بشپړ توګه مصؤونه اوسی هغه د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون دی ، چه په دوامداره او منظمه توګه د قضایی او قانون پلی کوونکو اداراتو لخوا تطبیق شي.

یوناما تأکید کوی ، چه پولیسو ، څارنوالی او محاکم لازیاتو منابعو ، سیاسی او تخنیکی ملاتړ او لارښودونو ته اړتیا لری ترڅو دښځو پرعلیه د تاتریخوالی قضیی جی راپور ورکول او ثبتول یی مخ پرزیاتیدو دی ، لکه چی په دی راپور کی مستند شوی په مناسبه توګه رسیدګی وکړی. دغه ډول ملاتړ چارواکو ته توانائی ورکوی چه د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون له مخی خپل مکلفیتونه ادا او خپلې دندی په ډیره ښه ډول ترسره کړي.

د عدالت لپاره د افغان ښځو مخ زیاتیدونکی اړتیا د چی د تاوتریخوالی پیښو راپور ورکوی دی لامل شوی چی د پولیسو ، څارنوالیو ، او محاکمو لخوا د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د قضایاو د ثبت کچه هم زیاته شی. اوس دا یو واضح خبره ده چی عدلی او قضایی چاوراکو باید دغه قانون چی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی سره د مبارزی لپاره نافذ دی ، عملی کړی او د ښځو پر وړاندی د سرغړنو مرتکبین عدلی تعقیب کړی او عدالت ته یی وسپاری. بیا نو دا هغه وخت دی چی عدالت ته د افغانو ښځو غوښتنو ته ځواب ویل کیږی او افغانستان کولای شی چی د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د له منځه وړلو په لور خپل اوږده لار ته دوام ورکړی.

## ۱.۱. سپارښتنی

د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون تقویت او بهبود په موخه ، یوناما خپلو مخکنیو دوه راپورونوکې ۷۱ وړاندیزونه وړاندی کړي. یواځی څلو وړاندیزونه د حکومت لخوا تطبیق شوي او ۲۰ وړاندیزونه قسما تطبیق شوي (لمړی شمیره ضمیمه وګورئ). د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق په اړه مخکنیو وړاندیزونو ورو تطبیق دلیل شاید چه حکومت کې د لازمو منابعو او ظرفیت نشتون اوسی ، یا هم د ښځو د حقونو په اړه په مختلفو سطحو کې د ځینو افغان چارواکو عدم علاقمندی اوسي.

په تیرو وړاندیزونو باندی بیا ځلی تاکید او کن شمیر نوی وړاندیزونو په وړاندی کولو سره ، یوناما د افغانستان حکومت څخه غواړی چه دخپلو حقوقی ژمنو سره سم دښځو پروړاندی تاوتریخوالی او ناوړه دودونو دمخنوی په برخه کې او دلاندنیو لنډمهال او وږدمهال کړنو په ترسره کولو کې کوښښ وکړي.

**لندمهال سپارښتنې**

- دحکومت د لوړې سطحي سیاسی ملاتړ او نظارت څخه په استفادی سره ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع ولایتي او مرکزی کمیسیونونه دی تقویت شي ، ترڅو وکولای شي دښځو پرعلیه تاوتریخوالی ته په همغږی سره رسیدګی وکړی او څرنګه چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون کې تصریح شوي همغه شاندی فعالیت وکړي. دیاد کمیسیونونو سره دهمکاری او معلوماتو شریک کولو په موخه ، ټولو دولتی ارګانونوته واضح لارښودونه دي واستول شي.
- دلوی څارنوالی ۲۰۱۲ کال لارښود دي په بشپړ توګه عملي شي چه څارنوالان پدی مکلف کوي چې ښځې دی د کورڅخه د تیښتی په خاطر عدلی تعقیب لاندی رانولی. همدارنګه هغه نوی قضایاوی چه ښځې د کور څخه د تیښتی (یا اقدام په زنا) له کبله زندانی شوې ، د ستری محکمې ، لوی څارنوالی او عدلیی وزات استازو څخه د ګډ هیئت لخوا دیو ټاکلی مودی په بهیر کې بیاځلی بررسی شي او هغه ښځې چه بیګناه بدیانی شوي آزادی کړي شي.
- څارنوالانو ته دی لارښودونه واستول شي چه کوم ډول قضایاوی باید عدلی تعقیب شي او کوم ډول قضایاوی باید دمنځګړیتوب له لاری حل شی ، همدارنګه دټولو جدی جرایمو قضایاوی دي دعدلی تعقیب دلاری حل تضمین شي.
- د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د ثبتو شویو قضیو د منځګړیتوب د ښه مدیریت لپاره پولیسو او څارنوالانوته دي داسی واضح لارښودونه تیارشي چه هغه کې میتودولوژی ، معیارونه ، د منځګړیتوب له پاره حداقل اړتیاوی او د پیګیری میکانیزمونه بیان شی. دغه لارښودونه دي د منځګړیتوب څخه وروسته مسؤولیتونه چی په دوره ئی شکل او حداقل د شپږو میاشتو لپاره اوسی ، مشخص کړی او د هغې راپور ورکول دي اجباری کړي.

**اوږد مهال سپارښتنی**

- دشپږو میاشتو په موده کې دی یو عملی پلان جوړ شی چی په هغه کې د دوه راتلونکو کلونو له پاره د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون تطبیق پرمختګ وکړی او همغه ډول چې د سیډا کمیټې د ۲۰۱۳ کال په اګست کې توصیه کړي (۲ ضمیمه وګوئ) لاندینی تدابیر پکی شامل اوسی:
  - د پولیسو او څارنوالانو لخوا د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی قضیو د راپور ورکولو ، ثبت کولو ، تحقیق او عدلی تعقیب لپاره دي یو مناسب میکانیزم رامنځته شی او په هکله لارښودونه دی په دوره ئی ډول صادرکړي شي.

- ښځینه پولیسو ته دی معلومات او روزنه وکړ شی تر څو وکولای شی نورو ښځو ته بهتر خدمات وړاندی کړي ، او همدارنګه د فامیلی شخړو د حل او فصل واحد (د کورنی د غبرګون څانګه) د ښځینه پولیسو د پرسونل له حیثه په کافی اندازه تجهیز شی.
- د ستری محکمې لخوا دی داسی هدایات او نظارتی لارښودونه صادر کړی شی چې په هغه کې د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی قضیو ته د رسیدګی لپاره د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په الزامی توګه تطبیق شي.
- د قضیو د تعقیب او لازمه خدماتو د وړاندی کولو په موخه ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع ولایتی کمیسیونونو له پاره د وظایفو یوه مفصل لایحه او یوه روښانه لارښود په جوړلو ، د مالی منابعو او د روزنیزو پروګرامونو په طرح کولو کی دی زیاتوالی راولي.

- په مرکزی کچه دی د ښځو پروړاندی د تاتریخوالی قضیو د تعقیب په موخه یو کمپیوتری سیستم ته دی پراختیا ورکړی شي ، په دغه سیستم کی باید د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون څخه د سرغړونو او د قانون د پلی کوونکو او نورو اړوندو اداراتو لخوا ترلاسه شوی معلومات طبقه بندی شوی اوسی چه د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق څخه نظارت کوي. دغه سیستم باید وکولای شی چې ثبت شوی قضیی شمیر پیداکړی او اړوند عدلی او قضائی اجرات او نتیجی او عدلی تعقیبونی هم ښکاره کړی. په ځینو ولایتونو کې د بنسټیزو جوړښتونو په نشتون اعتراف وکړي او په فوری توګه د یو مرکزی سیستم رامنځته کیدو اقدام وکړی او ولایاتو ته د دغه سیستم پراختیا لپاره څرګنده برنامه تیاره کړي. اطمینانی کړی شی چه د یاد سیستم څخه ترلاسه شوی معلومات خلکو ته په واک کې ورکول کیږی.
- د قانون په تولو پلي کوونکو اداروو کې (افغان ملی پولیس ، لوی څارنوالی ، او محاکم) د ښځینه وو ګمارلو تسهیل شی ، کاری وضیعت دی ښځینه پولیسو له پاره ښه کړی شی. دا کار د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په تطبیق کې سرعت رامنځته کوی او لازیاتی ښځې دی ته هڅوی چې د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی قضیی ښځینه پولیسو ته راپور ورکړي.
- د دولتي ښځینه کارکوونکو د ساتنی لپاره د کار په چاپیریال کې د جنسی ځورونی (ازار او اذیت) پر وړاندی د نه زغم د پالیسی او نورو تدابیرو د طرح او پلی کولو له لاری د ساتنی میکانیزمونه دی رامنځته کړی شی.
- د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د مفهوم او همدارنګه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون د احکامو د پوهاوی په موخه ، د هغه دولتی اداراتو ظرفیت چه د یاد قانون د تطبیق په برخه کې کارکوی لوړ کړی شي. د څارنوالانو او پولیسو په درسي نصاب کې دی یاد قانون او د هغه قانون د تطبیق په برخه کې پرمختګونه چی د هر شپږو میاشتو د شاخیص پر بنسټ ارزیابی شي ، ځای ورکړي شي او دغه پرمختګونه دی عام راپور کړی شي.

- اطمینانی کړی شي چې په ټولو څارنوالیو کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع اختصاصی څارنوالی رامنځته شی ، کارکوونکي ئی په کافی اندازه وروزل شی ، حمایت شی او کافی منابع په واک کې ولري.

**نړیوالی مرستندویو هیوادونو ته سپارښتنی**

- دجنسی برابری ، د ښځو توانمنده کول ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون تطبیق ، د توکیو د اعلامیی د ژمنو او د ۲۰۱۳ کال په اګست کې د افغانستان په هکله د سیدا کمیټی وړاندیزونو د تطبیق په موخه ، ټول ستر مرسته کوونکي باید د افغانستان حکومت څخه زیات ملاتړ په پام کې ونیسي.
- د افغانستان حکومت لخوا د ښځو پرعلیه د تاوتریخوالی د منع قانون تطبیق او د افغانو ښځو او نجونو پرضد د تاوتریخوالی له منځه وړلو اړوند اقداماتو د ترسره کیدو پربنسټ مالی ملاتړ زیات شی او د یو ګډ نظارتی چارچوب تطبیق دلاری دغه اقداماتو کې پرمختګ باید د ځانګړو شاخیصونو پر اساس ارزیابی شي.

## ۲. زمينه/شرايط ۲۰۱۲-۲۰۱۳

د افغانستان څخه د نړيوالو ځواکونو د وتلو او په ۲۰۱۴ کال کې د جمهوري رياست د ټاکنو سره ډيرى افغاني ټولنو خپله اندېښنه او تشويش له دې امله څرګند کړى دى چې راتلونکې به څه ډول وي. د ښځو ډلو ، مدني ټولنو او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ د شاته تګ د زيات خطر د شتون او په افغانستان کې د ليږد په اوسني سياسي ، اقتصادي او امنيتي زمينه کې د ښځو حقونو ته د پاملرنې د کمښت په اړوند په جدي توګه اندېښنې څرګندې کړې دي.[۲۶]

يوناما په ۲۰۱۳ کال کې د ښځو د حقونو د ساتنې او ودې په لړ کې په ډيرو برخو کې منفي جريانونه په نښه کړې دي. په دې کې تقنيني انکشافونه او هغه نوي محدوديتونه چې په ځينو سيمو کې د اسلام څخه د ځانګړو تعبيرونو پر بنسټ ولاړ دي ، شامل دي. د بيلګې په ډول د بغلان د ولايت د ده صلاح په سيمه کې مذهبي عالمانو د ټولنې د محلي مشرانو سره يو ځاى يوه مذهبي فتوا صادره کړې چې له مخې يې ښځې د دې اجازه نه لري چې د محرم څخه پرته د خپلو کورونو څخه و وځي. د ۲۰۱۳ کال دجون په وروستۍ اونۍ کې هغوي په ښځو نور داسې بنديزونه ولګول چې نه شي کولاى د ارايش او سينګار دوکانونو ته ولاړې شي.[۲۷] د مزاکراتو وروسته ښځې اوس کولاى شي چې په ده صلاح کې د سينګار دوکانونو ته په دې شرط ولاړې شي چې محرم ورسره وي.[۲۸]

د ۲۰۱۳ کال په جريان کې د تقنيني انکشافاتو په ترڅ کې په افغانستان کې د ښځو د حقونو د پرمختګ په لړ کې شاته تګ ليدل کيږي. تر ټولو جدي يې د ۲۰۱۳ کال د مۍ د مياشتې په ۱۸ نيټه د ښځو پر عليه د خشونت د منع د قانون په اړه په ملي شورا کې بحثونه وو. دغه قانون په ۲۰۰۹ کال کې د جمهور رئيس د فرمان له مخې نافذ شوى و چې لا هم نافذ دى. په پارلمان کې د ښځو د چارو ، مدني ټولنې او بشري حقونو کميسيون د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون ملي شورا ته د دې لپاره را وړ چې دغه فرمان د قانون په توګه تصويب کړي.

د دغې پروسې په ترڅ کې د دې قانون ځينې برخې د ګرمو بحثونو په پايله کې د پارلمان د ځينو وکيلانو له خوا " غير اسلامى" وبللې شوې. د ولسي جرګې رئيس دغه قانون د نور بحث لپاره د ملي شورا ګډ کميسيون ته چې په کې د پارلمان ۱۸ کميټې شاملې دي واستولو. هغه د مشاجرې او بحث وړ کليدي مسئلې چې غير اسلامي بلل شوي دي عبارت دي له: د ماشومانو د ازدواج ، اود جبري واده منع کول ، او پرته له محدوديت څخه روغتيايي پاملرنې ته رسېدنه ، زده کړه او دښځو د

---

[۲۶] " د ښځو پر عليه تاوتريخوالى په پراخه پيمانه شتون لري ، او ما د اړوندو چارواکو څخه وغوښتل خو خپلې زياتې هڅې د دې لپاره وکړي څو د دغه مهم قانون د پلي کولو د چارو د ښه والي بهير ګړندى کړي چې هغه د جمهور رئيس د ۲۰۰۹ کال د تقنيني فرمان له مخې نافذ شوى دى. زه د حکومتي لوړ پوړو چارواکو د دې اعتراف له امله هڅوله شوې يم چې ډيرڅه کولو ته اړتيا ده ، په تيره بيا په کليوالو سيمو کې ، او بيا هم هغه ژمنې چې له مخې يې په دې برخه کې د ښه والي په موخه بايد کار وشي ، ما همدارنګه د مدني ټولنې د ډلو ترمنځ د دې پراخې اندېښنې مسئله يادداښت کړه چې د ښځو د حقونو د پرمختګ په لاره کې خوځښت ځنډنى او کوډ شوى ، اودا په واقعيت کې کيدلاى شي چې شاته تګ ولري." د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر په ۱۷ نيټه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرې ناوي پيلى د سفر په جريان کې په مطبوعاتي کنفرانس کې د هغې د پرانيستونکې وينا ټکې. دغه مطلب په لاندى پته ليدلاى شى:
http://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=13734&LangID=E.

[۲۷] د يوناما ساحوى نظارت ، د ۲۰۱۳ کال د جولاى ۲۱ ، شمال ختيځ زون ، بغلان.

[۲۸] د يوناما ساحوى نظارت ، د ۲۰۱۳ کال نومبر ، شمال ختيځ زون ، بغلان.

امن خوني.[۲۹] د پارلمان ځينو غړو دا استدلال درلود چې د ښځو پرعليه د خشونت د منع قانون دغه برخې د شرعيت سره په سمون کې نه دي.

د ښځو پر عليه د خشونت د منع د قانون په اړوند په ملي شورا کې بحث د هيواد په ځينو ځانګړو سيمو کې د دغه قانون د وړاندې ځخه په کمزوري ډول د پلي کولو په جريان باندې په منفي ډول اغيزه وکړه او تر اوسه پورې په افغانستان کې د ښځو د حقونو په لړ کې د شوو تقنيني لاسته راوړنو ژر زيان منونکی خصلت په ډاګه کوي. د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون د راتلونکې په اړه چې په دې وروسيتو کې د پارلمان په کميټو کې تر بحث لاندې راغی او د دغه قانون د ګڼ شمېر کليدي احکامو په اړه چې د ښځو د حقونو ساتنه کوي بې باوري لاهم په دې توګه پاتې کيږي.

د يو بل انکشاف په ترځ کې د ۲۰۱۳ کال د جون په مياشت کې د افغانستان د ملي شورا ولسي جرګې د جزايي اجرااتو د قانون مسوده تصويب کړه چې په هغې کې يوه داسې ماده شامله ده چې خپلوان په ټولو جرمي قضيو کې د شهادت او ګواهۍ ورکولو ځخه منع کوي.[۳۰] د دغې مسودې حکم به د ښځو پرعليه د خشونت د منع د قانون د قضيو عدلي تعقيب خورا زيات ستونزمن کړي ، ځکه چې په زياتو حالاتو کې چيرته چې تاو تريخوالی په کورني چاپيريال کې صورت مومي ، د کورنۍ غړي په عمومي صورت د شويو جرمي اعمالو يواځيني ګواهان وي. د دغه نوی حکم ځخه ملاتړ په دې اړتيا متمرکز دی چې کورنۍ مسئلې لکه د ښځينه خپلوانو پر عليه خشونت او د ماشومانو پر عليه تيری شخصي مسئلې و ګڼلې شي چې بايد د کورنۍ دننه او يا هم د ټولنې ترمنځ تر غور لاندې را وستلې شي. د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر تر لومړۍ نيټې پورې د دی قانون دغه مسوده د ملي شورا د مشرانو په جرګه کې معطله وه.

د افغانستان د ټولټاکنو قانون چې د ۲۰۱۳ کال په جولای کې تصويب شو د هغه له مخې د ښځو لپاره په پام کې نيول شويو ځوکيو شمېره د ۲۵ سلنې ځخه ۲۰ سلنې ته راټيټه کړای شوه. د دې سربيره دغه سهميه نوره د هغو ټاکنيزو ځوکيو لپاره چې د ولسواليو په کچه وې وجود نه لري په داسې حال کې چې د ښځو لپاره په ټولو کچو ريزرف شويو ځوکيو د پخوا ځخه شتون درلود.[۳۱]

د ۲۰۱۳ کال د جولای په مياشت کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د ښځو پر وړاندی د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو د کنوانسيون په اړه د ملګرو ملتونو د دې کميسيون دکميټې په وړاندې را مخې ته شو او خپل دولتي راپور يې هلته وړاندې کړ. په داسې حال کې چې نوموړې کميټې د هيواد د هغه پرمختګ هر کلی وکړ چې د ۲۰۰۱ کال راهيسې د ښځو د حقونو په لړ کې شوی دی ، کميټې د تقنين په لړ کې د هغو نوو پرمختياوو په اړه چې له مخې يې د ټاکنو په قانون کې د ښځو ونډه کمه

[۲۹] د ۲۰۱۳ کال تر جولای پورې په افغانستان کې د ښځو لپاره د امن ۱۸ خونی فعاليت لری ، چې د هغو ځخه ۱۶ يې د نا دولتي موسسو له خوا او دوه نور يې د ښځو چارو د رياستونو له خوا مديريت کيږي. د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د افغانستان دفتر (UN Women Afghanistan) د مرستيالې رئيسې سره د يوناما مرکه ، کابل ، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۸ نيټه.

[۳۰] د افغانستان داسلامي جمهوريت د جزايي اجرااتو قانون د مسودې ۲۶مه ماده وګورئ.

[۳۱] د ټاکنو نوی قانون ، د رسمي جريدی ۱۱۱۲ ګڼه ، د ۲۰۱۳ کال د اګست ۶ نيټه.

کړای شوې ده او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د کمزوري کولو لپاره په ملي شورا کې وړاندیزونه شوي دي ، خپله سخته اندیښنه وښودله.[۳۲]

کمیټې د افغانستان د دولت څخه په کلکه وغوښتل څو هغه لاسته راوړنې چې د ښځو د حقونو په لړ کې شوي دي په قانوني چوکاټ کې مستحکمې کړي او د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون پلي کولو ته لومړیتوب ورکړي.[۳۳] کمیټې د افغان حکومت څخه وغوښتل څو د دغو مسئلو په اړه د دوو کلونو د لنډمهال راپور چمتو کړي. کمیټې د افغانستان پر حکومت غږ وکړ څو د قانون د انفاذ د برخې چارواکي د ښځو پر خلاف د خشونت د قضیو د عدلي تعقیب لپاره حساس او فعال کړي چې هغوي په واضحه توګه دا وټاکي چې کومې قضیې باید تر عدلي تعقیب لاندې ونیولې شي. کمیټې د افغانستان حکومت ته وړاندیز وکړ چې رسمي عدالتي سیستم ته د ښځو د لاس رسي د باوري کولو لپاره ټول لازم ګامونه پورته کړي . کمیټې همدارنګه د روانو تاوان رسوونکو عملونو او کړنو ، کورني تاوتریخوالي او د ناموس تر عنوان لاندې د جرمونو په اړه خپلې جدي اندیښنې جوتې کړې.[۳٤]

په ۲۰۱۳ کال کې په عامه ژوند کې د ښځو پر خلاف بریدونو ادامه درلوده. د ۲۰۱۳کال د اګست په میاشت کې درې لوړ پوړې میرمنې (دوه سناتورانې او یوه د ملي شورا غړې) او دهغوي کورنۍ تر بریدونو لاندې راغلې.[۳۵] په داسې حال کې چې د جنایت کوونکو هویت نه دی څرګند شوی خو عمومي انګیرنه دا ده چې دغه میرمنې د دې له امله تر برید لاندې راغلي دي چې هغوي دولتي څېرې وې. د ۲۰۱۳ کال په جولای او سپتمبر کې د هلمند په ولایت کې دوه لوړه پوړې ښځنیه پولیسې ؛ دریمه څارمنه اسلام بي بي[۳٦] او دوهمه څارمنه نګاره[۳۷] ووژلې شوې. د محلي پولیسو او څارنوالانو په وینا د دغو وژنو د تفتیش لړۍ لا هم روانه ده.[۳۸] د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر په میاشت کې بله ښځینه پولیسه د نیمروز د ولایت د زرنج په ښار کې د نا پیژاندو وسله والو له خوا هغه مهال و وژل شوه چې د کور څخه د کار په موخه روانه وه.

---

[۳۲] د سیډا اخرنی ملاحظی وګورئ ؛ ۱۰ او ۱۱ پراګرفونه.

[۳۳] د دولتونو څخه غوښتل شوي چې د ښځو پر علیه د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو د کنوانسیون (سیډا) کمیټې ته په منظم ډول په هرو څلورو کلونو کې راپور ورکړي ، خو د سیډا کمیټې د افغانستان څخه غوښتنه کړې ده چې لنډ مهاله راپورپه هرو دوو کلونو کې وړاندې کړي. د پوتنی ماخذ ۱۱ او ۲۳ پراګرافونه وګورئ.

[۳٤] پورتنی ماخذ ، ۲۲ ، ۲۳ او ۲۴ پراګرافونه.

[۳۵] یوناما په ۲۰۱۳ کال کې د لوړپوړوملکي دولتی کار کونکو چارواکو پر ضد په ګڼه شمېره کې د موخه ییزو وژنو بریدونه مستند کړي دي- چې په کې ښځې او نارینه دواړه شامل دي. په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ۲۰۱۳ کال د نیمایي کال راپور په لاندی پته وګورئ:

http://unama.unmissions.org/LinkClick.aspx?fileticket=EZoxNuqDtps%3d&tabid=12254&language=en-US

[۳٦] د یوناما ساحوی نظارت ، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۴ ، د هلمند ولایت.

[۳۷] د یوناما ساحوی نظارت ، د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر په ۱۶ ، د هلمند ولایت.

[۳۸] د یوناما ساحوی نظارت ، د ۲۰۱۳ کال د نومبر په ۲ ،. د هلمند ولایت.

## ۳. میتودولوژي

د افغانستان ځینو سیمو ته د موجوده امنیتي وضعیت له امله د محدودې رسېدنې او د اړوندو دولتي موسسو له خوا د ټول هیواد څخه په سیستماتیکه توګه د ارقامو د راټولولو د نشتوالي په پام کې نیولو سره دغه راپور په هغو تفصیلي معلوماتو ولاړ دی چې د افغانستان د ټولو ۳۴ ولایتونو څخه د ۱۸ ولایتونو لپاره د یو کال په موده کې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۳ کال د سپتمبره پورې راټول شوي دي او په تخنیکي لحاظ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنرۍ د دفتر له خوا بیا کتل شوي دي.[۳۹]

اوسنی تحلیل د دې لپاره دی چې په عمومي صورت هغه پرمختیاوې چې د یوناما د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر د راپور سره چې د *"لا پرمخ پرته اوږده لار: په افغانستان کې د ښځو پرعلیه د خشونت د منع د قانون پلي کول"* تر عنوان لاندې خپور شو د نوي کولو او مقایسې په توګه دی ، چې په هغه کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پلي کول د یو کال په موده کې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر پورې په همهغو ۱۶ ولایتونو کې مستند کړي دي. پخوانیو او اوسنیو راپورونو کې د کابل او هرات په ولایتونو کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د نافذیدو او تطبیق اضافي ارزونې هم شاملې دي.[٤٠]

یوناما د ۲۰۰ څخه زیاتو حکومتي ، عدلي او د قانون د انفاذ د چارواکو سره چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د پلي کولو په چارو بوخت دي مشورې کړي دي او د ثبت ، تفتیش ، عدلي تعقیب او د پولیسو ، څارنوالانو او محاکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د پلي کولو په اړه یې ورځخه معلومات تر لاسه کړي دي. دغه راپور همدارنګه د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د تاو تریخوالي د نږدې هغو ۵۰۰ قضیو په څارنې باندې ولاړ دی چې د یو کال په موده کې د ښځو پر خلاف دافغانستان په بیلا بیلو برخو کې یې صورت موندلی دی.

که څه هم د ښځو د چارو وزارت یوه ډیټابیس لري چې په هغه کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د قضیو د ثبت ، ارجاع کولو او د تعقیبولو د چارو معلومات ساتل کیږي خو د کورنیو چارو ، عدلیې او د ښځو چارو د وزارتونو او لویې څارنوالۍ تر منځ په رسمي توګه د قضیو د تعقیبولو مرکزي ، همغږه او سیستماتیک دولتي سیستم نشته. دغه شان حالت په جدي او کره توګه د ارقامو د راټولولو او تحلیل چاره ډیره ستونزمنه کوي او په دې توګه د مناسب غبرګون عمل دخنډونو سره مخ کوي.

په ځینوځانګړو سیمو کې زیاته ناامني او په محدوده پیمانه موجودې زیرمې همدا شان د معلوماتو د راټولولو پروسه د ننګونو سره مخ کوي. د ځینو ولایتونو څخه (لکه غزني ، هلمند ، او نیمروز) د نا امنۍ له امله معلومات په لاس رانغلل ، په داسې حال کې چې په نورو ولایتونو کې (لکه فاریاب او کندز) افغان چارواکو دیوناما سره د معلوماتو د شریکولو په لړ کې همکاري نه درلوده. په عمومي صورت د محاکمو څخه په ټولو ولایتونو کې د معلوماتو راټولول په ځانګړې توګه ستونزمن وو. که څه

[۳۹] د ۱۶ ولایتونو لست په پورتنی ۱۰ پای لیک کی وګورئ.
[٤٠] لاندینی ۲۴ مخ وګورئ.

هم د ستري محکمې له خوا د دې باور ورکړل شوی و چې په مرکزي کچه ټول مطلوب معلومات د یوناما سره شریک کړای شي ، خو ستري محکمې سملاسي یواځې د دریو ولایتونو معلومات ورکړل چې د دې لامل د یوه هر اړخیزاو فعال مرکزی سیستم نه موجودیت دی.[٤١]

د دولتي ادارو په ټولو کچو کې د ریکارډ ساتلو کمزوري سیستمونه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د قضیو او د دغو قضیو په اړه د حکومت د غبرګون په اړه د معلوماتو د راټولولو په برخه کې ننګوني زیاتوي.

یوناما د همدغو ١٦ ولایتونو څخه د اوسني راپور لپاره او د هغه پخواني راپور د هرات او کابل د ولایتونو سربیره د افغان ملي پولیسو ، د څارنوالیو د دفترونو او ابتدایه محاکمو څخه معلومات راټول کړي دي.[٤٢] همدا ډول د همدغو ١٦ ولایتونو څخه (د جوزجان پرته) د ١٥ ولایتونو د ښځو د چارو د ریاستونو څخه هم معلومات راټول کړای شوي دي. د زیاتې نا امنۍ له امله او یا هم د دولتي ادارو له خوا په سیسیماتیکه توګه د ارقامو د راغونډولو د نشتوالی او یا هم د دواړو حالتونو له کبله په نورو ١٦ ولایتونو کې یوناما په دې ونه توانیدله چې د افغان ملي پولیسو ، د څارنوالیو د دفترونو او ابتدایه محاکمو څخه معلومات تر لاسه کړي.

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پولیسو، څارنوالیو او ابیدایه محکمی | بدخشان | بادغیس | بامیان | دایکندی | فراه | غور | جوزجان | کاپیسا | خوست | کنړ | لغمان | ننګرهار | پکتیکا | پکتیا | پروان | سمنګان |
| د ښځو چارو ریاستونه | بدخشان | بادغیس | بامیان | دایکندی | فراه | غور | جوزجان تر پوښښ لاندی نه و | کاپیسا | خوست | کنړ | لغمان | ننګرهار | پکتیکا | پکتیا | پروان | سمنګان |
| هغه ولایتونه چی د تر پوښښ لاندی نه دی راغلی | بغلان | بلخ | فاریاب | غزنی | هلمند | کندهار | کندز | لوګر | میدان وردګ | نیمروز | نورستان | پنجشیر | سرپل | تخار | ارزګان | زابل |

## ۳.۱. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د قضیو قانونی پروسس

د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون له مخې د تاوتریخوالي د څرګندو عملونو ښځینه قرباني د دغه قانون پربنسټ د دې حق لري چې د ښځو د چارو ریاست ،[٤٣] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، د پو لیسو او یا هم څارنوالۍ دفتر ته مراجعه وکړي. د ښځو د چارو ریاستونه ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د حقوقو ریاستونه[٤٤] اکثره وخت منځګړیتوب کوي او یا هم میرمنې اړوندو خدماتو لکه د ښځینه امن خونو ته[٤٥] د هغوی د خوښې سره سم راجع

---

[٤١] هغه دري ولایتونه د کومو لپاره چې ستري محکمې وکولای شول د یوناما سره خپل ارقام شریک کړي عبارت دي له بلخ ، هرات او کابل څخه. زیاتره هغه ارقام چې ستري محکمې د یوناما سره شریک کړل د ٢٠١٢ کال د مارچ څخه د ٢٠١٣ کال ترمارچ پورې وو ، خو دغې محکمې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د پلي کولو په اړه خپل معلومات په دې کې نه وو شامل کړي.

[٤٢] هرات او کابل په لاندی ٢٤ مخ کی په جلا جلا ډول ارزول شوی دی ، پوتنی ١٠ پای لیک هم وګوری.

[٤٣] د ښځو د چارو د ریاستونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ١٢ پایلیک وګورئ.

[٤٤] د حقوقو عمومي ریاست په کابل کې دی او هغه شخړې چې د پورونو ، ملکیتونو په اړه او د کورنیو د حقوقي او قانوني اشخاصو ترمنځ را ولاړې شوې وي لانجې د مدني اجراآتو د قانون او د حقوقو د تر لاسه کولو د قانون په چوکاټ کې حل کوي. د حقوقو ولایتي مدیریتونه د افغانستان په ٢٤ ولایتونو کې شتون لري.

[٤٥] پوتنی ٢٩ پایلیک چې په ټول افغانستان کې د ښځو د امن خونو د نشتوالي په اړه بحث کوي ، مراجعه وکړئ.

کوي. د دغو موسسو څخه هره یوه یې په عمل کې غواړي چې د دغې ستونزې حل ته د منځګړیتوب او یا هم خبرو اترو له لارې ورسیږي.[٤٦] په داسې حال کې چې د افغانستان د قوانینو له مخې په واضحه توګه داسې احکام نشته چې په دغه ډول قضیو کې منځګړیتوب ته اجازه ورکړي اویا هم هغه منع کړي ، د منځګړیتوب څخه اکثره وخت د پولیسو او څارنوالیو د دفترونو له خوا د دې په موخه د لومړي ګام په څیر کار اخیستل کیږي چې د کورنۍ واحد وساتي ، منځګړیتوب او په غیر رسمي توګه د شخړو د حل میکانیزمونه په دودیز او عنعنوي لحاظ د دې لپاره د ترجیح وړ ګڼل کیږي چې کورنۍ د یوه واحد په توګه په کې وساتله شي چې د اساسي قانون د ۵۴ مادې له مخې د هغه په ساتنې باندې ټینګار شوی دی. په هغه صورت کې چې ښځې و غواړي قانوني لاره تعقیب کړي نو په دغه صورت کې نوموړې موسسې به قضیه پولیسو ته او په ډیری حالاتو کې د څارنوالۍ دفتر ته ارجاع کوي.

یوه ښځه پخپله هم کولای شي چې پولیسو او یا هم څارنوال ته مراجعه وکړي. که چیرې په یوې میرمنې د تاو تریخوالي راپور د پولیسو سره راجستر وي او پولیس ونه غواړي چې منځګړیتوب وکړي او یا هم دغه قضیه دحل دودیز میکانیزم ته راجع کړي نو په دې صورت کې پولیس دغه قضیه د اړوندې څارنوالۍ دفتر ته راجع کوي.[٤٧] کله چې څارنوال د قضیې دوسیه تر لاسه کوي نو د ابتدایه څیړنو او د عدلي تعقیب د رعایت په پام کې نیولو سره څارنوال پریکړه کوي چې دغه قضیه د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون له مخې یا هم د جزا د قانون پر اساس او یا هم د دواړو قوانینو له مخې پر مخ ولاړ شی او کولای شي چې قضیه محکمې ته راجع کړي چې د محاکمې د لارې تعقیب شي. په دغه ټوله پروسه کې شکایت کونکې میرمن کولای شي هر وخت چې و غواړي د خپلې قضایی دعوې دوسیه بیرته واخلي. په عمل کې د قضیو هر ډول بیرته اخیستنه معمولآ د رسمي او غیر رسمي منځګړیتوب د لارې کیږي. کله چې د محکومیت وروسته یو جوړ جاړی تر لاسه کیږي نو هر ډول جزاء چې ورکړل شوې وي هغه نه تطبیق کیږي.[٤٨]

د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي پنځه عملونه په "**جرمي احکامو** " کې راولي چې په کې د جنسي تیري ، په جبري توګه فحشا ته اړ باسل ، د قرباني د هویت افشاء کول ، سوځول او یا هم د کیمیاوي موادو کارول

[٤٦] د افغانستان د اساسي قانون له مخې کورنی واحد د محفوظ ساتلو د لومړیتوب په اړه پورتنی ۲۱ پایلیک وګورئ.
[٤٧] پورتنی ماخذ.
[٤٨] پورتنی ۴ پایلیک ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ۳۹ ماده وګورئ: د قانوني دعواګانو اقامه او په جرمونو د تورنو کسانو عدلي تعقیب چې د دې قانون له ۲۲ می څخه تر ۳۹ مه مادو کې تشریح شوی دی د هغه شکایت پر اساس چې د قرباني او یا هم د هغه د قانونی وکیل له خوا په دوسیه کې درج شوی وي ، صورت نیسي. (ب) قرباني کولای شي چې د عدلي طرزاالعمل په هر پړاو کې (کشف ، تحقیق ، محاکمې او یا هم محکومیت) د هغو حالاتو له مخې چې د دغې مادې په لومړي پراګراف کې یاد شوي دي خپل شکایت بیرته واخلي ، په دې صورت کې قضایي پروسه او مجازات درول کیږی.
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جزا قانون ۴۷۶مه ماده داسې حکم کوي: (۱) که چیری هغه جرمونه څخه چې د دې برخې په (۵، ۷، ۱۲، ۱۳، ۱۶، ۱۷) فصلونو کې مشخص شوي دي میړه ، ښځی یا د اصولو او فروعو څخه یوه ته ضرر ورسیږی د دعوی تحریک او نور اجراات د هغوی په ضد جواز نه لری ، مګر د مجنی علیه په شکابت جزایی دعوی د قطعی حکم د صادریدو تر مخه چه مجنی علیه د شکایت څخه انصراف وکړی ، ساقطیږی (۲) که د پوتنی فقری په درج شوو جرمونو کی انصراف د محکمی د قطعی حکم څخه وروسته صورت ومومی د حکم تنقیذ متوقف کیږی.
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون ۵۴ ماده حکم کوي: کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنی لاندی ده. دولت د کونی او په ځانګړی توګه د مور او ماشوم د جسمی او روحی روغتیا د تامی ، د ماشومانو د روزنی او د اسلام د سپیڅلی دی له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبیرونه نیسی.

او په اجباري توګه ځان سوځونې او یاهم ځان وژنې ته اړباسل شامل دي.[٤٩] دغه پنځه جرمونه د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون او یا هم د جزاء قانون له مخې د جزا تعزیرات ایجابوي او باید چې د دولت له خوا پرته له دې چې ښځه ونه کړای شي د شکایت دوسیه درج کړي او یا هم د دې له خوا شکایت بیرته اخیستل شوی وي قانون تطبیق شي.[٥٠] په همدې ډول د قتل جرم یواځې او یواځې د جزا د قانون د حکم لاندې تعقیب کیږي او هغه د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون کې نه دي شامل ، په داسې حال کې چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د جنسي تیري د مجازاتو لپاره قضیه د جزاء قانون ته راجع کوي.

د نورو جرمونو لپاره لکه د ښځې ټپي کول اویا معیوبول ، وهل ټکول او یا هم د بدن ځبرې کول ، په لوړه کې ساتل او یا هم ښځه د واده لپاره پلورل.[٥١] د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون دا بیانوي چې ښځه کولای شي خپل شکایت بیرته واخلي چې هغه په عمل کې په دې مانا دی چې یوه میرمن چې وهل شوې ده او یا هم ورته ټپونه اړول شوي دي کیدلا ی شي چې د منځګړیتوب او یاهم د شخړې د حل غیر رسمي میکانیزم ته راجع کړای شي. د دې ټکي په پام کې نیولو سره چې زیات شمېر قضیې د منځګړیتوب له لارې حل شوي دي او دا چې په فرهنګي لحاظ په دې زور راوړل کیږي چې منځګړیتوب وشي ، یوناما په دې ټینګار کوي چې دښځو پر ضد جدي او ستر جرمونه باید چې د رسمي عدالتي سیستم له لارې تر عدلي تعقیب لاندې راشي او په هغو کې منځګړیتوب ونه شي.

[٤٩] پورتنی ۴ پایلیک ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ۳ فصل ، د ۱۷ څخه تر ۲۱ می مادی وګورئ.
[٥٠] د ۱ مخ په ۳ پایلیک کی د یوناما راپور "لا هم پر مخ اوږده پرته لار " وګورئ.
[٥١] پورتنی ۴ پایلیک ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون ۳ فصل ، د ۲۲ څخه تر ۲۴ می مادی او ۳۲ ماده وګورئ.

## ۴. موندنې

*ما واده کړی و او بیا مې طلاق واخیست. زه خپلې کورنۍ اړ باسلم چې د اوسني خاوند سره د دوهمې میرمنې په توګه واده وکړم. ما په یوه دولتي موسسه کې کارکاوه چې زما د کورنۍ نه خوښېدله. زه د اوسني خاوند څخه یوه لور لرم. زه دخپلو همکارانو له خوا دې ته وهڅول شوم چې په یوه دولتي موسسه کې کار وکړم. ما دغه کار وکړ. زما خاوند زما پلار او زما ورور ته شکایت وکړ چې زه د بیګانه او نامحرمو کسانو سره خبرې کوم او د ودګنی اړیکو کې بې بند و باره یم. هغوي زه او زما لور پر مرګ تهدید کړلو. یو ماښام یو نا اشنا سړی زما کور ته راغی. کله چې هغه زما په نظر راغلو نو ژر و تښتېدلو خو د پخلنځي یوه چاړه ورکه وه. وروسته زما خاوند ګاونډیانو ته و ویل چې دا هم دی پخپله و [ چې چاړه یې واخیستله] څو ما و وژني. زما د خاوند له خوا پرما د غیر اخلاقي سلوک د تور په لګولو سره زما ورور او زما پلار زه را وبللم او زه یې په تسمه سخته سخته و وهلم او په مرګ یې تهدید کړم. ما پولیسو ته شکایت وکړ خو زه د خپل ځان او د خپلې لور د ژوند په ویره کې شوم. ما هیڅ ځای د خپلې پناه لپاره نه درلود. حتی که اوس پولیسو اقدام هم کړی وای زه په دې ډاریدلم چې که زما کورنۍ لږ شان امکان هم پیدا کړي نو هغوي به ما و وژني.*[۵۲]

**(س)، ۳۵ کلنه ، د هرات ولایت څخه ، د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر میاشت**

**د څارنوالانو او د ۱۶ ولایتونو ښاري محکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د قانون د تطبیق په اړه د یوناما د اوسنیو او پخوانیو موندنو مقایسوي تحلیل**




یوناما دا مشاهده کړې ده چې د تیر مهال (په ۲۰۱۳ کال کې ۵۸۱ د ۲۰۱۲ کال د ۳۶۳) په پرتله د پولیسو سره د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د قضیو ثبت تر زیاتي اندازې پورې (۶۲ سلنه) زیات شوی دی.

[۵۲] د (س) سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر میاشت ، د هرات ولایت.

د څارنوالیو او محاکموسره هم د قضیو ثبت زیات شوی دی خو دومره د پام وړ نه دی. د عدلي تعقیب په لړ کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پلي کول دتیر مهال په پرتله لږه اندازه (دوه سلنه) زیاتوالی په ډاګه کوي. د دې سره دا په ډاګه کيږي چې زیاتو ښځو د تاو تریخوالي په اړه د قضیو د ثبت لپاره مراجعه کړې ده او داچې چار واکو زیاتي پیښې ثبتي کړي دي ، خو د هغو قضیو شمېر چې په کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د پلي کولو له لارې قضیې د عدلي پروسې له مخې حل شوي دي د تیر یوکال د مودې په پرتله په کې لږ بدلون لیدل کیږي.

## ۴. ۱. د قضیو ثبت او د عدلي تعقیب د چارواکو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پلي کول




- د تیر یو کال په موده کې د هیواد په ۱۶ ولایتونو کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي ۳۰۶ قضیې[٥٣] چې په منځني ډول په هره میاشت کې ۲۵ قضیې کیږي ثبتي کړي دي. څارنوالیو د تیر مهال په نسبت په دې موده کې ۱۰ سلنه زیاتي قضیې ثبتي شوی دي ، چې دا ډیره کمه اندازه زیاتوالی جوتوي.
- څارنوالانو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي ۱۴۴ قضیې د محاکمې لپاره محمکو ته راجع کړي دي او یا هم د ۳۰۶ هغو قضیو له جملې څخه نیمايي یې ترلي دي چې دوي راجسترکړي دي.[٥٤] د پاتې ۱۶۲ قضیو څخه ۱۳ یې د

[٥٣] په دې راپور کې د پولیسو یاڅارنوالیو له خوا د یوې راپور شوی پیښې ثبت دا معنی لری چې د یوې پیښې په هکله یو شکایت رارسیدلی او یوه دوسیه پرانیستل شوې وی خو دا په حتمي ډول په دې مانا نه ده چې څارنوال تحقیق پیل کړي دی او یا هم پولیسودغه پیښه جزایي عدلي سیستم ته د عدلي تعقیب لپاره راجع کړې ده.

[٥٤] د څارنوالۍ له خوا د دوسیي ارجاع په دې مانا ده چې څارنوال تحقیق بشپړ کړی دی او قضیه یې محکمې ته د محاکمې لپاره استولې ده.

ځارنوالۍ له خوا په منځګړيتوب سره حل شوي دي ، نهه يې د عدليې وزارت حقوقي/تقنين رياست ته استول شوي[۵۵] ، ۶۵ شکايت کوونکو خپلې دوسيې بيرته اخيستي دي او يوه قضيه د منازعې د حل غير رسمي ميکانيزم ته راجع شوې ده. د راپور د ليکلو پر مهال ۶۸ قضيې لا هم په جريان کې وې ، څلور قضيې نه وې مشخصې شوې او دوه نورې ولسواليو ته واستولې شوې. (په تير پړاو کې ځارنوالانو ۱۶۳ قضيې د محاکمې لپاره محکمو ته راجع کړي دي ، چې د ۲۷۷ قضيو چې دوي راجستر کړي دي ۵۹ سلنه کيږي).

- په ۱۶ ولايتونو کې ځارنوالانو د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د ۱۴۴ صورت دعوا په مواردو کې د ۷۶ سلنې لپاره کارولی دی. که څه هم دا بايد د ۶۵۰ ټولو راجسترشويو پيښو لپاره ارزول شوی وای چې دا د تير مهال په پرتله د ښځو پر عليه د ځارنوالانو له خوا د تاوتريخوالي د منع د قانون د کارولو په لړ کې دوه سلنه زياتوالی په ډاګه کوي.[۵۶] د تيرې دورې د راپور ورکونې په پړاو کې ځارنوالانو په ۷۲ پيښو کې چې د راپور شوو پيښو ۱۵ سلنه کيږي د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون کارولی دی چې دا د ۱۰۹ دعوا ګانو (۱۷ سلنې) قضيو په پرتله دی چې په اوسني پړاو کې د ۶۵۰ راجسترشويو پيښو لپاره ښودل شوی.
- ۴۷ سلنه راجستر شوې قضيې د ځارنواليو له خوا (د ۳۰۶ څخه ۱۴۴) محکمو ته راجع شوي ، چې دا د تير مهال په پرتله ۵۹ سلنه (د ۲۷۷ ثبت شوو قضيو څخه ۱۶۳) دی. دغه احصاييوي ارقام د ښځو پر عليه د تاو تريخوالي په هغو قضيو کې چې محکمو ته د ځارنواليو له خوا راجع شوي ۱۲ سلنه کمښت په ډاګه کوي چې د دې لامل په منځګړيتوب باندې زياته تکيه کول دي.

د يوناما موندنې همدارنګه دا په ډاګه کوي چې په تيره بيا په هغو اتوو ولايتونو کې چيرته چې د ښځو پر عليه د تاو تريخوالي د منع د قانون ځانګړي واحدونه شتون لري[۵۷] ځارنوالانو د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي په قضيو کې چې د راپور ورکولو په پړاو کې يې محکمو ته راجع کړي دي د ښځو پر عليه د تاو تريخوالي د منع په قانون د اساس په توګه تکيه کړې ده. د بېلګې په ډول د کابل ، بلخ ، هرات ، بدخشان ، او ننګرهار په ولايتونو کې چې دغه ټول ولايتونه د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع د قانون د ځارنواليو فعال واحدونه لري او يوناما مشاهده کړې ده چې د دغه دفترونو ډيرو شمېرو يې د ښځو پر عليه د تاو تريخوالي قضيې ثبتې کړي دي.

[۵۵] پورتنی ۴ پايليک ، د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون ۳ فصل ، ۵ (۱۷) مه يا ۳۳ ماده وګورئ.
[۵۶] د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پورې ځارنوالۍ د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون په ۴۴ سلنې قضيو کې په ۱۶ ولايتونو کې پلی کړی دی (د ۱۶۳ قضيو له جملی څخه په ۷۲ قضيو کې). د ۲ مخ په ۳ پايليک کی د يوناما راپور "لا هم پر مخ اوږده پرته لار " وګورئ.
[۵۷] د هغه ولايتونو د لست په هکله د چی د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون د اختصاصی ځارنواليو ځانګی لری ، پورتنی ۱۵ پای ليک وګورئ.

## ۴. ۲. د محاکمو له خوا د قضیو ثبت او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پلي کول




- د هغو ارقامو څخه چې د ۱۶ ولایتونو[۵۸] په ترڅ کې د یو کال په موده کې راټول شوي دي یوناما دا مشاهده کړې ده چې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي ۶۱ سلنه قضیې په محکمو کې تر غور لاندې راغلي دي — او د ۱۷۸ قضیو له جملې څخه په ۱۰۸ قضیو کې یې محکومیتونه اعلان شوي دي. د یوناما په تیر راپور کې د قضیو همدغه سلنه (د ۱۵۸ څخه ۱۰۰ قضیو یا ۶۰ سلنه) قضیې دي چې د یو کال په موده کې محاکمو ته د محمکو د دایرولو لپاره استول شوي دي چې په کې محکومیتونو او مجازاتو صورت مونډلی دی. محاکمو په دې توګه د پخواني پړاو په څیرد ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون تطبیق کړی دی.

- یوناما د یو شمیر هغو قضیو په لړ کې چې په کې محکمو د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون د اساس په توګه تکیه کړې ده د تیر پړاو په پرتله لږ شان زیاتوالی مشاهده کړی دی. په وروستیو وختو کې محاکمو د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون چې په کې دغه قضیې د قضاوت لاندې راغلي او هغه یې د ۵۶ سلنې قضیو لپاره کارولی دی — چې دا د ۱۰۸ قضیو څخه ۶۰ قضیې دي.[۵۹] په تیر پړاو کې محاکمو د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون له مخې د ۵۲ سلنې قضیو لپاره پریکړې کړې دي (د ۱۰۰ قضیو څخه د ۵۲ قضیو لپاره).[۶۰]

- که څه هم دغه مونډنې دتېر کال د مونډنو سره مشابه دي ، د دې یادول اړین دي چې په عمومي صورت ټولې هغه قضیې چې د محاکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون له مخې تر څیړنې او غور لاندې نیول

---

[۵۸] د ۱۶ ولایتونو د لست په هکله پورتنی ۱۰ پایلیک وګورئ.
[۵۹] د ۱ مخ په ۳ پایلیک کې د یوناما راپور "لا هم پر مخ اوږده پرته لار " وګورئ.
[۶۰] پورتنی ماخذ.

شوي دي د یوناما د نمونې له مخې په ډېره کمه شمیره کې دي(د ۶۵۰ څخه ۱۶۹ او یا هم د ټولو راجسترشویو قضیو ۲۶ سلنه).

## ۳.۴ د افغان ملي پولیسو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د پېښو ثبت او هغو ته رسېدنه




- په اوسنۍ نمونه کې چې د ۱۶ ولایتونو لپاره ده یوناما دا وموندله چې افغان ملي پولیسو دښځو پر علیه د تاوتریخوالي ټولټال ۵۹۲ راپور شوي پېښې د راپور په دغه پړاو کې ثبتې کړي دي. په تېر پړاو کې یوناما د همدغو ۱۶ ولایتونو څخه د ټولو ۳۶۳ راجستر شویو پېښو راپور درلود. دا په تېر یو کال کې په راجستر شویو پېښو کې ۶۳ سلنه زیاتوالی ښیي چې د افغان ملي پولیسو له خوا د یوه کال په موده کې ثبتې شوي دي.
- پولیسو د ټولو راپور شویو ۵۹۲ پېښو څخه ۲۴۸ یې د څارنوالیو دفترونو ته راجع کړي دي چې دا لږه اندازه کمښت د تېر پړاو په پرتله ښکاره کوي (تېر مهال ۴۷ سلنه او په دې پړاو کې ۴۲ سلنه).
- د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي دهغو پېښو په شمېره کې زیاتوالی مشاهده شوی دی چې په کې ښځینه پولیسو منځګړیتوب درلود. ۴۴ قضیو کې د پولیسو له خوا منځګړیتوب شوی دی چې د ا د تېر پړاو د ۲۱ قضیو په پرتله دی.[٦١]
- پولیسو همدارنګه په دغه شمېره کې د منځګړیتوب پیښې په تیر او اوسني پړاوونو کې راجع کړي دي.[٦٢]

[٦١] یوناما دا یاداښت کړې ده چې په کابل کې پولیسو د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د ۱۷۰ راپور شویو پیښو څخه په ۶۵ کې منځګړیتوب کړی دی. د ننګرهار په ولایت کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د ۱۲۷ پیښو څخه په ۲۷ کې پولیسو د منځګړیتوب څخه کار اخیستی دی. په داسې حال کې چې کابل او ننګرهار دواړه ولایتونه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون لپاره د ځانګړو مسلکي څارنوالیو واحدونه لري ، خو په منځګړیتوب باندې لاهم په دغو ولایتونو کې تکیه کیږي.

- پولیسو د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي ۵۷ پېښې د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونو ته راجع کړې دي. دا د تیر پړاو په پرتله زیاتوالي څرګندوي چې هغه مهال ۴۳ قضیې راجع شوې وې (لس سلنه تولې راجسټر شوې پیښې په دغه پړاو کې دودیزو میکانیزمونوته راجع شوې وې او تیر کال ۱۲ سلنه وې).[۶۳] ۵۱ قضیې د شکایت کوونکو له خوا د پولیسو سره د ثبت وروسته بیرته واخیستل شوې چې دا د پولیسو سره ثبتې شوې وې چې په تېر پړاو کې د شکایتونو دغه بیرته اخیستنې ۲۷ ته رسېدلې.
- دغه موندنې دا په ډاګه کوې چې د افغان ملي پولیسو له خوا په تولیز ډول په دودیزو میکانیزمونو تکیه کول لږ څه زیاته شوه چې ورسره د افغان ملي پولیسو له خوا دشخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونو ته د قضیو د راجع کولو شمېره کې یو څه کمښت راغی.

## ۴.۴. هرات او کابل

یوناما دا مشاهده کړې ده چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په پلې کولو کې هرات او کابل د نور هېواد په پرتله په زیات توپیر سره د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون تطبیق کړی دی چې په کې دغه قانون په زیاته پیمانه کارول شوی دی.




[۶۲] پولیسو د ۵۹۲ هغو قضیو څخه چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له مخې په دغه موده کې ثبت شوي ، اوه سلنه یې او همدارنګه په تیره دوره کی ۶ سلنه (د ټولو ۳۶۳ ثبت شیو قضیو څخه) دمنځګړتیا لپاره راجع کړي.
[۶۳] په ۳ پایلیک کی د یوناما راپور "لا هم پر مخ اوږده پرته لار ".

**د هرات ولايت**

یوناما مشاهده کړې ده چې د هرات په ولایت کې په تېرو دوو کلونو کې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي نسبتا ډېرې پیښې راپور شوي دي چې په کې په فعالانه ډول د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون پلي شوی دی. خو د تیر راپور ورکونې د پړاو سره په تناسب کې هرات په اوسني پړاو کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د پیښو په ثبت ، عدلي تعقیب او د محکومیت د قضیو په لړ کې لږ څه کموالی ښوولی دی. د هرات د ښځو د چارو ریاست د نورو ولایتونو په پرتله د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي پیښې په زیاته شمېره کې ثبتې کړې دي.

د هرات په ولایت کې په تیرو ۱۲ میاشتو کې پولیسو او څارنوالیو سره یوځای دښځو پر علیه د تاوتریخوالي ۴۰۵ پیښې ثبتې کړې دي چې دا په تېر پړاو کې ۴۳۲ ثبتې شوې قضیې وې. یواځې پولیسو ۱۹۷ قضیې ثبتې کړې دي چې له هغو څخه ۸۰ او یا ۴۱ سلنه یې څارنوالۍ ته راجع کړي او ۱۱۷ یا ۵۹ سلنه قضیې یې د نورو سیستمونو له لارې لکه منځګړیتوب پروسس کړې دی او یا هم چې د راپور د لیکلو تر مهاله په جریان کې وې. تېر کال پولیسو د هرات په ولایت کې ۹۷ قضیې ثبتې کړې او له هغو څخه ۹۶ (۹۹ سلنه یې) څارنوالۍ ته راجع کړې وې. دغه ارقام د پیښو او د هغو په ثبت کې چې د پولیسو له خوا ثبتې شوي دي ډېر زیاتوالی په ډاګه کوي چې په کې کمې پیښې د عدلي تعقیب لپاره وړاندې شوي او د پولیسو له خوا د منځګړیتوب له لارې د پیښو د تعقیبولو زیاتوالی ښیي.

څارنوالیو ټولې ۲۸۸ قضیې ثبتې کړې چې له هغو څخه ۱۷۲ یا ۶۰ سلنه یې محکمې ته راجع کړي او ۵۴ قضیې او یا هم ۱۹ سلنه یې بیرته اخیستل شوي دي. څارنوالیو په ټولو هغو ۱۷۲ قضیو کې چې محاکمو ته یې راجع کړې دي د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون څخه د اساس په توګه کار اخیستی دی. په تېر پړاو کې ۳۳۵ قضیې د څارنوالیو د دفترونو سره ثبتې شوې وې چې له هغو څخه ۲۱۳ او یا هم ۶۴ سلنه یې د محکمو سره په دوسیو کې شاملې شوې وې. اوسنۍ موندنې دا څرګندوي چې د څارنوالیو له خوا د قضیو په ثبت او محکموته د هغو په راجع کولو کې کموالی راغلی دی.

په همدې ډول د څارنوالۍ په څېر د هرات ولایت د محاکمو له خوا د ثبت شویو قضیو او همدارنګه د هغو قضیو په شمېره کې چې په کې د محکمې له خوا مجازات او محکومیتونه اعلان شوي وي کمښت راغلی دی. د راپور ورکولو په اوسني پړاو کې د هرات محاکمو ۱۲۸ قضیې ثبتې کړې دي چې دا د تیر کال په پرتله ۱۳ سلنه کمښت څرګندوي ، په دغو قضیو کې د ۷۳ قضیو لپاره چې ۵۷ سلنه کیږي د مجازاتو حکم شوی دی. په تېر پړاو کې د هرات ولایت ۱۴۴ قضیې ثبتې کړې دي چې د هغو څخه ۹۲ قضیې اویا ۶۴ سلنه کې د مجازاتو محکومیتونه صادر شوي دي.

د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د ټولو ثبت شویو پیښو له جملې څخه په ۷۳ قضیو کې یې د مجازاتو اعلان شوی دی. دغه ارقام باید د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د ټولو ۶۹۳ پیښو په زمینه کې چې د هرات د ښځو چارو د ریاست له خوا د تېر کال د ۱۲ میاشتو د راپور ورکولو په پړاو کې راجستر شوي دي و ارزول شي. دغه موندنې دا په ډاګه کوي چې د هرات په سیمه کې

ډیری ښځو د هغوي پر خلاف د تاوتریخوالي پیښې رسمي عدلي ارګانونو ته نه دي راپور کړي او د دې پرځاي یې د ښځو د چارو د ریاست د مرستې غوښتنه کړې ده.

د تاوتریخوالي د راپور شویو پیښو د هرات د ولایت په محاکمو کې د راجسټر کولو په لړ کې په عمومي صورت کموالی مشاهده کیږي. یواځې ۴۲ سلنه (د ۴۰۵ پیښو څخه ۱۷۲ یې) محاکمو ته راجع شوي. نورې زیاتې قضیې په رسمي او یا هم غیر رسمي ډول د منځګړیتوب د لارې پروسس شوي دي. هغه قضیې چې اکثره یې د بیرته اخیستل شویو قضیو په لست کې راغلي دي هغه هم اکثره وخت د منځګړیتوب د لارې بیرته اخیستل شوي دي.

## د کابل ولایت[٦٤]

د راپور ورکولو په پړاو کې پولیسو ۲۵۵ قضیې ثبتې کړي دي چې د هغو له جملې څخه ۸۴ یې محکمې ته راجع شوي دي. درې قضیې د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونو ته راجع شوي ، په داسې حال کې چې ۷۳ نورو کې یې د پولیسو له خوا منځګړیتوب شوی دی. ۲۵ نورې قضیې د شکایت کوونکو له خوا بیرته اخیستل شوي دي ،[٦٥] او ۲۰ نورې یې د اجرااتو لپاره راجع شوي دي. له هغه ځایه چې د تېر پړاو لپاره ارقام یوناما ته نه وو برابر شوي نو دا ممکنه نه وه چې یوه مقایسه وشي.

څارنوالۍ ۹۶۸ قضیې ثبتې کړي دي او د هغو له جملې څخه ۱۳۳ یا هم ۱۴ سلنه یې محکمې ته راجع کړي دي. ۲۰۵ قضیې یا هم ۲۱ سلنه یې بیرته اخیستل شوي دی.[٦٦] ۱۸۴ قضیې لا هم تر تحقیق لاندې دي. د راپور ورکولو په تیر پړاو کې څارنوالۍ د ۶۷۰ قضیو څخه ۱۰۱ قضیې یا هم ۱۵ سلنه یی محکمې ته راجع کړي او ۱۷۵ یا ۲۶ سلنه قضیې بیرته اخیستل شوي دي.

لکه چې په نورو برخو کې یادونه شوې ده ډیری قضیې چې د شکایت کوونکو له خوا نه دي تعقیب شوي او یا هم بیرته اخیستل شوي دي هغه د غیر رسمي او رسمي منځګړیتوب او یا هم د شخړو د حل د غیر رسمي میکانیزمونو له لارې حل شوي دي.

که څه هم د تیر پړاو په نسبت په کابل کې د هغو پیښو د ثبت شمېره کې زیاتوالی لیدل شوی چې د څارنوالۍ له خوا راجسټر شوي دي ، د هغو قضیو شمېره چې محکمې ته راجع شوي دي په همغه حالت کې پاتې ده. هر هغه معلومات چې د کابل په اړه دي باید د کابل لپاره چې تر ټولو زیات نفوس لرونکی ولایت دی و ارزول شي ، د احصاییوي ارقامو د نه شتون له امله دا ستونزمنه ده چې دا معلومه شي چې ایا دغه شمېرې په مقایسوي لحاظ د راپور ورکولو لپاره سمې دي او کنه.

---

[٦٤] د کابل د ولایت څخه د ارقامو په راټولولو کې د ستونزو د موجودیت له کبله د دې راپور لپاره یو مقایسوي جدول ترتیب نه کړای شو.
[٦٥] پوتنی ۲۰ پایلیک وګورئ.
[٦٦] پورتنی ماخذ.

## ۵. جریانونه

### ۵. ۱. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د ثبت او تطبیق په برخه کې نا برابر پرمختګ

د راپور ورکولو د مودې پر مهال ، د مخکنیو موندنو په پرتله یوناما د قانون د پلي کونکو ارګانونو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د پیښو د ثبت په برخه او د څارنوالانو او محاکمو لخوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په برخه کې یو څه پرمختګ مشاهده کړی دی. د تیر کال په پرتله ، څارنوالانو او پولیسو د ښځو پر علیه د خشونت زیاتې راپور شوې پیښې ثبتې کړې دي. خو بیا هم یوناما د محاکمو له خوا د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د کارولو په برخه کې یواځې یوه کمه اندازه زیاتوالی مشاهده کړی دی.

په بل عبارت ، که څه هم چې د ښځو پر علیه د خشونت د پیښو د ثبت په برخه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی ، خو بیا هم د قضایی پروسې له لارې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پواسطه د حل شویو قضیو په شمېر کې دغه زیاتوالی په نسبي ډول تیټ دی. کیدای شي دا د پولیسو د ځواک او څارنوالانو د دفترونو په دننه کې د ظرفیت د نه شتون د مسئلې یا د ښځو پر علیه د خشونت د شکایتونو د حل لپاره د یوه کلیدي تدبیر په حیث د منځګړیتوب د کارولو سره تړاو ولري څو د ښځو پر علیه د خشونت د قضیو زیاتیدونکی شمیر پروسس کړي. په دواړو سناریو ګانو کې ، موندنې جوتوي چې یو زیات شمېر قضیې د رسمي او غیر رسمي میکانیزمونو له لارې حل شوې دي.

یوناما همدارنګه مشاهده کړې چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په ټولو ولایتونو کې په مساوی توګه نه دی تطبیق شوی او که چېرې دا قانون تطبیق شوی هم وي نو هغه د ښارونو تر مرکزونو پورې محدود پاتې شوی دی. د قانون پلي کونکو ادارو یوناما ته ویلي چې دوي ته زیاتره ثبت شوې قضیې د ښارونو څخه رسیدلي ، او د کلیوالو او لېرې پرتو سیمو څخه چیرې چې د حکومت او کورنۍ غبرګون د واحدونو شتون ډیر محدود دی ، ډیرو کم ثبت شوی شکایتونه او یا راجع شوی قضیې راغلې دی.

یوناما موندلې چې په کلیوالو سیمو کې په ټولیز ډول د خشونت زیاتره پیښې او په خاص ډول د ښځو پر علیه د خشونت د شخړې د غیر رسمي میکانیزمونو له لارې حل شوې او په زیاترو دوسیو کې یې داسې حکمونه صادر شوی چې د ښځو لپاره تاوان رسونکي وو. د بیلګې په توګه د ۲۰۱۳ په اپریل میاشت کې د بادغیس ولایت د ابکمري په ولسوالۍ کې یوه ۱۵ کلنه نجلۍ چې د یوه سړی سره د تیښتې له کبله په عام محضر کې په قتل محکومه او بیا و وژل شوه. دغه سړی خپل ځان پټ کړ مګر نجلۍ ونیول شوه او بیا و وژل شوه. کله چې وروسته پولیسو قضیه ثبت کړه د مجرمینو څخه یو تن و نیول شو او په

سزا محکوم شو. د عدالت د تطبیق دا ډول بڼه ، چیرې چې یوه نابالغه نجلۍ د ودګني ژوند څخه د باندې د جنسي اړیکو په تور په عام محضر کې اعدامیږی ، دا عمل اوس هم په پراخه کچه شتون لري او دا اکثره په محلي کلتور تکیه کوي.[٦٧]

د یوناما په نمونه کې د موجودو ۱۶ ولایتونو د جملی څخه ، هغه ولایتونه چې د څارنوالانو په دفترونو کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ځانګړي واحدونه لري د هغو ولایتونو په پرتله چې په ولایتونو کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع واحدونه نه لری زیات شمیر دوسیې ثبتی کړي دي. د کابل ، بلخ ، هرات ، بدخشان او ننګرهار په ولایتونو کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع څارنوالیو فعال واحدونه موجود دي او یوناما مشاهده کړې چې دغو دفترونو د ښځو پر علیه د خشونت زیاتې قضیې ثبتې کړي دي. د کابل او ننګرهار ولایتونو هم زیات شمیر قضیې د منځګړیتوب له لارې حل او فصل کړي دي.[٦٨]

موندنې همدارنګه وړاندیز کوي چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق دا مانا نه لري چې محکمو دې همیشه د ښځینه قربانیانو په پلوۍ پریکړی ترسره کړي وي. داسې ښکاري چې په ځینو مواردو کې د جزا قانون د قربانیانو د ګټو لپاره کارول شوی ، په خاص ډول د جنسي تیري په مواردو کې ، کوم چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په پرتله د جزا په قانون کې په ښکاره توګه تعریف شوی دی. همدارنګه ، د "وهلو" د جرم لپاره (چی د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د ۲۲ مادی لاندې د ټپی کیدو یا معلولیت ، یا د ۲۳ مادې لاندې وهل او ټکول تصریح شوي)،[٦٩] د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د سزا لپاره د جزا قانون ته راجع کیږي. لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د ښځو پر علیه د خشونت یو شمیر عملونه لکه ، جنسي تیری ، اجباری فحشاء ، د قرباني شخص د هویت څرګندول ، په کیمیاوي توکو سوځول ، اجباری ځان سوځونه یا ځان وژنه د جنایی احکامو په حیث په تفصیل سره تشریح کوي.[٧٠] دا جرمونه د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون او یا د جزا قانون په جنایی تعقیب تعزیرات لري ، او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ، د جزا قانون او یا د دواړو قوانینو لاندې د جرم سره په سمون کې د حکومت له خوا باید عملي شي.

یوناما د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون لاندې د ټکولو او ټپي کولو جرمونو ته د تر ټولو پراخو ثبت شویو جرمونو په سترګه ګوري. د پولیسو سره د ځان سوځونې په ثبت شویو دوسیو کې هم زیاتوالی تر سترګو شوی. دحکومت له خوا د

---

[٦٧] د یوناما ساحوی نظارت ، د ۲۰۱۳ کال اپریل میاشت (د ۲۰۱۳ کال په نومبر میاشت کې نوی شوی).
[٦٨] پورتنی ۶۱ پایلیک وګورئ.
[٦٩] پورتنی ۴ پایلیک ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ۲۲ مادې ته مراجعه وکړئ: د ټپ او معیوبیت لامل کیدل: (۱) هغه شخص چی ښځه تر ضرب او جرحی لاندی ونیسی ، له احوالو سره سم او د جرم د شدت او خفت له په پام کی نیولو سره د جزاء د قانون په (۴۰۷ څخه تر ۴۱۰) مادو کی د درج شوو حکمونو مطابق مجازاتیږی. (۲) که چیری د دی مادی په ۱ فقره کی درج شوی اعمال ، د مجنی علیها په مړینه تمام شی ، مرتکب له احوالو سره سم د جزا د قانون په (۳۹۶ څخه تر ۳۹۹) مادو کی درج په اټکل شوی جزاء محکومیږی. ۲۳ ماده ، وهنه ټکونه: هغه شخص چی ښځه تر وهلو او ټکولو لاندی ونیسی خو پر ټپی کیدو یا معلولیت یی تمام نشی ، له احوالو سره سم په لنډ حبس چی له دری میاشتو څخه زیات نه وی ، محکومیږی.
[٧٠] پورتنی ۴ پایلیک ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون ۳ فصل ته مراجعه وکړئ.

لاربښوونو د وضع کولو سربیره چې د خشونت څخه د خلاصون په موخه او "د کورونو څخه د تیښتې" لپاره و ضع شوي دي د ښځو او نجونو بندي کول او د ناسم عدلي تعقیب کارول لا هم دوام لري. (لاندې برخې ته مراجعه وکړئ).

## ۵. ۲. د منځګړیتوب زیات کارول

د دې راپور له مخې منځګړیتوب /روغه جوړه "د طرفینو تر منځ د دوه اړخیزه تړون او پخلاینې له لارې د کورنۍ شخړې د حل په موخه د یوې هڅې" په مانا دی چې بنسټ یې د افغانستان د اساسی قانون[۷۱] په ۵۴ مادې ولاړ دی چې موخه یې د کورنۍ د نهاد ساتنه ده.[۷۲] په تیوري کې ، منځګړیتوب په دې مانا دی چې دواړه خواوې باید د هغوی د حقونو پر اساس خپل شرایط طرح کړي چې دا حقوق د افغانستان د قوانینو لاندې تضمین شوي او هغوی یو لیکلی تړون لاسلیک کړي چې ورته "تعهد نامه" وایي ، که چیرې په دې پروسه کې د قانون د تطبیق اداري ښکیلې وي.په افغان ټولنه کې د نارینه وو او ښځو تر منځ د قدرت نا برابرۍ ته په کتو سره ، دا اکثره ممکن نه ده څو دواړه خواوې په مساوي توګه خبرې اترې ترسره کړي. کلتوري نورمونو ته په کتو سره کورنۍ او ټولنه هم اکثره په خبرو اترو کې ښکیلې او داسې خبرو اترو ته لار هواره وي چې بنسټ یې د حقوقي چوکاټ په پرتله په کلتوري نورمونو ولاړ وي. سره له دې چې د دغه ډول منځګړیتوب د تنظیم لپاره معیارونه او لاربښوونې موجودې نه دي ، د قانون پلي کونکې اداري ، لکه د افغان ملي پولیسو د کورنۍ د غبرګون واحدونو ته دنده سپارل شوې چې د لومړی ګام په حیث منځګړیتوب ترسره کړي.

یوناما مشاهده کړې چې پولیس او څارنوالان د منځګړیتوب له لارې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د قضیو په حل کولو کې مخ پر زیاتیدونکی نقش لوبوي. دغه وضعیت د ظرفیت په اړه اندیښنې راپورته کړې ځکه چې زیات شمیر افغان ملی پولیس او د څارنوالیو کارکونکي چې په داسې خبرو اترو کې ښکیل دي نه دي روزل شوي یا د دغو پروسو او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په هکله اطلاعات نه لري. د دې ډول خلکو د شتون له امله احتمالي ویره او په عمومي ډول د منځګړیتوب له پروتوکول څخه د څارنې نشتوالی چې نه په قانون او نه هم په موسساتي لاربښونو کې شته ، په دې اړوند لا نورې اندیښنې دي.

یوناما په پراخه کچه موندلې چې د اړتیا وړ حقوقی معیارونو د تعقیبولو په پرتله ، افغان ملي پولیسو او د څارنوالانو دفترونو د شدیدو جرمونو په شمول یو شمیر قضیی د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونو لکه جرګو او شوراګانو ته د مشورو یا حل لارو د موندلو لپاره راجع کړي- دا یو داسې فعالیت دی چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تطبیق کمزوری کوي او د زیان لرونکو فعالیتونو مخه نه نیسی.[۷۳] د بیلګې په توګه ، د راپور ورکولو د مودې پرمهال ، د سمنګان په ولایت کې ، د ۵۵ ثبت شویو قضیو له جملې څخه ۲۲ دوسیې د پولیسو له خوا د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونو ته راجع شوي. لکه

[۷۱] د افغانستان د اساسی قانون ۵۴ مادې ته مراجعه وکړئ ، پورتنۍ ۴۸ پایلیک.
[۷۲] د لوي څارنوال دفتر سره غونډه ؛ همدارنګه د کورنی غبرګون د څانګی سره غونډه هم وکورئ ، د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر میاشت.
[۷۳] پورتنۍ لومړۍ برخې ته مراجعه وکړئ.

څنګه چې یوناما د مخه راپور ورکړی ، هغه پریکړې چې د داسې میکانیزمونو په نتیجه کې را پیدا کیږي اکثره په محلی سیمو کې د څواکمنو کسانو له خوا تر نفوذ لاندې راځي او بیلابیل طرزالعملونه کاروي او د یو لړ دودونو پر بنسټ داسې پریکړې ترسره کوي چې په دود ، دستور ، د اسلامي قانون څخه په بیلابیلو تعبیرونو او په محل کې د څواکمنۍ په اړیکو ولاړې وي او ځینې وختونه د قانوني یا مذهبي اصولو سره مغایرت لري. په نتیجه کې ، کله نا کله د ټولنې زیانمنونکې برخې په خاص ډول ښځې او ماشومان د لا زیاتو قرباني کیدو سره مخ کیږي.[٧٤]

د دې سربیره ، ارجاع کونکي چارواکي د منځګړیتوب یا د شخړو د حل د غیر رسمی میکانیزمونو په هکله هیڅ ډول نظارت نه لري او ښځې اکثره د خشونت د بیا پیښیدونکي خطر په معرض کې پاتې شوي کله چې دوي د شخړې د حل څخه وروسته په جبري توګه کورونو ته ستنې شوي دي. د منځګړیتوب او د شخړو د حل د غیر رسمي پروسو څخه د یوناما کتنې ښیی چې دغه ډول پیښې د کورنیو تر منځ را منځته کیږي او که چیرې کومه ښځه ملاتړه کورنۍ و نه لري ، نو بیا هغه په داسې یوه موقف کې نه ده چې د خپلو شرایطو پر بنسټ خبرې اترې وکړي. د قانون د انفاذ کومې ادارې چې د منځګړیتوب په پروسه کې ښکیلې دي هم روښانه لارښوونې نه لري او دا په پروسه کې هر انفرادي شخص دې ته اړ باسي څو طرزالعملي معیارونه پخپله تفسیر کړي او بیا خپل تفسیر عملي کړي چې څنګه د انفرادي دوسیې پر بنسټ خبرې اترې تر سره کړي. که چیرې خبرې اترې د قانون د انفاذ د ټیټې کچې په ادارو پورې اړه ولري هغو ته هم د څواکمنو ادارو په حیث کتل کیږي او ممکن په غیر مناسبه توګه خبرې اترې تر نفوذ لاندې راولي.

په ولایتي مرکزونو او لویو ولسوالیو کې د افغان ملی پولیسو د کورني د غبرګون واحد ته دنده سپارل شوې څو د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون لاندې د راپور شویو پیښو منځګړیتوب ته لومړیتوب ورکړي. د دې لامل لپاره ، د کورني غبرګون په واحد کې یو تعداد کافي ښځینه پولیسانې باید وګمارلې شي او هغوي باید د ښځو د حقونو د مسایلو او منځګړیتوب د خبرو اترو په برخه کې مناسبې روزنې تر لاسه کړي. لکه څنګه چې د کورني غبرګون واحد په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې شتون نه لري ، پایلې اکثرا داسې وي چې د پولیسو عادي کارمندان چې هیڅ ډول رسمي روزنې یې نه وي تر لاسه کړي او یا د ښځو پر علیه د خشونت د دوسیو په برخه کې د ځانګړو مسلو په اړه نه دي حساس شوي ، دوسیې فیصله کوي. د افغان کلتوري نورمونو او ټولنیزو ارزښتونو پر بنسټ ، په داسې حال کې چې په پروسه کې نورې ټولې ښکیلې خواوې د پولیسانو په شمول چې صلاحیت او قدرت هم لري (په وسلو سمبال) نارینه وي دا په ټولیز ډول د یوې ښځې لپاره مناسب او ممکن نه دي چې د خپلو ګټو د خوندي کولو په خاطر خبرې وکړي.

---

[٧٤] د ١ مخ په ٣ پایلیک کې د یوناما راپور "لا هم پر مخ اوږده پرته لار " وګورئ.

## ۳.۵ د کورونو څخه تیښته او د زناء قصد

*ما د (ج. ر.) سره د ۱۵ ورځو لپاره ټليفوني اړيکه لرله خو ما هغه هيڅ نه وه ليدلې او نه مې هم پيژانده. هغه زما څخه د ليدنې غوښتنه وکړه او ورانديز يې وکړ چې که چيرې موږ يو بل خوښ کړو نو بيا به نوموړی د خپلې کورنۍ له لارې ما ته د واده وړانديز وکړي. ما ومنله او د ده کور ته ورغلم. موږ د همدې کور په ميلمستون کې سره وليدل. کله چې زه خونې ته دننه شوم ، پوليسان راغلل او موږ يې ونيولو. زما طبي ازمويني څرګندوي چې زه باکره يم او ما زنا نه ده کړې ، خو زما دوسيه لا هم په محکمه کې ده. قاضيانو ويلي که چيرې موږ د يو بل سره واده وکړو نو موږ به ژر خوشې شو. نوموړی زما سره واده کولو ته چمتو شو او دواړو کورنيو د واده سره موافقه وکړه. د قاضيانو د غوښتنې پر اساس ،موږ بايد د يو بل سره په محکمه کې واده وکړو. زه د واده کولو په اړه ويره لرم ځکه چې زه لا تر اوسه هلک ښه نه پيژنم او کيدای شي نوموړی يواځې د بندي خانې څخه د وتلو په موخه زما سره واده ته چمتو شوی وي. که چيرې زه توقيف شوې نه وای ، نو ما به د نوموړي سره واده نه وای کړی او خپلې زده کړې به مې جاري ساتلې وای.*[۷۵]

**(ا.ا.) يوه ۱۷ کلنه توقيف شوې نجلۍ چې د زنا په قصد تورنه شوې ، د کندز ولايت**

اکثرا کله چې افغاني ښځې او نجونې د هغوی د محرم د اجازې نه پرته ،[۷۶] او يا د هغوی د ځای ځايګي په هکله خپلو کورنيو ته د معلوماتو د ورکولو پرته خپل کورونه پريږدي ، هغوی توقيف کيږي او "د کورونو څخه د تيښتې" په تور تورنيږي. افغان چارواکي داسې دوسيې "د زنا دقصد" په توګه څيړي او ثبت کوي.

زنا يوه عربي کلمه ده چې د ودګني ژوند څخه د باندې جنسي مقاربت عمل لپاره کارول کيږي چې دغه عمل د شرعي قانون له مخې منع دی. د شرعي قانون له مخې زنا د حدود جرم ، او يا د خدای(ج) د احکامو پر عليه جرم شمېرل کيږي او د دې عمل د ترسره کولو لپاره د سزا ورکول يو الزامي کار دی.[۷۷] خو کله چې زنا د حدودو د جرم په حيث ثابته نه شي ، نو دا په دې مانا ده چې د واده څخه وړاندې يا د ودګنې ژوند څخه د باندې د جنسي مقاربت په اړه هيڅ ډول شواهد موجود نه دي ، د دې عمل سره د جزا د قانون لاندې د تعزيري جرم په حيث معامله کيږي. په اسلام کې تعزيري جرمونه هغه جرمونه دي چې د اسلامی قانون په ابتدايی سرچينو کې صريح نصوص نه وی راغلي (ياني نه په قران او نه د پيغمبر په سنتو کې ذکر شوی وی). همدارنګه ، تعزيری جرمونه د دولت د اختياري صلاحيت څخه قاضی ته تفويض کيږي.[۷۸]

لکه څنګه چې يادونه شوې "د زنا د ترسره کولو قصد" د جزاپه قانون کې څرګند يا مدون جرم نه دی او نه هم په شرعی قانون کې منع شوی. په افغانستان کې ، نيونه ، عدلی تعقيب او "د زنا د قصد" لپاره محکوميت د پوليسو ، څارنوالانو او

[۷۵] د يوناما ساحوی نظارت ، د ۲۰۱۳ کال سپټمبر مياشت.
[۷۶] د يوې ښځې ميړه ، يا نږدې نارينه خپلوان (لکه پلار ، ورور ، تروه ، ماما او د هغی وريرونه) د چا سره چې د هغی لپاره د شرعی قانون لاندې ازدواج منع شوی دی.
[۷۷] د شرعی قانون له مخی د حدودو د جرم په حيث زنا معتبرو شواهدو ته اړتيا لري او بايد عمل ترسره شوی وی ، (د بېلګې په توګه ، د زنا د کولو قصد کافي نه دی). د حدودو د جرم په حيث د شرايطو د نه پوره کولو په صورت کې ، زنا د جزا د قانون د ۴۲۶ مې مادې لاندی د تعزيری جرم تر پوښښ لاندی راځي. سره له دی هم زنا د جزا قانون له مخی په روښانه توګه نه ده تعريف شوې. د سترې محکمې ۵۲۷ شمير تجويز په داسې يوې انګېرنې ولاړ دی چې ښايي د زنا عمل تر سره شي ځکه چې تر پوښتنې لاندې ښځه چې خپل کور پرېږدي دغسې يو احتمال ته ځان سپارلی دی. دغه انګيرنه حقوقي بنسټ نه لري ځکه چې قصد کول يواځې د زنا د جرم لپاره کافي نه دی ، او د هغې ثبوت تقريبا نا ممکن دی.
[۷۸] جی. بينملحا ، تعزيری جرمونه ؛ م. شريف باسيونی ، د اسلامی عدلي جنايي سيستم ۲۱۱-۲۲۵ (نيو يارک: د اوښنيه نشراتي شرکت ، ۱۹۸۲).

قاضیانو د اختیاري صلاحیت پر بنسټ ، د جزا د قانون د ۴۲۷ او ۲۹ مادو څخه د هغوي د تفسیر له لارې اکثرا د جرم د ترسره کولو "د نیت " د ضمني شواهدو په بنسټ تر سره کیږي.

په افغانستان کې هغه ښځې او نجونې چې له کورونو تښتي او د جزا د قانون د ۴۲۷ او ۲۹[۷۹] مادو له مخې په تعزیري جرم تورنې کیږي ، کله چې دغه دوړاه مادې یو ځای تعبیر شي نو بیا د "زنا د قصد" او یاد "د زنا د ترسره کولو په قصد" د اتهام لپاره اساس جوړوي. دغه دواړه مادې د افغان چارواکو له خوا یوځای تعبیریږي او د دې لپاره کارولې کیږي چې ښځې او نجونې په دې تورنې کړي چې د زنا د واقعي عمل قصد یې درلود. دشرعي قانون له مخې زنا یو داسې عمل دی چې د ښځې په ودګنې موقف یا عمر پورې تړاو نه لري.

یوناما د ساحوی نظارت له لارې مشاهده کړې چې د افغان چار واکو له خوا د زنا په قضیو کې د "نیت" تشخیصول ډیر ځله عندي خصلت لري او په معمول ډول په ضمني شواهدو تکیه کوي او اکثرا د یوه مشخص څارنوال او یا پولیس کارمند د نظر په محور را څرخي. د بیلګې په توګه کله چې یوه ښځه د یوه نارینه سره چې د نوموړې محرم نه کیږي په یو عام ځای کې ناسته وي ، ښایی "د زنا د قصد" په تور تر عدلي تعقیب لاندې راشي او محکومه شي ، لکه څنګه چې د څارنوال لخوا داختیاري صلاحیت په کارولو سره تشخیص شي او د جزا د قانون د دوه ګونو مادو په تعبیر سره دغه صلاحیت تقویه کیږي.

د ۲۰۱۲ کال په سپټمبر کې ، د افغانستان د عدلیی وزیر حبیب الله غالب ، د ښځو د چارو وزیری حسن بانو غضنفر او د کورنیو چارو د وزارت پخوانی مرستیال میرزا محمد یارمند د "زنا قصد" په خاطر د ښځو او نجونو د متهم کیدلو کړنی او د "زنا قصد" یا د "کورونو څخه د تیښتی" په تور د هغوی غیر قانونی بندی کیدل ،غندلي دي.[۸۰]

### ۵. ۳. ۱. د سترې محکمی ۵۲۷ شمېره تصویب

د ۲۰۱۰ کال په اګست میاشت کې ، د سترې محکمی ۵۲۷ شمېره تجویز په دې موخه صادر شو څو د لوي څارنوال دفتر او (څارنوالانو) ته د "کورونو څخه د تیښتې" د دوسیو د معامله کولو په برخه کې لارښوونې برابر ې کړي. په همدی ډول ، دا د یوه مثبت ګام په مانا و ، خو په عمل کې ډیر لږ څه بدلون وموند. د تجویز په حواله ، محکمې باید ارزونه ترسره کړي او مالومه کړي چې ایا هغه ښځه او نجلۍ چې د کور څخه تښتي مجرده یا واده شوې ده ، د کور څخه د هغې د تیښتې لامل او انګیزه څه ده ، او هغه ځای ته چې هغه تښتیدلې(د یوه خپلوان یا بیګانه کور دی). همدارنګه ۵۲۷ شمېره تصویب یادونه کوي چې که چېرې یوه ښځه یا نجلۍ د یوه بیګانه کور ته تښتي دا د شرعې د قانو ن خلاف عمل دی او په دې توګه نوموړې ځان د زنا او د نورو تړلو جرمونو په معرض کې راولي ، او په دې توګه د "زنا قصد" په حیث منع او د مجازاتو وړ دی. دغه

---

[۷۹] د جزا د قانون ۴۲۷ مادې (۱) فقره په اړونده برخه کې داسی وایی چې "که یو کس زنا یا لواطت وکړی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږی". د ۲۹ مادې (۱) فقره هم په اړونده برخه کې یادونه کوي چې "په جرم شروع د فعل د پیل کیدو د اجرا کولو څخه د جنایت یا جنحی د ارتکاب په قصد عبارت دی په دی ترتیب چې د فاعل د ارادی نه د باندی د ځینو سببونو له امله د هغی اثرونه متوقف یا حنثی شوی وی".

[۸۰] د ښځو ، بشري حقونو او مدنی ټولنې د پارلماني کمیټې ځانګړې غونډه ، کابل ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۱۶.

شرايط چار واکو ته د دې اجازه ورکوي چې په حنفي فقه او د جزا دقانون په تطبيق باندې په تکيه کولو سره دې ته ادامه ورکړي چې ښځې "د کوره د وتلو او يا د زنا د قصد په تور" تورنې کړي.

څه شی چې پېښيږي هغه دادي چې ۵۲۷ شميره تصويب د ښځو سره د يوه متهم مجرم په حيث سلوک کوي چې په کې د څارنوالانو څخه غوښتنه کيږي چې د ښځې له خوا د کور د پريښودلو مقصد تشخيص کړي ، د دې پر ځاي چې د هرې ښځې دا حق ومني چې خپل کور د محرم څخه پرته پريږدي. دا تحقيق کونکو ته د دې اجازه ورکوي چې د يوې ښځې مدني حالت او هغه ځای تشخيص کړي د کومه ځايه چې هغه تښتيدلې. که څه هم چې د کور د پريښودو انگيزه تر غور لاندی نيول کيږي ، د ښځو پر عليه د خشونت د بل القوه مرتکيبينو د تحقيقاتو په موخه لارښونې موجودې نه دي ، که چيرې دې پايلې ته ورسيږي چې ښځې د تاو تريخوالی له امله کور پرې ايښی. په ډيرو قضيو کې ښځې د "زنا په قصد" مظنونې کيږي ، مگر که ښځه او يا نجلۍ د دې وړتيا ولري دا ثابته کړي چې نوموړې د خشونت له امله کور پرې ايښي او يوې مناسبې موسسې ته يې مراجعه کړې ده (د مثال په توگه د ښځو د چارو رياست ته).

له هغه وخته چې ۵۲۷ شمېره تصويب د نيت د معلوملو په هکله د دې پر بنسټ چې د کور د پريښېدو څخه وروسته ښځه او نجلۍ چيرې تللې کلک ټينگار کوي ، دا ښځې او نجونې په ډيرو نا مساعدو حالتونو کې واقع کوي. په افغانستان کې يو شمير زياتو ښځو او نجونو ښوونی او روزنی ته لاس رسی نه درلود او ښايی هغوی د موجوده حکومتی ادارو لکه د ښځو د چارو د رياست د شتون څخه معلومات نه لري چې دوي د کور دپرېښو دلو پر مهال ورته مراجعه وکړي. په دې برسيره ، دا ډول ادارې په ټولو ولايتونو کې موجودې نه دي او په يو شمير زياتو مواردو کې دغو ادارو ته د ښځو او نجونو لاسرسی اسان نه دی. يوناما په دې باور ده چې ښځې او نجونې بايد د دې له امله جزا ونه ويني چې دوي " له مجوزو" حکومتي ادارو څخه د کورونو د پرېښودلو پر مهال يا خبر نه لري او يا يې ورته لاس رسی نه شته.

### ۵. ۳. ۲. "د کورونو څخه د تيښتې" په هکله د لوي څارنوال د دفتر 92/202 شمېره ابلاغيه

د سترې محکمې د روش د تقويت په موخه ، د لوی څارنوال دفتر د ۲۰۱۲ کال د اپريل د مياشتی د ۱۱ نيټی د ۹۲/۲۰۲ شميری عاجلی ابلاغيې په شمول نورې لارښونې صادرې شوي ، دا اطلاعيه د ښځو پر عليه د خشونت د منع د قانون د واحدونو څخه غوښتنه کوي څو د څارنوالانو ټولو دفترونو ته لارښونې واستوي چې د "کورونو څخه د تيښتې" او د "زنا د قصد" لپاره د ښځو پر عليه اتهامونه وارد نه کړي ځکه چې دا د افغان قانون لاندې ريښتينی مدون جرم نه دی.[۸۱]

د ۲۰۱۲ کال په ډسمبر کې ، ستری محکمی د لوی څارنوال دفتر ته يو مکتوب (۳۴۷/۸۲۰) واستاوه ، په دې مکتوب کې يادونه شوی چې د کورني خشونت څخه د تيښتی په موخه د کورونو څخه تښتيدل او د حقوقی نهادونو ،د حقوقی مرستې د سازمانونو او د خپلوانو څخه د مرستی غوښتنه جرم نه دی او بايد تر عدلی تعقيب لاندی و نه نيول شی ، او محکمی او

[۸۱] د لوي څارنوالی د ۲۰۱۲ کال د اپريل ۱۱ نيټی ۲۰۲/ ۹۲ شميری بيړنۍ اعلاميه ، د لوي څارنوال دفتر لخوا يوناما ته سپارل شوې.

ځارنوالان باید "د کور ځخه د تیښتی" اصطلاح پداسې قضایی دوسیو کې و نه کاروی.[۸۲] په مکتوب کې راغلی چې د کورني خشونت ځخه د تیښتی پرته د بل هر ډول لامل لپاره د کور ځخه د تیښتی سره باید بل ډول چلند وشی او باید تر عدلی تعقیب لاندی ونیول شی. د دی روش په برخه کې اساسي ستونزه داده چې د یوې ښځې یا نجلۍ سره چلند چې کو ر یې د " مظنونې مجرمې" په توګه پرې ایښی وي ، لا جاری دی او ځارنوال ته د دې اختیار شته چې د هغې د کور دپریښودلو لامل تشخیص کړي. دغه شرط یو ډیر عندي تشخیص دی چې د مشخصو شواهدو په نشتوالي کې کیږي لکه چې تر مخه یې یادونه وشوه.

د ستری محکمی لخوا د بلخ ، کابل او هرات د ولایتونو په هکله یوناما ته سپارل شویو راپورونو ښودلې چې د لوي ځارنوال د دفتر او سترې محکمې د لارښونو په نقض کولو سره چارواکو د کورونو ځخه د تیښتې او د زنا د قصد لپاره د ښځو او نجونو د بندی کولو لړۍ ته دوام ورکړی. د ۲۰۱۲ کال د مارچ ځخه د ۲۰۱۳ کال تر مارچ پورې سترې محکمی په دریو ولایتونو کې ۲۸۳ انفرادی محکومیتونه ثبت کړي (زیاتره ښځې)، په دې کې د زنا یا د کورونو ځخه د تیښتی/ د زنا قصد ۷۱ محکومیتونه دي. د تخار په ولایت کې ، محکمی د کورونو ځخه د تیښتی/زنا د قصد په تور ۴۸ ښځې او ځوانې نجونې محکومې کړې دي.[۸۳]

یوناما په ډاګه کوي چې "د زنا د قصد" په تور د زیاتو ښځو او نجونو متهم کول د نړیوال بشري حقونو د قانون لاندې د افغانستان د حقوقی ژمنو سره په سمون کې نه دی.[۸٤] د زنا په اړه پراخ تفسیر چې "د زنا د ارتکاب د نیت" شمولیت ته اجازه ورکوي لا هم د قضایی چارواکو لخوا تطبیق کیږي او د ښځو سره تبعیضي چلند کوي ، د ښځو او نجونو او د ډیرو زیانمنونکو ښځو د ازادۍ او خوځښت د اساسی حقونو سرغړونه کوي. د خوځښت د ازادۍ دغه ډول جنایی کول په اتومات ډول د ښځو لپاره یو شمیر نور فرصتونه د محدودیت سره مخ کوي او ښځې تر فشار لاندې راولي چې په ټولنه کې ټیټ موقف وساتي. دا ډول چلند په دودیزو انګیرنو ولاړ دی چې د جنډر له مخې تبعیضي بڼه لري او د افغاني فرهنګ له مخې منل شوی او تقویه کیږي.

یوناما د حکومت او قضایی چارواکو ځخه غوښتنه کوي چې د لوی ځارنوال د دفتر او سترې محکمې لارښوونې توضیح او په بشپړ ډول پلي کړي ځو یقینی کړي چې ښځې او نجونې د کورونو ځخه "د تیښتې /د زناء د قصد" په تور محکومې او بندیانې نه کړي.

---

[۸۲] د سترې محکمې د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر ۳۱ نیټی ۸۲۰/۳۲۷ شمیره مکتوب ، د یوناما ارشیف- د سترې محکمې لخوا سپارل شوی.

[۸۳] د یوناما ساحوي نظارت ، د ۲۰۱۳ کال اکتوبر ، د کندز ولایت.

[۸٤] د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو (د سیډا) کنوانسیون د ۲می مادی ،د (f) (f) فقره: "د قانون جوړونې په شمول د مناسبو اقداماتو نیول ځو موجوده قوانین ، قواعد ، رواجونه او عملونه چې د ښځو په وړاندې تبعیض کوي تعدیل او یا لغوه کړي". ۵ ماده: "غړې هیوادونه باید ټول مناسب اقدامات ونیسي: چې د نارینه وو او ښځو د ټولنیز او فرهنګي د سلوکو روشونو ته په دې موخه بدلون ورکړي چې ټول هغه تبعیضونه ، رواجونه او نور عملونه له منځه یوسي چې د یو جنس د فوقیت او یا مادونیت پر اساس ولاړ وي یا د ښځو او نارینه وو لپاره په کلیشه یی نقشونو باور لري ؛ د سیډا کمیټې ۱۹ شمیره عمومي سپارښتنی. http://www.un.org/womenwatch/daw/recommindations/recomm.htm.

د يوې بيړنۍ موضوع په حيث ، چارواکی باید له ځنډ پرته ټولې داسې دوسیې وڅیړي او هغه ښځې او نجونې چې په ناسمه توګه بندیانې شوي ژر تر ژره له بنده خوشې کړي.

## ۵. ۴. ښځې په پولیسو کې

یوناما مشاهده کړې چې افغانې ښځې اکثره په عام ژوند کې لا هم د ګواښونو ، توپیر ، بیرونو او خشونت سره مخ دي. ښځې نه یواځې د شورشي ډلو له خوا تر هدف لاندې نیولې شوي بلکه کله نا کله د حکومتي موسساتو په دننه کې هم د ګواښونو ،ډارونو او جنسي ځورونې سره مخ شوي دي. د پولیسو ځواک یو هغه نهاد دی چیرې چې ښځې یواځې د ټول ځواک یو فیصد برخه جوړوی او له دې امله په خاص ډول زیانمنونکې دي. که څه هم چې د کورنیو چارو د وزارت لخوا د ښځینه پولیسانو د شمېر د زیاتوالی په موخه یو شمیر هڅې لارې ته اچولې شوي خو بیا هم د پولیسو د ځواک په دننه کې د صلاحیت څخه د ناوړې ګټې او جنسي ځورونې څخه د ښځو د ساتنې په موخه ډېر کم میکانیزمونه موجود وو او پلی شوي هم نه دی. یوناما مشاهده کړې چې په افغان پولیسو کې د ښځو اوسنی حالت د هغوی د ساتنی ،پرمختګ او زیاتی برابری لپاره مساعد نه دی. د پولیسو په ځواک کې د کمو ښځو شتون هم د خشونت د ښځینه قربانیانو مخه ډب کوي څو خپل شکایتونو ثبت کړي.

یوناما د کورنیو چارو د وزارت څخه غوښتنه کړې څو د ښځینه پولیسانو د کاري حالتونو او وضعیت د ښه کولو په هکله یو لړ تدبیرونه اتخاذ کړي څو د جنسی ځورونی او سرغړونی پر علیه ښځینه پولیسانی په ښه توګه وساتي او په دې توګه په ټول هیواد کې د ښځو پر واندی د تاوتریخوالی سره د ځواب ویلو په برخه کې د ښه والی د مسئلی سره مرسته وکړی.

## ۵. ۵. کلیدی ننګونې

یوناما څرګندوی چې یو شمیر زیاتی ورته ننګونې لکه څنګه چې په پخوانیو راپورونو کې موندل شوی او د کومو سره چې افغان ښځې او نجونې مخ دی ، په خپل ځای پاتی دی. دا ښي چې دا د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د مسئلی د ځوابولو او د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په برخه کې د یوی جامعی او ښی تمویل شوی ستراتیژی نه شتون د خشونت او ضررلرونکو فعالیتونو څخه د ښځو او نجونو د ساتنی هڅی ټکنی کړي دي.

د قانون د تطبیق کوونکو ادارو په منځ کې د پوهاوی نه شتون ،کلتوری تعصب ، او همدارنګه د ټولنو په منځ کې منفی درکونه د قانون د پلی کولو په برخه کې د کلیدی خنډونو په حیث په ځای پاتې دي. یوناما د عدالت د تطبیق یوه انتخابی په کار اچونه کومه چې د ټولنیزو نورمونو او ارزښتونو په هکله په تقویت تمرکز کوي او کومه چې د ښځو سره تبعیض امیزه چلند کوي مشاهده کړې (د بیلګی په توګه ، "د کورونو څخه د تیښتې یا د زنا قصد لپاره د ښځو د نیولو او تعقیبولو پر سر تینګار مګر د خشونت د نارینه وو مرتکبینو د نیولو او تعقیبولو پر سر هیڅ تینګار نه دی شوی.

### ۵. ۵. ۱. د صلاحیت لرونکو ښځینه پولیس کارکونکو کموالی

د پولیسو د ظرفیت مسئلی همیشه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د پیښو او د قضایی پروسی د کارولو د مناسبی څیړنی مخه نیولی. یوناما د هغو ښځو زیات شمیر چې پولیسو ته یې د خشونت په اړه راپور درج کړی او همدارنګه په مساوی توګه د هغو ښځو زیات شمیر چې خپلی دوسیې یې بیرته اخیستی او یا یې قضیی حل شوی ، مشاهده کړي. د دغو ښځو سره د یوناما د خبرو اترو پر بنسټ ، یادونه شوی چې د هغو ښځو پر وړاندی چې غواړی راپورونه ثبت کړي اکثرا کم درک او حساسیت موجود دی. له هغه ځایه چې اکثره پولیس نارینه دی او ښایی هغوی د ښځو د وضعیت سره حساس نه وی ، دا ښځې د راپور ورکولو څخه را ګرزوی. دا د قانون د تطبیق کوونکو ادارو د راپور شویو پیښو په پرتله د ښځو د چارو د ریاستونو د راپور شویو پیښو په شمیرو کې د توپیر څخه جوتیږی. د پلټونکو کارکونکو په حیث د صلاحیت لرونکو کمو ښځینه پولیسانو کارکونکو ټاکلو هم عدالت ته د یو شمیر زیاتو ښځو لاسرسی مختل کړی دی.

### ۵. ۵. ۲. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د نقض په اړه په منځګړیتوب ټینګار

په یو شمیر زیاتو مواردو کې د منځګړیتوب په هکله زیات ټینګار مشاهده شوی چې له مخې یې د ښځو ساتنې ته لږ لومړیتوب ورکړل شوی او ډیر ځله دښځو پر ضد د خشونت لامل شوی. د هغو انفرادی کسانو او پولیسو لخوا د منځګړیتوب ترسره کول چا چې د منځګړیتوب په برخه کې روزنی او مهارتونه نه وه ترسره کړي او د نظارت او تعقیب په هکله ښکاره احکام نه درلودل هم ښځې د دوامداره خشونت په معرض کې واقع کړې دي. د پولیس ځواک په دننه کې ، د کورنی غبرګون واحدونو ته د منځګړیتوب د ترسره کولو دنده سپارل شوی خو دا واحدونه په ټولو ولایتونو کې موجود نه دی او په کافی شمیر ښځې نه دی په کی ګمارلی شوی. ورته مسئله د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د جزایی تعقیب پر تخصصی واحدونو چې د ۳۴ ولایتونو له جملی څخه یواځی په ۸ ولایتونو کې موجود دی هم د اجراء وړ ده ، او د هماغه نورو واحدونو په شان په دې واحدونو کې هم په کافی شمیر کی ښځی نه دي ګمارلې شوې او په مناسبه توګه نه دی تجهیز شوي. د افغانستان په اساسي قانون کې په کورنیو ارزښتونو او د کورنۍ د بنسټ په ساتلو د ټینګار په منلو سره دغه ارزښتونه باید د اساسي قانون له مخې د ښځو حقونو له پامه ونه غورځول شي.

### ۵. ۵. ۳. د سیستماتیکو اطلاعاتو د راغونډولو نه شتون

لکه څنګه چې د یوناما لخوا د مخه موندل شوی ، د راپور شویو او ثبت شویو پیښو د شمیر او په هیواد کې د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د دوسیو په هکله جامع رسمی احصائیی موجودی نه دی. د سرغړونو د نوم لړ په هکله چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون تر پوښښ لاندی راځی هیڅ ډول ستندرډ معیارونه چې په عمومی توګه درک شی او د قانون د تطبیق د بیلابیلو نهادونو ، د ولایتی کچی د ښځو د چارو د ریاستونو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا شریک شی ، موجود نه دی. دا وضعیت د ښځو پر ضد د خشونت د وسعت ، ماهیت او د لاملونو د میزان ، خنډونو او

شیوع د پیژندلو او تحلیل په برخه کې یو شمیر زیاتی ننګونې را منځ ته کوي ، که چیری دا ننګونې په بشپړه توکه معلومی شی نو کیدای شی مناسبی اصلاحی چاری او حل لارې وښي.

مهمه ده یادونه وشی چې افغان چارواکو د ښځو د چارو د وزارت تر مشرتابه لاندی د اطلاعاتو د راغونډولو په برخه کې د یوی ستونزی په حیث کموالی پیژندلی دی ، او د ډیټابیس د جوړولو پروسه دښځو چارو د وزارت تر مشرتابه لاندې دوام لری. سره له دې ، هر ډول هڅی چې موخه یې د اطلاعاتو د راغونډولو په هکله د مسیر تعیینول وي باید د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په هکله د بیلابیلو ریاستونو په دننه کې د موجوده انفرادی ویشل شوی سیستمونو برابرول وي. په یو شمیر ولایتونو کې د تخنیکی زیربنا نه شتون دغه ستونزه را منځ ته کوي. د توکیو د حساب ورکونی د دوه اړخیزه چوکاټ د تړون د یوی برخی په حیث د افغانستان حکومت متعهد دی چې د ۲۰۱۲-۲۰۱۳ کلونو تر پایه پورې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق په اړه یو جامع راپور وړاندې کړي ، که چیری دا تر لاسه شی نو کیدای شی د ټولو اندیښنو د هوارۍ په برخه کې مرسته وکړی او په هیواد کې د ښځو او نجونو پر ضد د دوامداره خشونت په وړاندې ښه ځواب و ویلای شي.

**۵. ۵. ۴. د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په هکله منفی انګیرنې (یا د دی قانون په هکله نه پوهاوی)**

د یوناما د ساحوی نظارت پر مهال ، ګڼ شمیر قضایی کارکونکو او د پولیسو کارمندانو د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون او همدارنګه د دی قانون د تطبیق په هکله د بی میلۍ په اړه منفی انګیرنې څرګندې کړي دي او د هغه د تطبیق په اړه زړه نا زړه وو. د دغه ډول انګیرنو اساس اکثره په کلتوری ارزښتونو ، تعصب او د شرعی قانون په محافظه کارانه تفسیر باندې ولاړ دی. دغه انګیرنې ښځې د هغوی پر وړاندې د ترسره شوی خشونت په هکله د راپور ورکولو څخه را ګرځوی.

د افغان وګړو په منځ کې د پوهاوی نه شتون په ټوله کې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د پلی کولو په برخه کې د یوی لویی ننګونې په حیث په ځای پاتې شوی. د پوهاوی دا نه شتون په نسبی توګه په هغو کمو دوسیو کې چې د چارواکو لخوا ثبتې شوی دی په څرګند ډول منعکس شوی. د ښه او ترویج شوی پوهاوی اغیزې د هغه حقیقت پر اساس څرګندی شوی چې د ښځو پر علیه د خشونت د راپور شویو دوسیو شمیر د هیواد د نورو سیمو په پرتله او تر یوی اندازی ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تخصصی واحدونو له امله ، د هرات او کابل په ولایتونو کې چیری چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د پوهاوی کچه او څرګندوالی لوړ دی ، زیاتې دي.

**۵. ۵. ۵. د ښځو د خوځښت ازادي او "د زنا د قصد" تورونه**

د افغان څارنوالانو او محکمو له خوا له کور څخه د تیښتې دوسیې تر حنفی قانون لاندی را وستل او پر هغه باندې پرلپسې ټینګارکول او د ستری محکمی او لوی څارنوال د دفتر لخوا د برابر شویو لارښوونو سره مخالفت ، د ښځو د خوځښت ازادي له ګواښ سره مخ کوي. د زنا په اړه پراخ تفسیر چې " د زنا د کولو قصد" احتواء کوي او دقضایي چارواکو له خوا عملي کیږي

ښځو ته ځکه زیان اړوي چې دوي له خپلو بشري حقونو او د افغانستان په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې له ګډون کولو څخه محروموي.

## ۶. پایله

حکومت کولای شی د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق له لارې ښځې او نجونې د خشونت څخه په بشپړه توګه وساتی. خو بیا هم مخ ته پرته لار څرګنده ، روښانه او د لاسرسی وړ ده. یوناما د افغانستان په حکومت غږ کوي چې د دې راپور سپارښتنې او د ښځو پر ضد د خشونت د ټولو ډولونو د منع کولو د کنوانسیون (سیډا) د کمیټې سپارښتنې په پام کې ونیسي او هغه په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د خپلو همیشنیو هڅو په لړ کې د لومړیتوب په توګه تعقیب کړي.

## لومړی ضمیمه: د تطبیق په اړه د یوناما د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ راپورنو سپارښتنې

| نهادونه / تطبیق کوونکی مسؤول نهادونه | سپارښتنې | د تطبیق څرنګوالی | راپور |
|---|---|---|---|
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې د ولایتي کمیسیونو لپاره ، د دې کمیسیونو د غړو په شمول ، د دندو د لایحو طرح کول او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د ثبت او پیګیرۍ لپاره د کړنلارو جوړول. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوې (لایحه تدوین شوې لاکن کړنلاره نه ده تدوین شوې) | ۲۰۱۱ |
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د دې اطمینان حاصلول چې د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون یوه فعاله دارلانشا ولري څو په دې وتوانیږي په اغیزمنه توګه د پریکړو پیګیري وکړي. | معلومات په لاس کې نه دي | ۲۰۱۱ |
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د ښځې پر علیه د خشونت د منع د قانون د ۱۶مې مادې سره سم د یوې فرعي کمیټې جوړول چې په ځانګړې توګه د دولتي خدمتونو ، ساتنې او حقوقي مساعدتونو د برابرولو له لارې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قربانیانو څخه ملاتړ وکړي. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ |
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د ولایتي کمیسیونو د کړنو د ارزونې لپاره د یوې نظارتي میکانیزم جوړول او د کارې پلانونو د طرح کولو او لازمو مهارتونو د لوړولو په موخه د دغو کمیسیونونو سره همکاري څو خپل مسؤولیتونه سرته ورسوي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوې (د ښځو پر وړاندې خشونت سره د مبارزې د ولایتي کمیسیونونو څخه راپور اخیستل یوازینی میکانیزم دی) | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د مدني ټولې ، د غیردولتي ادارو په شمول ، چې د ښځو د حقونو په ډګر کې فعالیت کوي ، د امن د کورونو د مسؤولینو او نړیوال همکارانو څخه غوښتنه کوي چې د مشخصو موضوعاتو په اړه د راپور ورکولو او د عالي کمیسیون د کار څخه د ملاتړ په موخه د کمیسیون په غونډو او ناستو کې د مشاهدینو په صفت ګډون وکړي. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د ولسوالۍ په کچه د ارجاع میکانیزمونه طرح او عملي کړي او د دې کمیسیون یوه غړې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د ۱۶مې مادې له مخې دغه میکانیزمونه هم غړې کړي څو د قانون پلې کوونکې مربوطه ادارو ته د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قربانیاني معرفي شي ؛ د دوی قضیې پیګیري وشي ؛ او یا هم هغو موسسو ته دوی معرفي شي چې د سرپناه ، رواني او ټولنیز ساتنې ، حقوقي او روغتیایي مرستو خدمتونه او اسانتیاوې برابروي . | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۲ |
| د ښځو چارو وزارت او د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د ښځو چارو وزارت ، د کورنیو چارو او عدلیې وزارتونو او لوی څارنوالۍ په همغږۍ سره ، د تاوتریخوالۍ د ډله بندۍ او تفکیک لپاره د یوه معیاری شاخص ترتیبول څو په ګډه توګه د قانون د تطبیق کوونکی ټولو ادارو او د ښځو چارو د ریاستونو له خوا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د ټولو شکلونو د ثبتولو په وخت کې وکارول شي د هغو قضیو په شمول چې د ښځو پر | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | علیه د خشونت د منع په قانون کې جرم نه دي پېژندل شوي لکه: ناموسي قتلونه او هغه څه چې اخلاقي جرم ویل کیږي او د مدني قضیو څخه د دوی تفکیک. | | |
| د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې عالي کمیسیون | د تاوتریخوالي د قربانیانو د بشپړ ساتنې په منظور د منځګړیتوب د څرنګوالي د کارولو لپاره د یوې لارښود ترتیبول تر څو دغه لارښود د ښځو چارو د ریاستونو ، پولیسو او څارنوالیو له خوا عملي شي ، د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې د اختصاصي څارنوالیو په شمول. | نه دي تطبیق شوي | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| حکومت | د هدایاتو په صادرولو سره والیانو په دې متوجه کړي شي څو د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې ولایتي کمیسیونونو د مشرتابه مسؤولیت په غاړه واخلي ، څرنګه چې د دغه مسؤولیت د دې کمیسیون په لارښود کې تصریح شوي دي. | نه دي تطبیق شوي | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| حکومت | د حکومت په لوړو لیکو کې ، د جمهور رئیس په شمول ، په عامه انظارو کې په دې تاکید کول چې د ښځو د حقونو ملاتړ او ساتنه په ټول افغانستان کې د سولې او پخلاینې د پروګرام یوه نه بیلیدونکې برخه او اساسي لومړیتوب دی او د هیواد د سیاسي ، اقتصادي او امنیتي ستراتیژیو یوه مرکزي پایه جوړوي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوي | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| حکومت او نړیوال همکاران | د نړیوال شریکانو په یووالي سره د جنسیت د تساوي ، د ښځو د توانمند کیدو او د ښځو پر علیه د خشونت د منع دقانون د اغیزمن تطبیق په موخه د توکیو په اعلامیه کې او د جمهوري ریاست د ۴۵ نمبر په فرمان کې د درج شویو ژمنو د عملي کولو لپاره د یو نظارتي چوکاټ جوړول. | تطبیق شوي | ۲۰۱۲ |
| حکومت | د دې اطمینان حاصل شي چې د ښځو پر وړاندې ټول هغه اعمال چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون کې جرم پیژندل شوي ، په خاص ډول غټې قضیې ، په مناسب وخت تر پلټنې او تعقیب لاندې راشي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوي | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| ستره محکمه | د دې اطمینان حاصل شي چې ټول قاضیان د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په هکله لازمې روزنې واخلي او دغه روزنې د روزنیزو پروګرامونو یوه الزامي برخه واوسي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوي (دغه قانون د قضا د استاژ په دوه کلنه دوره کې تدریس کیږي) | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| ستره محکمه | د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د احکامو او د نورو قوانینو په همغږۍ سره د دغو احکامو د بشپړ تطبیق په هکله محاکمو ته لازم لارښودونه او توضیحات صادر شي. | معلومات په لاس کې نه دي | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| ستره محکمه | په ټول هیواد کې د فامیلي او یا ابتداییه محاکمو په چوکاټ کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د جرایمو د رسیدګۍ لپاره د اختصاصي دیوانونو جوړول په نظر کې ونیول شي. په دغه دیوانونو کې موظف قاضیان به وکولای شي د ضرورت وړ مهارتونو ته وده ورکړي او د یو زیات شمیر قضیو په رسیدګۍ کې د جزا عمومي دیوان | نه دي تطبیق شوي | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | سره مرسته وکړي. | | |
| ستره محکمه | د جزان قانون د ۳۹۸می مادی د یو واضح تفسیر صادرول څو د دغې مادي د ناوړې استفادې څخه مخنیوی وشي او همدارنګه د دې مادي د لغوې لپاره هم اقدام ترلاس لاندې ونیسي. د اوسنې مادي له مخې د هغو جرمونو په جزا کې کموالی راځي چې د ناموس د ساتنې په نامه تر سره کیږي. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱او ۲۰۱۲ |
| د عدلیې وزارت | د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې د عالي کمیسیون او د حقوقي روزنو د ملي مرکز سره ګډ د عدلي او قضایي کارکوونکو لپاره د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په هلکه روزنیز پروګرامونه دایر کړي. هغه قاضیان چې دغه قانون په بریالیتوب سره تطبیق کړي دی د نورو په روزنه کې برخه واخلي. | معلومات په لاس کې نه دي | ۲۰۱۱او ۲۰۱۲ |
| د عدلیې وزارت | اطمینان حاصل شي چې هر هغه قانون چې د رسمي عدلي نظام او شخړو د هوارولو دودیز جوړښتونو (جرګو او یا شوراګانو) تر منځ اړیکې تعریفوي او تعینوی د ملي قوانینو ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په شمول ، سره مطابقت ولري او د دغو جوړښتونو له لارې د شدیدو او د خشونت څخه ډکو جرایمو د رسیدګې مخنیوی وکړي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوی | ۲۰۱۱ |
| لویه څارنوالي | ټولو څارنوالانو ته دې هدایت صادر شي او دوی ته روښانه شي چې کومې قضیې باید تر جزایي تعقیب لاندې راشي او کوم یې د منځګړیتوب لپاره راجع شي. د دې اطمینان هم حاصل شي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ټول شدید جرمونه تر قانوني پیګرد لاندې راشي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوی | ۲۰۱۱او ۲۰۱۲ |
| لویه څارنوالي | اطمینان حاصل شي چې د عمومي جزا ریاست او د لوی څارنوالي نور اړوند ریاستونه د څارنوالیو له د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق د څرنګوالي څخه نظارت کوي. | معلومات په لاس کې نه دي | ۲۰۱۱او ۲۰۱۲ |
| لویه څارنوالي | د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې د څارنوالانو په ګمارلو سره په کابل کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ټولې قضیې تر نظارت او پیګیرۍ لاندې ونیسي چې د څیړنې لپاره سترې محکمې ته استول کیږي. دې ته کولای شي چې د ۱۳۹۱ په تشکیل کې ځای ورکړ شي. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱او ۲۰۱۲ |
| لویه څارنوالي | د څارنوالیو په ولایتي دفترونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیو د عدلي تعقیب لپاره د څانګړو د کمیسیونونو او څانګو جوړولو او ملاتړ ته دوام ورکړي کافي بشري او لوژستیکي منابع د دوی په اختیار کې ورکړ شي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوی | ۲۰۱۱او ۲۰۱۲ |

[85] د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضاییه قوې د تشکیل او صلاحیتونو قانون د ۶۱ می مادي ۲می فقرې ته مراجعه وکړئ: "د ضرورت په وخت ، د جمهور رئیس د منظورۍ څخه وروسته ستره محکمه کولای شي چې د ولایتي مرکزونو په ابتداییه محاکمو کې نور دیوانونه هم جوړ کړي. د ضرورت په اساس ، د ولایتي مرکز د ابتداییه محکمې مشر کولای شي چې د یو دیوان غړي په بل دیوان کې وګماري."

| | | | |
|---|---|---|---|
| لویه څارنوالي | د ټولو څارنوالیو لپاره ، د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې د اختصاصي څارنوالیو په شمول ، د ښځو پر وړاندې د ټولو قضیو د رسیدګۍ په منظور یو مرکزي دیټابیس جوړ شي. د څارنوالانو د اجرااتو د اورزونې په موخه د اجرااتو د ارزونې د یو سیستم د جوړولو له لارې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د رسیدګۍ لپاره دغه قضیې په سمه توګه تر پلټنې او عدلي تعقیب لاندې روالې. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۲ |
| لویه څارنوالي | په کابل کې د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزې د اختصاصي څارنوالي اجرات تر ارزونې لاندې ونیسي تر څو دا معلومه شي چې ولې د ټولې ثبتې شوې قضیې له جملې څخه یوازې کم شمیر قضیې تر قانون پیګرد لاندې راغلي او څنګه کیدای شي چې د دغه اداري اجراات دوه وموم‌ي. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ |
| د داخلي چارو وزارت | د ښځو پر ضد د تاوتریخوالي د قضیو په وړاندې د پولیسو حساس کول او د روزنیزو پرګرامونو له لارې د قربانیانو اړتیاوو په ځواب ویلو کې د قانون له مخې د پولیسو نقش ته دوه ورکول. | تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د داخلي چارو وزارت | د کورنی تاوتریخوالي د غبرګون څانګې د ټولو کارکوونکو لپاره د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په هلکه د خاصو روزنیزو پروګرامونو برابرول. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د داخلي چارو وزارت | د پولیسو د جنایي تحقیقاتو ریاست ، د کورنی تاوتریخوالي د غبرګون څانګې په شمول ، لپاره دې لارښوونې صادر او دوی ته روښانه شي چې کومې قضیې باید تر پلټنې او عدلي  تعقیب لاندې راشي او کوم یې د منځګړیتوب لپاره راجع شي. د دې اطمینان هم حاصل شي چې هغه قضیې چې د منځګړیتوب لپاره راجع او یا هم په خپله د پولیسو له خو منځګړیتوب کیږي په سمه توګه ثبت او په رسمي ډول مستند کیږي. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د داخلي چارو وزارت | اطمینان حاصل شي چې ټولې هغې ښځې چې د مرستې د ترلاسه کولو لپاره پولیسو ته مراجعه کوي وکولای شي بې له ځنډه او واسطه د کورنی تاوتریخوالي د غبرګون څانګې سره سلا او مشوره وکړي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د داخلي چارو وزارت | اطمینان حاصل شي چې د کورنی تاوتریخوالي د غبرګون څانګې د جنایي تحقیقاتو د عمومي ریاست په چوکاټ کې واوسي او د دې څانګې کارکوونکي د پلټنې او تفتیش په هلکه د روزنیزو پروګرامونو څخه برخمن وي او د دې توان ولري چې د کورنی تاوتریخوالي ، جنسي تیري او یا د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د نورو قضیو په پلټنه کې ګډون وکړي. | تر یو اندازې پورې تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د داخلي چارو وزارت | د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو قضیو لپاره د یو مرکزي دیټابیس جوړول چې د جنایي تحقیقاتو د ادارو ، د کورنی تاوتریخوالي د غبرکون څانګې او د پولیسو د نورو اړوندو ادارو اطلاعات په هغه کې ثبت شي. | تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د داخلي چارو وزارت | د هغو قربانیانو د ساتنی په منظور چی د قضیو د منځګړیتوب څخه وروسته خپلی کورنی او ټولنی ته راستانه کیږی ، د دغو قضیو د درستو ثبتولو او پیګیری لپاره یو اغیزمن میکانیزم طرح کړی. | تر یو اندازی پوری تطبیق شوی (د قربانی سره اړیکه تر دوو اونیو پوری ساتل کیږی) | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| د داخلي چارو وزارت | د پولیس افسرانو د اجرااتو د ارزونی لپاره د اجرااتو د ارزونی د یو سیستم د جوړولو له لاری د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د قضیو د رسیدګی په منظور دغه قضیی په سمه توګه ثبت او تر پلټنی او عدلی تعقیب لاندی راولی. | معلومات په لاس کی نه دی | ۲۰۱۲ |
| د مالیی وزارت | د ښځو چارو ، حج او اوقاف ، عدلیی ، عامی روغتیا ، اطلاعاتو او فرهنګ ، معارف ، او عالی تحصیلاتو وزارتونو لپاره کافی منابع او ملاتړ برابر کړی څو دوی وکولای شی د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په رڼا کی خپل مسؤولیتونه ادا کړی. | معلومات په لاس کی نه دی | ۲۰۱۱ |
| د مالیی وزارت | اطمینان حاصل شی چی د ښځو پر وړاندی د خشونت سره د مبارزی د عالی کمیسیون ټول فعالیتونه چی د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون پر بنسټ سر ته رسیږی ، په کافی اندازه تمویل کیږی. | نه دی تطبیق شوی | ۲۰۱۱ |
| نړیوال تمویل کوونکی | د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق په منظور ، په ټول هیواد کی د عامه پوهاوی د کمپاینونو په شمول ، او همدارنګه د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزی د کمیسیونونو لپاره د روزنیزو پروګرامونو له لاری د دولتی هڅو اجرااتو څخه ملاتړ زیات کړی. | معلومات په لاس کی نه دی | ۲۰۱۱ |
| نړیوال تمویل کوونکی | د حکومت له خوا د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملی پلان (۱۳۷۸-۱۳۹۷) د تطبیق څخه ملاتړ وکړی ، په خاص ډول د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق د ستراتیژی طرح او پلی کول. | تر یو اندازی پوری تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| نړیوال تمویل کوونکی | د ښځو د ساتنی د مرکزونو څخه خپل ملاتړ زیات کړی چی د تاوتریخوالی د ښځینه قربانیانو د ساتنی لپاره سرپناه برابروی. همدارنګه د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزی د اختصاصی څارنوالیو څخه هم خپل ملاتړ لا زیات کړی چی د څارنوالی په دفترونو کی د ښځو پر واندنی د تاوتریخوالی قضیی تر عدلی تعقیب لاندی روالی. | تر یو اندازی پوری تطبیق شوی | ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ |
| نړیوال تمویل کوونکی | د جنسیت مساوات ، د ښځو د توانمند کیدو او د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون د تطبیق په اړه د توکیو په اعلامیه کی د ژمنو د تطبیق لپاره د پراختیایی مرستو د برابرولو له لاری د افغانستان حکومت سره مرسته وکړی او په دغه مواردو کی د پرمختګ د سنجولو په منظور د معینو شاخصونو سره یوځای یو ګډ نظارتی چوکاټ جوړ کړی. | تطبیق شوی | ۲۰۱۲ |
| نړیوال تمویل کوونکی | د ښځو پر علیه د خشونت سره د مبارزی د عالی کمیسیون لپاره د تخنیکی مساعدتونو پروګرام طرح کړی. | معلومات په لاس کی نه دی | ۲۰۱۱ |

## دوهمه ضمیمه: د افغانستان لپاره د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو شکلونو له منځه وړلو د کنوانسیون سپارښتنې ،۲۰۱۳ کال د اګست میاشت

**د افغانستان د توحید شوی لومړی او دوهم دوره ای راپور په هکله وروستی ملاحظې**

۱. کمیټې په خپله ۱۱۳۲ او ۱۱۳۳ ناستو کې چې د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۱۰ ترسره شوی ، د افغانستان توحید شوی لومړی او دوهم دوره ای راپور ملاحظه کړی. (د CEDAW/C/SR د کمیټې ۱۳۲ او ۱۳۳ته مراجعه وکړئ). د کمیټې د مسئلو نوم لړ او پوښتنی د CEDAW/C/AFG/Q/1-2 په برخه کې ځای شوی او د افغانستان غبرګونونه CEDAW/C/AFG/Q/1-2/Add.1 کې ځای شوی دی.

**الف. پیژندنه**

۲. کمیټه د غړی هیواد څخه د خپل توحیدی لومړی او دوهم دوره ای راپور د سپارلو په هکله ډیره زیاته مننه کوي. کمیټه همدارنګه د غړي هېواد له خوا د هغو لیکل شویو ځوابونو له امله مننه کوي چې له غونډې څخه مخکې د کاري ډلې له خوا یو لړ مسلې او پوښتنې یې مطرح کړې وې. همدارنګه کمیټه د هیئت د شفاهي راپور ستاینه کوي او هغه توضیحات ستایي چې د مذاکرو په لړ کې د کمیټې له خوا مطرح شویو پوښتنو ته ورکړل شوي دي.

۳. کمیټه د غړي هیواد چې مشری یې د عدلیی وزارت د مشر سلاکار ښاغلی قاسم هاشم زي لخوا کیدله ، ستاینه کوي. په دې هیئت کې د ښځو د چارو لپاره مرستیاله وزیره ، د ټولنیزو چارو ،شهیدانو او معلولینو د چارو مرستیال وزیر او همدارنګه د ښوونې او روزنې د وزارت څخه چارواکو او په ژنیو کې د ملګرو ملتونو لپاره د افغانستان دایمي هیئت ګډون درلود.

**ب. مثبت اړخونه**

۴. کمیټې له ملاحظاتو څخه پرته د غړي دولت له خوا د کنوانسیون تصویبول ستایې. کمیټه د غړی هیواد لخوا د میثاق د تصویب راهیسې د لاندنیو نړیوالو تړونونو د تصویب هرکلی کوي:

الف) په ۲۰۰۳ کال کې ، په یوځی شخړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په هکله د ماشومانو د حقونو په باب د کنوانسیون لپاره اختیاري پروتوکول

ب) په ۲۰۰۳ کال کې ، د نړیوالې جنایی محکمې د روم اساسنامه

ج) په ۲۰۰۵ کال کې ، د کډوالو د وضعیت په تړاو د ۱۹۵۱ کال کنوانسیون او د هغه د ۱۹۶۷ کال پروتوکول

د) په ۲۰۰۵ کال کې ، په معارف کې د تبعیض پر ضد د یونسکو کنوانسیون ، او ؛

هـ) په ۲۰۰۸ کال کې د اداری فساد پر ضد د ملګرو ملتونو کنوانسیون.

۵. کمیټه د دې په ستاینې سره یادونه کوي چې غړی هیواد داسې قوانین چې موخه یې د ښځو پر وړاندې د تبعیض له منځه وړل وو ؛ تصویب کړي دي.

الف) په اساسی قانون او د ټاکنو په قانون کې هغه احکام چې په ولسي جرګه او مشرانو جرګه کې د ښځو لپاره ځانګړې سهمیې برابروی ، او ؛

ب) د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون (۲۰۰۹).

۶. کمیټه د ښځو لپاره د ملي کاري پلان دتصویبولو (۲۰۰۸- ۲۰۱۰) ستاینه کوي.

**ج- مهمې اندیښنې او سپارښتنې**

**تطبیق:**

**۷- کمیټه د غړي هیواد له هغو هڅو څخه په پوره ډول خبره ده چې په تېره لسیزه کې یې د ښځو د حقونو د پرمختیا او ساتنې په موخه د یوه قانوني چوکاټ د نافذیدو او تطبیق لپاره کړی دی. خو بیا هم ، کمیټه دښځو په وړاندې د شدید او پرلپسې تاوتریخوالی پر علیه ، اوسنۍ سیاسي وضعه او د امنیتي ځواکونو لیږد په پام کې نیسي چې غړی هیواد یې له ځانګړو ستونزو سره مخامخ کړی دی. کمیټه په دې باور ده چې د کنوانسیون تطبیق تر ټولو زیاته اغیزناکه وسیله ده چې د ښځو حقونه ساتي ، هغوي ته احترام کول او تطبیق یې تضمینوي. کمیټه غړي هیواد دې ته رابولي چې په دې وروستیو کتنو کې ځای شوې سپارښتنې په غور سره وګوري چې په ملي کچه د بسیج کولو او نړیوالو مرستو غوښتنه کوي. کمیټه له غړي هیواد څخه غوښتنه کوي چې اوسنۍ وروستي سپارښتنې د دې کنوانسیون له مخې د دې او بل راپور ترمنځ موده کې تطبیق کړي او د هغو د تطبیق لپاره یو ځانګړی میکانمیزم تیار کړی چې په ټولو کچو دولتي موسسات ، پارلمان (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) قضایه قوه او نور برخه وال ، د نړیوالو برخه والو په ګډون چې د بدلون د لسېزې تیریدو ته له دولت سره مرستې کوي ، په کې شامل وي. کمیټه به د دې وروستیو سپارښتنو د تطبیق جریان له نږدې څخه وڅاري او له هغې سره به مرسته وکړي.**

**د سولې په پروسه کې د ښځو ونډه اخیستل او د ښځو پر حقونو د هغې اغیزې**

۸- کمیټې د هیئت له خوا د دې تسلي تر لاسه کړې چې د ښځو حقونه به د سولې د مذاکرو په جریان کې تر سازش لاندې نه راځي. سره له دې هم ، کمیټه په دې باور ده چې د دې ژمنې د عملي کولو لپاره باید مشخص اقدامات په نظر کې ونیول شي او تطبیق شي. کمیټه په ډاډمنۍ سره د ښځو د عالي مشورتي بورډ د تاسیس یادونه کوي چې د حکومت په ټولو کچو کې د سولې په پروسه کې د ښځو ونډه اخیستنه تضمینوي. سره د دې کمیټه له دې حقیقت څخه ډېره اندیښمنه ده چې د سولې او پخلاینې په پروسه کې د ښځو ونډه اخیستنه د ځینو لاملونو په وجه ډېره محدوده شوې ، په ځانګړې ډول د داسې لاملونو له کبله لکه د سولې په عالي شورا کې د ښځو لږ شمیر (له ۷۰ غړو څخه ۹ تنه) ، د مهمو پریکړو د نیولو له پروسې څخه د ښځو ګوښه کول ؛ د دې احتمال چې کیدای شي د سولې مذاکرې د غړي دولت له ځواک څخه بهر وي او د دوحې د مذاکرو په چوکاټ کې ترسره شي ؛ او په کافی اندازه د هغو وسایلو نشتوالی چې د ښځو ونډه اخیستنه تضمینوي ، کمیټه د دې اندیښنه هم لري چې ښایي د ښځو اړتیاوې او ګټې د غړي دولت په دننه کې د پدر سالارۍ د انګیرنې په پیروي د سولې د پروسې په ترڅ کې زیانمنې شي. کمیټه په دې خبره خواشینې ده چې غړی دولت لا تر اوسه د امنیت د شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) شمیره پریکړه لیک د تطبیق په موخه د عمل ملي پلان نه دی پلی کړی.

**۹- کمیټه غړی دولت د لاندنیو دندو د اجراء لپاره په ټینګار سره هڅوي:**

**الف: د سولې په عالي شورا کې د ښځو د ونډې زیاتول او د سولې او پخلاینې د پروسې په ټولو مرحلو کې په اغیزمن ډول د هغوي شاملول ، د دې ډاډ په شمول چې ښځې د مهمو پریکړو په پروسه کې په مساوي ډول فرصت ولري او فعاله برخه په کې واخلي.**

**ب: د دې تضمین ورکول چې د ښځو د عالي مشورتي بورډ غړي او د مدني ټولنې هغه سازمانونه چې د ښځو له مسئلو سره سرو کار لري په دوحه کې د پلان شویو مذاکرو په ګډون د سولې د مذاکرو او پخلاینې په پروسه کې شاملې شي.**

**ج: د ټولو بشري حقونو د هغه خصلت تاییدول چې د بحث وړ نه دی او د داسې ستراتیژي تصویبول چې د سولې په مذاکرو کې د ښځو د حقونو له شاتګ څخه مخنیوی کوي.**

**د: د امنیت د شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) شمیره پریکړه لیک د تطبیق په موخه د عمل د ملي پلان د تسوید پلی کول او د دې یقین ورکول چې دغه پلان د اساسي برابرۍ یوه نمونه ده چې نه یوازې د ښځو**

**پر وړاندی تاوتریخوالی اغیزمن کوي، بلکه د تړون سره سم د ښځو د ژوند په ټولو برخو باندې اثر ښندي.**

**د ښځو د حقونو په اړه د برياوو تقويه کول:**

۱۰- کمیټه د هغو معلوماتو ستاینه کوي چې د هیئت له خوا د غړي هیواد د هغو ژمنو په اړه یې لیږلي دي، چې په اساسي قانون او قانوني چوکاټ کې د ننه د ښځو د حقونو د تقویې لپاره یې کړی دی او د ښځو د ونډې اندازه هم په کې شامله ده. خو کمیټه د دې اندیښنه لري چې د لیږد هغو شرایطو په وجه چې غړی هیواد ورسره مخ دی، ښايي د دغو ژمنو تقویه کول د لومړيتوبونو له ډلې څخه و نه شمیرل شي. کمیټه په ځانګړی ډول ځکه اندیښمنه ده چې د پارلمان څو تنه غړي، په ځانګړي ډول د ولسي جرګې ځینې غړي د دې هڅه کوي چې د ټاکنو په اوسني قانون کې شاملې ځینې مادې لغوه کړي، چې په ولایتي شوراګانو کې لږ تر لږه ۲۵ سلنه څوکۍ د ښځو لپاره ساتي او د ښځو پر علیه د خشونت د منع په قانون کې هغه مادې کمزروې کړي چې د ښځو حقونه ساتي. کمیټه د غړي هیواد او د ښځو د ځینو سازمانونو ترمنځ په لاندنیو برخو د همکارۍ یادونه کوي:

**۱۱- کمیټه غړی هیواد دې ته هڅوي چې لاندنۍ دندې ترسره کړي:**

**الف: د راتلونکو ۱۸ میاشتو لپاره د لومړیتوب ټاکل، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون او د ټاکنو د قانون د تطبیق له لارې د تړون له موادو سره سم د قانوني برياوو تقويه کول،**

**ب: د دې یقیني کول چې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د مشترک کمیسیون له خوا د ټاکنو په قانون کې تعدیل به په ملي شورا کې د ښځو هغه ۲۵ سلنه ونډه خوندي وساتي چې ملي شورا او په ولايتي شورا ګانو کې د ښځو لپاره دټاکنو په اوسني قانون کې ټاکل شوې ده.**

**ج: د ښځو په اړه د قانوني چوکاټ په دې ډول تقویه کول چې د کورنۍ د قانون مسوده بې له ځنډه تصویب شي او د دې یقین ورکول چې د جزا په قانون او د جزايي اجرااتو په قانون کې هیڅ داسې ماده ځای نه شي چې د ښځو پر وړاندی تبعیض ته اجازه ورکړي.**

**د: خپلې هڅې په دې لار کې تقویه کړي چې د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړي د ښځو د حقونو په اړه تشویق او حساس کړي او په پام کې وساتي چې لاسته راغلې برياوې وساتلې شي. او ؛**

**هـ: د ښځو له سازمانونو سره خپلې همکارۍ زیاتې کړي څو د ښځو پر وړاندی تاوتریخوالی محوه کړي او دغه راز تعلیم، روغتیا، عدالت ته لاس رسی او په سیاسي چارو کې د ښځو ونډه اخیستنه تقویه کړي.**

**د تبعیض تعریف:**

۱۲- کمیټه د دې ستاینه کوی چې د غړي دولت د اساسي قانون ۲۲ ماده او نور قوانین د ټولو اتباعو لپاره د برابرۍ او عدم تبعیض حقونه خوندي ساتي. خو سره د دې هم ، کمیټه له دې درکه اندېښمنه ده چې په قوانینو کې د جنسیت پر بنسټ تبعیض په ښکاره ډول نه دی منع شوی ؛

**۱۳- کمیټه د دې سپارښتنه کوي چې غړی دولت په اساسي قانون او د تبعیض د محوه کولو د قواعدو په مسوده او نورو اړونده قوانینو کې د ښځو او نارینه وو ترمنځ برابري او په عامه او شخصي ژوند کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د ښځو پر وړاندی تبعیض منع کول او دغه راز نور موانع د دې کنوانسیون د لومړۍ او دویمې مادې سره سم شامل کړي.**

**د شکایتونو قانوني میکانیزمونه:**

۱۴- کمیټه د غړي هیواد هڅې یادوي چې خپل قضایي سیستم د عامه خلکو لپاره د استفادې وړ وګرځوي ، په خاص ډول د ښځو لپاره په لېرې پرتو سیمو کې د محاکمو ، د کورنۍ د محکمو او د ښځو پر وړاندی د تاتریخوالی د تعقیب لپاره د څارنوالۍ د دفتر تاسیس او ښځینه قاضیانو ته روزنه ورکول. کمیټه اندیښنه څرګندوي چې سره د دې هڅو پولیس او څارنوالان اوس هم د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی قضیې ، د کورني خشونت په ګډون غیر رسمي قضایي میکانیزمونو (جرګې او شوراګانې) ته سپاري چې مشوره ورکړی یا فیصله وکړي ، سره د دې حقیقت چې د دغو قضیو څخه ډېری باید په رسمي چوکاټ کې تعقیب شي ، او د غیر رسمي قضاء فیصلې د ښځو پر وړاندی د تبعیض څخه کار اخلي او د دې اوسنیو قوانینو د پلي کولو مخنیوی کوي ، کمیټه له دې درکه هم اندېښمنه ده چې ښځې ډېر ځله د خپلو کورنیو د غړو له خوا له دې څخه منع کیږي چې خپل شکایتونه ثبت کړي.

۱۵- کمیټه سپارښتنه کوي چې غړی هیواد دا لاندنۍ دندې اجراء کړي:

**الف: د پولیسو او څارنوالۍ لپاره د لارښوونو طرح کول څو هغه قضیې تصفیه کړي چې باید په رسمی ډول تعقیب شي.**

**ب: د دودیز عدالت په باب د پالیسي د تطبیق لپاره داډ ورکول او ښځو ته د دې امکان د خبرتیا ورکول چې کولای شي په رسمي قضایي سیستم کې د غیر رسمي قضایي سیستم پریکړې وګواښي.**

**ج: د دې یقیني کول چې هر قانون چې د رسمي قضایي سیستم او غیر رسمي روشونو ترمنځ اړیکي تعریفوي باید له ټولو داخلي قوانینو سره ، د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون په ګډون توافق**

**ولري او جرګې او شوراګانې له دې څخه منع کړي ، چې د بشر ي حقونو د نقض ډېرې شديدې قضيې تر غور لاندې را ولي لکه څنګه چې د نړيوالې ټولنې له خوا له دې مخکې يې توصيه شوې وه.**

**د: پوليس ، څارنولان ، قاضيان او عام خلک د دې لپاره چمتو کول چې د ښځو د حقونو د نقض د قضيو د حل کولو له اهميت څخه د کورني تاوتريخوالی په ګډون چې د رسمي قضايي سيستم په ذريعه فيصله کيږي خبر شي او د خپلو حقونو او موجوده قانوني جبران څخه خبر شي.**

**هـ: د مذهبي او قومي مشرانو ترمنځ د ښځو او نارينه وو په منځ کې د برابرۍ د اهميت په اړه د خبرتيا زياتول چې په اساسي قانون او په دې کنوانسيون کې يې يادونه شوې ؛ او**

**و: رسمي قضايي سيستم ته د ښځو د لاس رسي زياتول ، د ښځينه پوليس افسرانو او قاضيانو د شمير زياتول او هغوی ته په دې اړه سيستيماتيکه رزونه ورکول چې څنګه د کنوانسيون سره سم د ښځو د حقوقو په اړه داخلي قوانين پلي کېدای شي.**

**انتقالي عدالت:**

۱۶- کميټه په افغانستان کې د سولې او بيا يو ځای کيدنې د پروګرام يادونه کوي ، او له دې درکه انديښنه لري چې دغه پروګرام په پوره ډول نه پلی کيږي او د غير دولتي سکټورونو له خوا د جنډر په اساس د خشونت د مسئلو په حل کولو کې محدود فعاليتونه شتون لري او دغه راز د پروګرام طرز العملونه او د تصفيه کولو پروسې او سيستمونه چې د حساب ورکونې په موخه بايد په کار ولوييږي ، هم نيمګړي دي. کميټه دغه راز د هغو معلوماتو يادونه کوي چې د هيئت له خوا د انتقالي عدالت د پاليسۍ د تصويب په اړه برابر شوي دي.

**۱۷- کميټه د لاندنيو کارونو د جاري ساتلو سپارښتنه کوي:**

**الف: په افغانستان کې د سولې او بيا يو ځای کيدنې د پروګرام بشپړ تطبيق کول په دې تضمين سره چې د پروګرام ټول قواعد او طرز العملونه او د تصفيې پروسې پلي کيږي او مدني ټولنه او په خاص ډول ښځې او د ښځو سازمانونه په هغې کې اغيزناکه برخه اخلي.**

**ب: د انتقالي عدالت د پاليسي تطبيق او له هغې څخه څارنه يقيني کول چې د غړي دولت له قوانينو او د هغه د نړيوالو مسؤوليتونو** سره **د دې ترون د موادو په شمول ، سمون ولري.**

**د ښځو د پرمختګ لپاره ملي اداره:**

۱۸- کمیټه په ۲۰۰۴ کې د ښځو چارو د وزارت تاسیسول په ۲۲ ولایتونو کې د دې وزارت د ۲۲ ولایتي ریاستونو او ځینو وزارتونو کې د ښځو چارو د څانګو تاسیسول یادوي. خو کمیټه له دې پلوه اندېښمنه ده چې د ملي بودجې له خوا کمه اندازه مالي سرچینې د دې پروګرام لپاره تعینې شوي او په کافی اندازه روزل شوي کارمندان نشته چې د ښځو چارو د وزارت پروګرام پر مخ یوسي. له بلې خوا کمیټه د دې له امله اندیښنه لري چې د ښځو چارو وزارت تر ډیره بریده په بهرنیو مرستو تکیه کوي او دغه حالت ښايي د ښځو حقونه او د جنډر د برابرۍ وضعه د غړي هیواد د انتقالي دورې په ترڅ کې متاثره کړي. دغه راز کمیټه د هغو ستونزو له امله هم اندېښنه لري چې د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان د تطبیق په وړاندې شته لکه د منابعو نشتوالی او د وزیرانو په کچه چې د تطبیق مسوولیت لري د حساب ورکونې نه شتون.

**۱۹- کمیټه غړی هیواد د لاندنیو وظیفو اجراء کولو ته هڅوي:**

**الف: په کافي اندازه د انساني ، تخنیکي او مالي سرچینو په برابرولو سره د ښځو د چارو وزارت د تداوم یقیني کول چې وکولای شي خپلې دندې د جنډر د برابرۍ او د ښځو د حقونو د ساتنې په اړه چې د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیز چوکاټ له اصولو سره برابر اجراء کړي ، لکه دا چې نړیوالې مرستې د ملي بودجې له لارې کولای شي د ملي موسساتو ظرفیت د پرمختک او اجرااتو لپاره هڅې او د ټولو اتباعو په وړاندې د دولت د حساب ورکونې پروسې چټکې او تقویه کړي ؛**

**ب: د ښځو لپاره د عمل ملي پلان تطبیق له دې لارې یقیني کول چې د جنډر پورې اړوند مسئلو د حل لپاره بودجه وټاکله شي او د عمل په پلان کې د حساب ورکونې د هغو وضع شویو شاخصونو له مخې د هغې د تطبیق څارنه وشي چې د حساب ورکونې په میکانیزمونو کې تعین شوي دي ؛او**

**ج: د یوه ټاکلی زماني چوکاټ جوړول ، چې د ښځو د پرمختک په موخه په ملي او محلي کچه د ملي اداري ظرفیتونه تقویه او لوړ شي.**

**د بشري حقونو ملي موسسه:**

۲۰- کمیټه په ۲۰۰۲ کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون تاسیسول ستایي. خو د هغو معلوماتو له امله ژوره اندېښنه لري چې له مخې یې د کمیشنرانو د ټاکلو په وروستۍ پروسه کې د شفافیت او ګډون اصول نه دي مراعات شوي چې دا به په ملي او نړیواله کچه د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون خپلواکي او اغیزمنتوب ته زیان ورسوي او د هغه اعتبار به را کم کړي.

**۲۱- کمیټه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر غوښتنه بیا تکراروي چې غړی هیواد د کمیشنرانو وروستۍ ټاکنې تر بیا غور لاندې ونیسي او د پاریس د اصولو سره سم او د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د قواعدو په مطابق دغه پروسه د انتخاب لپاره بیا پرانیزي.**

**د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی او ضررناکه عملونه:**

۲۲- کمیټه په خاص ډول له دې درکه ډیره اندیښمنه ده چې په غړي هیواد کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی ، په خاص ډول کورنی خشونت ، جنسی تیری ، وهل ټکول ، او ژوبلونه ډیر عمومیت لری. دغه راز هغه قضیې چې په کې ښځې د ډبرو په ذریعه وژل کیږي د اندیښنې بله سرچینه ده. کمیټه د هغو ناروا کلتوري نورمونو او عملونو له امله سخته په اندیښنه کې ده چې د ښځو لپاره ډیر ضررناکه دي لکه په ماشومتوب کې ودونه ، په بدو کې ورکول (د شخړو د حل لپاره د نجونو ورکول). په بدل کې ودونه (بدلي واده) او په جبري ډول ودونه ، چې کونډو ښځو په جبر ودول هم په کې شاملیږي. دغه راز د ځان سوځونې او له کورونو څخه د تېښتې قضیې چې د ضررناکو عملونو او د خشونت پر ضد د غبرګون په څېر کیږي ؛ هم د اندیښنې وړ خبرې دي. کمیټه د دې اندیښنه هم لري چې سره د دې چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون د تطبیق لپاره هلې ځلې کیږي ، خو بیا هم د خشونت د قضیو او ضررناکه دودیزو عملونو په باب په کمه کچه راپورونه ورکول کیږي څکه چې ښځې په افغانی ټولنه کې ټیټ موقف لري ، دودیزې عقیدې او د قربانیانو دا ویره چې د کورنیو د غړو له خوا به تهدید شي او په ټولنه کې به بدنامه شي نور عملونه دي چې د دې قضیو په اړه د راپور ورکولو څخه مخنیوی کوي. کمیټه د خشونت د ښځینه قربانیانو لپاره د پناه ځایونو د دوام او همدارنګه د هغوي د شمېر د زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده.

**۲۳- کمیټه خپلې عمومي ۱۹ شمېره سپارښتنې (۱۹۹۲) سره سم چې د ښځو پر وړاندی د خشوت په ضد یې صادره کړې غړی دولت لاندنیو فعالیتونو ته هڅوي:**

**الف: د اقداماتو تعینول چې په اغیزناک ډول له جرم څخه د معافیت ختمول یې په لومړیتوبونو کې وي او له هغه مسؤولیت څخه پیروی وکړي چې د دولتي او غیر دولتي مجرمینو په ذریعه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی قضیې تر تعقیب او تحقیق لاندې ونیسي ، او هغوي ته جزاء ورکړي ؛**

**ب: د ښځو پر علیه د خشونت د منع قانون په مناسب ډول تطبیق کول ، د مثال په توګه د ټولو پولیس افسرانو لپاره چې د کورنۍ غبرګون په څانګه کې کار کوي د یاد قانون په اړه سیستیماتیکه روزنه ورکول ، محکمو ته د دې قانون د تطبیق په اړه د لارښونو صادرول ، چې په دې کې د هغې جبري تطبیق کول له نورو اړونده ملي قوانینو سره یو ځای شاملیږي ، او د یوې تګلارې طرح کول چې د ښځینه پولیس افسرانو استخدامول او د هغوي ساتنه احتواء کوي ؛**

**ج: د دې ډاډ ورکو ل چې د خشونت څخه د قرباني ښځو لپاره پناه ځايونه په مناسب ډول منابع لري او د هغو خدماتو منظمه څارنه کيږي چې هلته اجراء کيږي ، د پناه ځايونو په شمېرکې زياتوالی ترڅو د خشونت د قربانيانو ښځو لپاره خدمات تقويه شي لکه مشورې او د بيا په حال کونې خدمتونه ، چې هم طبي او هم رواني برخې ولري ؛ او داسې يوه ستراتيژي طرح شي چې د توکيو د دوه اړخيزې حساب ورکونې د چوکاټ پر بنسټ د هغوي لپاره مالي سرچينې د مرستو لپاره تضمين شي.**

**د: د يوې هر اړخيزې ستراتيژۍ او پاليسي طرح کول چې د ښځو او نجونو په ضد ټول ضررناکه عملونه محوه کوي ، چې په دې کې له مذهبي او قومي مشرانو سره په دې هدف کار کول چې د اسلامي او شرعي احکامو د ناسم تعبير مخنيوی وشي او دغه راز د پوهاوي اقدامات شامليږي چې د مدني ټولنې او د ښځو د سازمانونو په مرسته او همکاري رسنۍ او عام خلک تر هدف لاندې ونيسي ؛ او**

**هـ: د خشونت د قضيو په مناسب ډول ثبتول او له ښځو سره د خشونت د ټولو ډولونو په اړه د جلا کړای شويو او د معياري معلوماتو ټولونه.**

**"اخلاقي جرمونه" او په اصطلاح د ناموس لپاره وژنې:**

۲۴- کميټه د نجونو او ښځو په نيولو او تعقيبولو چې له کورونو څخه تښتي او "د اخلاقي جرمونو" په نوم نيو ل کيږي ، او په دې تورنيږي چې زناء يې کړې او يا د زناء قصد لري ، سره د دې چې له کور څخه تښته د افغانستان د قانون له مخې کوم جرم نه دی ، ډيره خواشينې څرګندوي. کميټه په دې خبره هم افسوس ښکاره کوي چې د جزاء په قانون کې د جنسي تيری لپاره کوم تعريف نشته. له دې امله د جنسي تيری قربانيان د دويم ځل لپاره قرباني کيږي ځکه چې ځينې اړ کيږي چې له تيري کونکي سره واده وکړي. کميټه ډيره په دې خواشينې ده چې د جنسي تيري او له کورونو څخه د تښتې قربانيان اړ کيږي چې د بکارت تر ازموينې لاندې تيرې شي. دغه راز کميټه د دې حقيقت له وجې ډيره اندېښنه لري چې د ناموس په نوم وژنې ډيرې شوي دي او د جزاء په قانون کې (۳۹۸) ماده په تبعيضي ډول مجرمينو ته د دې اجازه ورکوي چې له خپل ناموس څخه دفاع د يوې وسيلې په څير وکاروي چې د جزاء په کمولو کې ورسره کومک کوي.

**۲۵- کميټه غړی هيواد هڅوي چې:**

**الف: بې له ځنده د لوي څارنوالۍ لارښوونه چې د ۲۰۱۲ په اپريل کې يې صادره کړې تطبيق او بيا صادره کړي ، چې وايي له کور څخه تښته د افغاني قوانينو له مخې جرم نه ګڼل کيږي او په دې تېنګار کوي چې په دې اړه د زنا قصد يا د زنا د هڅې تورونه بايد ونه لګول شي ؛ او**

**ب: د جزا د قانون ۳۹۸ ماده لغوه کړي څو د دې تضمین پیدا شي چې په اصطلاح د ناموس په نوم وژونکو لپاره قانوني مراعات نه وي موجود او د نړیوالو معیارونو سره سم د جنسي تیري تعریف د جزا په قانون کې ځای کړي.**

**د فاحشو قاچاق او استثمار:**

۲۶- کمیټه د انسان د قاچاق او تښتونې په ضد قانون (۲۰۰۸) د تصویب یادونه کوي خو د هغه د تطبیق په اړه په محدودیتونو خواشیني څرګندوي. کمیټه د دې معلوماتو له وجې ډیره خواشیني ده چې له مخې یې کله د اختطاف قربانیانې ښځې په دې تور تعقیبیږي چې زنا یې کړې ده. کمیټه په دې هم اندېښنه لري چې په غړي هیواد کې د انسان د قاچاق د پراختیا او د فاحشه ګیرۍ د استثمار په اړه لیږ معلومات شتون لري او داسې اقدامات نه دي نیول شوی چې د اختطاف هغه قربانیانې خوندي کړي چې غواړي شاهدي ورکړي.

**۲۷- کمیټه غړی هیواد د لاندنیو دندو اجراء ته هڅوي:**

**الف: په ملي او نړیواله کچه د قاچاق په اړه څېړنې وکړي چې د هغه پراختیا ، اندازه ، لاملونه ، پایلې او مقصدونه او دغه راز د قاچاق احتمالي اړیکي د ماشومانو له ودونې او په بدو کې د نجونو ورکولو سره ښایې موجود وي ، په کې شاملیږي.**

**ب: د انساني قاچاق او اختطاق په ضد قانون (۲۰۰۸) په پوره ډول تطبیق کړي ترڅو د دې ډاډ پیدا شي چې د قاچاق قربانیان په دې تور تقیب نه شی چې د زنا مرتکب شوي دي ؛**

**ج: د قاچاق کوونکو د تعقیب ، له هغو څخه د تحقیقاتو او دوي ته د جزا ورکولو په موخه میکانیزمونه تقویه کړي او د قاچاق او جبري فاحشه ګیرۍ د قربانیانو لپاره مرستې او خدمات تقویه کړي او همدارنګه د شاهدانو د ساتنې لپاره اقدامات ونیسي ؛**

**د: دا پروتوکول چې د انسانانو د قاچاق د مخنیوي ، کمولو او مجازاتو په اړه دی ، په خاص ډول د ښځو او ماشومانو دقاچاق د مخنیوي لپاره تصویبول ، چې په دې ډول د ملګرو ملتونو د تړون سره مرسته وکړي چې د نړیوالو تنظیم شویو جرمونو پر ضد د (پالرمو) پروتوکول او د سارک له تړون سره یو ځاي چې د فاحشه ګیرۍ لپاره د ښځو او ماشومانو د قاچاق د مخنیوي او دهغه سره د مبارزې په موخه تصویب شوي ، دي تقویه کړي.**

**په سیاسي او عامه ژوند کې ګډون:**

۲۸- کمیټه د هغو هڅو یادونه کوي چې له ۲۰۰۱ راهیسې په سیاسي او عامه ژوند کې د ښځو د ګډون په موخه شوې دي. کمیټه په دې باور ده چې د جګړو په دوران کې د ښځو د مختلفو تجربو پیژندل ، د قربانیانو په څېر د هغوی د تجربو په ګډون ضروري دي او دغه راز د دوي نقش د سولې د جوړونې په پروسه کې باید وپیژندل شي. خو سره د دې کمیټه په دې خواشینې ده چې ښځې د پریکړو نیولو په پروسه کې چې د ژوند په ټولو برخو کې نیول کیږي ، په ټیټه کچه ګډون لري. کمیټه په دې هم اندېښمنه ده چې په غړي دولت کې یې دننه د پدر سالارۍ اصول ټینګې ریښې لري لکه د ښځو په ګرځیدو راګرځیدو د محدودیتونو وضع کول ، دغه راز په دې هیواد کې نا امني ښایي د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کې د نوماندانو یا رایه اچوونکو په څېر د ښځو په فعالیتونو منفي اغیز وکړي. کمیټه په دې هم اندیښنه څرګندوي چې هغه ښځې چې په عامو ادارو کې لوړ پوستونه لري او د ښځو له حقونو څخه دفاع کوي په عمدي ډول تر تهدید لاندې نیول کیږي او یا وژل کیږي. کمیټه خپله خواشیني څرګندوي چې په لوړو محاکمو او قضاء کې لیږ شمیر ښځې قاضیانې کار کوي او په ستره محکمه کې هیڅ یوه هم د قاضي په پوست په کار نه ده ګمارل شوې.

**۲۹- کمیټه له غړي دولت څخه غواړي چې:**

**الف: په دوامداره ډول داسې پالیسي اختیار کړي چې هدف یې د یوې دموکراتیکې غوښتنې په څیر د سیاسي او شخصي ژوند په ټولو ساحو کې په ملي ، ولایتي او ولسوالي کچه د ښځو ګډون تقویه کول وي. د مثال په ډول په موقتي ډول د کنوانسیون د ۴ مادې د لومړۍ فقرې او د کمیټې د ۲۵ (۲۰۰۴) شمېر عمومي سپارښتنې سره سم د مخصوصو اقدماتو نیول.**

**ب: په ټولنه کې په عموم ډول د پریکړو کولو په پروسه کې د ښځو د ګډون د اهمیت په اړه د پوهاوي زیاتول ، په خاص ډول د ښځو نوماندانو او رایه اچوونکو په حیث د هغوي د ګډون په اړه د پواهاوی زیاتول څو د پلار سالارۍ هغه روشونه محوه کړي چې په دې برخو کې د ښځو د ګډون مخنیوی کوي ،**

**ج: د هغو ښځو د ساتنې لپاره اغیزناک اقدامات یقیني کړي چې په لوړو اداري پوستونو کې کار کوي او یا د ښځو له حقونو څخه دفاع کوي ، او هغه مجرمان د عدالت په مخ کې و دروي چې په دوي باندې خشونت امیزه بریدونه کوي ؛ او**

**د: مناسب ګامونه اوچت کړي چې په لوړو محکمو کې د ښځینه قاضیانو شمیر زیات شي او په ستره محکمه کې د ښځینه قاضیانو مقرریدل یقیني کړي.**

**ملیت یا تابعیت**

۳۰- کمېټه د دې یادونه کوي چې د ملي قانون مسودې د افغانانو لپاره د دوه ګوني تابعیت امکان ورکړی دی. کمېټه په دې ډېره اندېښمنه ده چې په غړي دولت کې زیات شمیر ښځې د هویت شخصي سندونه نه لري ، چې د دې ګواښ زیاتوي چې دوي د دولت له تابعیت څخه محرومې پاتې شي ، او دوي د خپلو حقونو له برخمن کیدو څخه ساتي لکه د ځمکې او ملکیت درلودل ، تعلیم ته لاس رسی ، روغتیایي چارو او کارونو ته لاس رسي پیدا کول.

**۳۱- کمېټه سپارښتنه کوی چې غړي دولت باید دا لاندې دندې اجراء کړي:**

**الف: د ملي قانون مسوده تصویب کړي ؛ او**

**ب: د هویت د شخصي سندونو د اهمیت په اړه پوهاوي زیات کړي او د دې یقین ورکړي چې ښځې دې ډول سندونو ته لاس رسي لري.**

**تعلیم**

۳۲- کمېټه د هغو هڅو ډېره ستاینه کوي چې د تعلیم په ټولو کچو کې د نجونو د شاملو لپاره کیږي او هغه سیاسي اراده ستایي چې دغه هدف اوس هم د عمومي بسیج له لارې تعقیبوي. کمېټه په دې باور ده چې پایداره پرمختګ ددې غوښتنه کوي چې ټول خلک تعلیم وکړي او د ښځو او نارینه وو لپاره د تعلیم برابر فرصتونه موجود وي او دغه اصل ته په پوره ډول د لومړیتوب حق ورکوي. خو سره د دې ، کمېټه په دې اندیښنه لري چې د ښځو زیات شمیر لیک او لوست نه شي کولای ، نجونې خاصتا په ثانوي دوره کې په لږ شمیر کې ښوونځیو ته شاملیږي ، او په خاص ډول په لیرې پرتو سیمو کې ډیر شمیر له ښوونځیو څخه خارجیږي ، چې اساسي لامل یې ښوونځیو ته او له هغو ځایونو څخه کورونو ته په لار کې د امنیت نه شتون دی. کمېټه د هغې منفي انګیرنې له امله هم خواشینې ده چې په ټولنه کې د نجونو د تعلیم په اړه موجوده ده. دغه راز د ښه تعلیم درلودونکو ښځینه ښوونکو کمښت ، په ښوونځیو کې د اسانتیاوو نه شتون او ښوونځیو ته لېرې واټونونه هم د اندیښنې خبرې دي. کمېټه په دې خواشینې څرګندوي چې د غیر دولتي وسله والو ګروپونو له خوا د نجونو په ښوونځیو باندې بریدونه کیږي او نجونې تهدیدوي چې ښوونځیو ته ولاړې نه شي او دغه راز د هغو پېښو له امله اندېښمنه ده چې نجونې په کې د شکمنو زهري موادو په ذریعه ناروغې شوې دي. دغه راز کمېټه له دې درکه خواشینې ښکاره کوي چې د لوړو زده کړو په موسسوکې د ښځو شمیر په ښکاره ډول کم دی او دا حقیقت د دې سبب ګرځي ، چې ښځې حکومتي لوړو پوستونو ته لارې نه شي موندلای او په عامه ژوند کې له برخې اخیستلو څخه محرومې پاتې کیږي.

**۳۳- د غړي دولت له خوا د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیزه چوکاټ په رڼا کې کمېټه د لاندنیو کارونو سپارښتنه کوي:**

**الف: د معینو هدفونو ټاکل او د عمل د پلان تعقیبول چې د ښځو او نجونو د لیک لوست اندازه لوړه کړي ، ښوونځیو ته د نجونو شاملولو او حاضري په داسې ډول زیاته کړي چې معیین زماني حد ورته ټاکل شوی وي ، او د دې هدفونو لاس ته راوړل تر څارنې لاندې نیسي ؛**

**ب: د هڅو ادامه چې زیاتې ښځینه ښوونکې استخدام شي په دې شرط چې د ښه کیفیت زده کړې ولري او داسې انګېزې برابروي چې په ټول هیواد کې د دوي حضور یقیني کوي ، په خاص ډول په لېرې پرتو سیمو کې ، د تعلیم د کیفیت ښه کول او معیاري کول ، په دې ذریعه چې ښوونکی په پرلپسې ډول تر روزنې لاندې ونیول شي او په نوبتي ډول تعلیمي نصاب او درسي کتابونه تر بیا کتنې لاندې راولي چې د جندر په اړه کلیشه یې لیکنې ترې وباسي ؛**

**ج: د یوې پالیسۍ طرح کول څو یقیني کړي چې د ښځو او نجونو لپاره تعلیمي خدمات په کافي اندازه تمویلیږي او د بهرنیو مرستو له کموالي سر ه هم ادامه پیدا کړي ؛**

**د: د دې یقین ورکول چې د محافظت او ساتنې ریاستونه په اغیزمن ډول خپلې دندې سرته ورسوي څو داسې سپارښتنې برابرې کړي چې څنګه کیدای شي د نجونو په ښوونځیو د بریدونو مخنیوي وشي ، او د دې ډاډ پیدا شي چې د داسې بریدونو مجرمین په فوري ډول تر تعیقیب لاندې نیول کیږي او جزا ویني ، د داسې اقداماتو نیول چې هغه وېره او ترس چې په نجونو او د دوي په کورنیو کې د دغو بریدونو امله را پیدا کیږي او د نجونو دتعلیم مخنیوی کوي ، محوه کړي ؛ او**

**هـ: د هغو طرز العملونو بیا تر غور لاندې نیول چې پوهنتونونو ته د شاملیدو ازموینې تنظیموي او د هغو تعصبونو ایسته کول چې پوهنتونونو ته د ښځو د شاملیدو په اړه محدودیتونه وضع کوي.**

**استخدامول:**

۳۴- کمیټې په دې اړه قناعت څرګند کړی دی چې د لومړیتوبونو د رفورم او د تشکیل د نوي کولو پروګرام (پي ار آر) په دې ټنیکار کوي چې ښځې د ملکي خدمتونو لپاره استخدام کړي. کمیټه دارنګه یادوي چې په ملکي خدمتونو کې یوازې ۲۱ سلنه کارمندان ښځې دي. کمیټه په دې اندیښمنه ده چې د ښځو اکثریت په ټیټو رتبو باندې ګمارل شوې دي. دغه راز په ټولنه کې هغه منفي انګیرنه چې د ښځو کارمندانو په اړه شته هم د کمیټې د خواشینۍ سبب ګرځي. کمیټه وړاندې د جنسي تهدیدونو او بیرونو له امله هم خواشینې ده چې د کار په ځایونو کې عمومیت لري او په خاص ډول ښځینه پولیس افسرانې ورسره مخامخ دي او د دې سبب ګرځي چې ښځې په امنیتي سکټور کې له استخدامولو او ساتلو څخه منع کوي. کمیټه د دې اندېښنه لري چې د ښځو اکثریت په غیر رسمی سکټور (کرهنه)

کې او کورني اقتصادي برخو (په کورونو کې کار کول) کې فعالیتونه کوي ، او په دې ډول دوي د کار په موجوده قانون کې د کار کوونکو په حیث نه دي پیژندلې شوې او په نتیجه کې دوي له محافظت څخه بې برخې وي او ټولنیز مصوونیت او نورو امتیازاتو ته لاس رسي نه لري.

**۳۵- کمیټه سپارښتنه کوي چې غړی هیواد لاندني کارونه سرته ورسوي:**

**الف: د کار په رسمي مارکیټ کې اغیزمن اقدامات وکړي ، د موقتي مخصوصو اقداماتو په ګډون ، چې د ښځو برخه اخیستنه زیاته کړي او هغه عمودي او افقي تفاوتونه چې د مسلکونو په لحاظ موجود دي له منځه یوسي ، د ښځو او نارینه وو په منځ کې د مزد تفاوتونه کم کړي او د برابر کار لپاره د برابرمزد د اصل تطبیق کول عملي کړي او همدارنګه د کار مساوی فرصتونه ایجاد کړي ؛**

**ب: د پوهاوی په غرض کمپاینونه په لاره واچوی تر څو هغه کلیشه ای انګېرنې محوه کړي چې د ښځینه کارکوونکو په اړه شتون لري ؛**

**ج: سملاسي عملی اقدام وکړي چې په کار ځایونو کې د جنسي تیری او بیرونې په ضد پالیسي او پروګرامونه په کار واچوي ، په خاص ډول د ښځینه پولیس افسرانو لپاره څو دوي په خپلو دندو پاتې شي ؛ ځانګړی قوانین عملي کړي چې په کار ځایونو کې جنسي تجاوز او ځورونې منع کوي ؛ او**

**د- د عمل یو پلان برابر کړي چې په غیر رسمی سکټور کې کارکوونکې ښځې محافظه کړي لکه کرهنه او په کورونو کې د مزد لپاره کورني کارونه.**

**روغتیا**

۳۶- کمیټه د پالیسۍ دچوکاټ ستاینه کوي چې غړی هیواد د روغتیا په اړه غوره کړې ده. سره د دې ، کمیټه د زیږون پر مهال د مړینې د لوړې کچې له امله او هم له دې درکه اندیښمنه ده چې ډیر شمیر ښځې خاصتاً په لېري پرتو سیمو کې چې جنګ ځپلې سیمې دي له ذهنی ټکان اوفستولا څخه رنځیږي ، چې د دوي رواني روغتیا او هوسایني ته زیان رسوي. کمیټه له دې درکه هم خواشینی ده چې د پلار سالارۍ روشونو او کلتوري عقیدې چې ژورې ریښې لري د ښځو د خوځښت ازادي محدوده کړې او هغوی له دې څخه منع کوي چې د نارینه ډاکټرانو له خوا یې درملنه وشي او د ښځو له خوا د اولاد د مخنیوي وسیلو ته لاس رسی د دوی د میړونو په خوښه او اجازه کیدای شي. کمیټه په دې هم اندیښمنه ده چې ډیر لیږ شمیر روزل شوې ښځې د روغتیایی پاملرنې په برخه کې کار کوي او ډیری ښځې د زیږون په مهال د روغتیایی پاملرنې څخه محرومې دي. کمیټه په دی اندیښمنه ده چې بې وخته زیږېدنه یوازې په هغه وخت کې اجازه لري چې د مور ژوند په خطر کې وي او داسې زیږیدنې ډیر ځله په دې

ختمیرې چې د مور ژوند ته زیان رسوي. کمیټه په خاص ډول ځکه اندیښنه لري چې د روغتیایی پاملرنې لپاره خصوصا په کلیوالي سیمو کې ډیرې لیږې انساني او مالي سرچینې شتون لري.

**۳۷ - د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیز چوکاټ په رڼا کې ، کمیټه د خپلې د ۲۴ لمبر (۱۹۹۹) سپارښتنې پر بنسټ غړی هیواد د لاندینو دندو اجراء ته رابولي:**

**الف: د معینو هدفونو ټاکل او د عمل د پلان تصویبول چې د روغتیا د سکتور پایداري تقویه او یقیني کړي او لیږ تر لیږه د دې مخنیوی وکړي چې د ښځو لپاره موجوده روغتیایی خدمتونه نور محدود نه شي ؛**

**ب: د اغیز منو اقداماتو نیول چې د زیږون پر مهال د مړینې کچه را ټیټه کړي او د ښځو لپاره روغتیایی خدماتو ته لاس رسی برابر کړي چې د روزل شوي پرسونل له خوا طبی او روغتیایی مرستی ولري ، د قابلګی په ګډون خاصتاً په کلیوالی سیمو کې ؛**

**ج: د پوهاوی کمپاینونه په لار اچول څو د پلار سالارۍ هغه روشونه او کلتوري عقیدې محوه کړي چې وریا روغتیایی خدماتو او د اولاد د مخنیوی روشونو ته د ښځو د لاس رسی مخنیوی کوي ؛**

**د: د اغیزمنو اقداماتو نیول چې په روغتیایی سکتور کې د ښځینه کارمندانو شمیر زیات کړي او په پرلپسی ډول د دوي ظرفیت لوړ کړي ؛**

**ه: د هغو شرایطو پراخول چې بې وخته زیږون ته اجازه ورکوي ، په خاص ډول د جنسي تیري او له کورنیو محرمو غړو سره د جنسي اړیکو قضیې او له زیږون څخه وروسته وخت کې د لارښوونو تهیه کول څو د دې داډ پیداشي چې ښځې دې ډول خدماتوته لاس رسی لري ؛**

**و: د اغیزمنو اقداماتو نیول څو د هغو ښځو رواني روغتیایی حالت ښه کړي چې له جنګ څخه وروسته په رواني صدمو او نورو رواني شتونزو/پریشانیو مبتلا وي ؛او**

**ز: د روغتیایی سکتور لپاره د نورې بودجې اختصاصول چې د فستولا د ناروغانو درملنه وشي او دوی بیا په ټولنه کې راګډ شي.**

**بې وزلې او کلیوالې ښځې**

۳۸- کمیټه د دې یادونه کوي چې د غړی هیواد نږدې د ټول نفوس ۸۰ ٪ په کلیوالو سیمو کې اوسي. کمیټه په دې خوا شینې ده چې نږدې ۳۶سلنه د نفوس د فقر د خط څخه د لاندې ژوند کوي او د دوي اکثریت ښځې دي. کمیټه په دې هم اندیښمنه ده چې د ملک په ځینو برخو کې کلیوال خلک د خپل ژوند د تامین لپاره د افینو په

کښت باندی متکي دي. کمېټه دغه راز د دې یا دونه هم کوي چې د کلیو د پراختیا او بیا رغونی وزارت یو پروګرام په لار اچولی چې کلیوالو ښځو او نارینه ووته د ټیټې کچې قرضي ورکوي څو دوي د خپلو ځانونو لپاره کارونه پیدا کړي. خو کمېټه په دې اندیښمنه ده چې هغه ښځې چې له دې پروګرام څخه برخمنې دي ډېر ځله د پروګرام دغه پانګه د خپلو مېړونو یا نورو نارینه خپلوانو په اختیار کې ورکوي. دغه راز کمېټه له دې درکه هم خواشیني څرګندوی چې کلیوالې ښځې د ټولنې په کچه د روغتیا یی او اجتماعی خدماتو ته د لاس رسی په لار کې او همدارنګه د پریکړو نیولو په پروسو کی د ګډون په اړه له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي.

**۳۹ - کمېټه سپارښتنه کوي چې غړی هیواد باید دا لاندې دندې اجرا کړي:**

**الف: د کلیوالو سیمو لپاره د یوه هراړخیز انکشافی پلان جوړول چې ښځې د هغې په طرح او تطبیق کې بشپړه برخه ولري او په کافی اندازه بودجه ولري څو د نیستی، سره مقابله وشی او نوي اقتصادي فرصتونه پرانیزي چې د افینو د کښت ځای ونیسي ؛**

**ب: د کلیو د پراختیا او بیا رغونې د وزارت په پروګرامونو کې د جندر له نظره طرح شوي اجزاوې ګډول ؛**

**ج: د داسې اقداماتو نیول چې ددې ډاډ ورکړي چې کلیوالې ښځې په اغیزمن ډول د پریکړو په نیولو کې ګډون لري او د پروګرامونو او د کریډیټ له اسانتیا وو څخه برخمنې دي ؛ او**

**د: په دې لار کې هڅې ګړندی، کول چې د کلیوالو ښځو اړتیاوې پوره شی او روغتیا ، تعلیم ، پاکو اوبو او د حفظ الصحې خدماتو ، ښیرازو ځمکو او د عایداتو را وړونکو پروژو ته د دوي لاس رسی برابر شي.**

**مهاجرې ، بیرته راستنیدونکې او داخلي بې ځایه شوې ښځې او نجونې:**

۴۰- کمیټې په غړی دولت کې د داخلې بې ځایه شویو کسانو د شمېر په زیاتوالی باندې اندیښنه څرګنده کړې ، او په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د هغې اړتیا په باب چې د دوي لپاره اوږد مهاله ضروري خدمات او محافظت تضمین شي. کمیټه په دې هم اندیښنه څرګندوي چې ډېری افغانی مهاجرین او راستنیدونکي او داخلی بې ځایه شوي کسان اقتصادی مهاجرت ته اړ شوي دي ځکه چې دوي کاري فرصتونو او بنسټیزو خدماتو ته لاس رسی نه لري.

**۴۱. کمیټه غړی هیواد د لاندي دندو اجراء ته هڅوي:**

**الف: د داخلي بی ځایه شویو کسانو په باب د داخلي بیځایه شوو کسانو لپاره د ملي پالیسی تصویبول او د هغې بشپړ تطبیق کول او د اوږد مهال لپاره د داسې پروژو عملي کول چې د داخلې بی ځایه شویو کسانو ، په خاص ډول د ښځو او نجونو اړتیاوې پوره شي ؛**

**ب: د دې داډ ورکول چی دا ډول ښځې اونجونې روغتیا ، تعلیم خوړو ، سرپناه ، ازادانه تګ راتګ او فرصتونو ته لاس رسی ولري چې عدالت اود پایداره حل لارې تضمین شی ؛او**

**ج: د ۱۹۵۴ کال له تړون سره چې د تابعیت څخه په محرومو کسانو پورې اړه لري او د ۱۹۶۱ کال له تړون سره یو ځای کیدل چې د تابعیت څخه د محرومیت د کچې د کموالی په باب دی.**

**واده او کورنی اړیکې:**

۴۲- کمیټه له دې درکه اندیښنه لري چې په غړي هیواد کې د ازدواج او کورنیو اړیکو په باب مختلف قانوني سیستمونه شتون لري او د ښځو په وضعه منفی اثر غورځوي. کمیټه اندیښمنه ده چې سره له دې چې د شعیه وګړو د شخصیه احوالو په قانون کې تعدیلات منل شوي خو بیا تبعیضي احکام لا په خپل ځای پاتې دي ؛ لکه دا چې ښځه اجازه نه لري چې د میړه له اجازې پرته کور پریږدي. دغه راز کمیټه په دې هم خواشینې ده چې په مدني قانون او دودیزو عملونو کې تبعیضي احکام جاري دي ؛ لکه په ښځو او ماشومانو د میړه له خوا قانوني اختیار او واک درلودل. دغه رنګه کمیټه اندیښمنه ده چې ښځه د مدني قانون له مخې د طلاق اخیستلو او د ماشومانو لپاره د وصی توب په اړه له مساوی حقونو څخه برخمنې نه دي. کمیټه بیا هم اندیښنه لري چې ښځې د میراث له حق څخه محرومي دي ځکه چې د دوي موقف په تولنه کې ټیټ دی او د دوي نارینه خپلوان واکمني لري. کمیټه په دی خواشیني څرګندوي چې لیږ شمیر ازدواجونه او طلاقونه راجستر کیږي چې ښځې د خپلو حقونو له غوښتنو څخه منع کوي. کمیټه له دې بابته اندیښنه لري چې جبري و دونې او په ماشومتوب کې ازداوجونه لا جاري دي او د نجونو لپاره د ازدواج لیږ تر لیږ عمر ۱۶ کلن ټاکل شوی دی. کمیټه په دی هم خواشینې ده چې په ځینو شرایطو کې په یوه وخت کې له څو ښځو سره واده کول مجاز ګڼل کیږي.

**۴۳: کمیټه د کنوانسیون د ۱۶ مادې سره سم او د خپلو ۲۱(۱۹۹۴) او ۲۹ (۲۰۱۳) لمبر عمومي سپارښتنو په بنسټ غړي هیواد ته لاندنی سپارښتنې کوي:**

**الف: له مدنې قانون او د شعیه وګړو د شخصیه احوالو له قانون څخه د تبعیضی احکامو ایستل او په اړوندو قوانینو کې تعدیل چې د نجونو لپاره د ازدواج حد اقل عمر ۱۸ کلنی ته پورته کړي ؛**

ب: د دي داډ ورکول چې د کورنۍ د قانون مسوده د ښځو او نارینه وو لپاره په ټولو مسئلو کې چې په ازدواج او کورنیو اړیکو پورې تعلق ولري برابر حقونه ورکوي ، په خاص ډول په داسی مسئلو کې لکه په کورنیو کی د دوي مسؤولیت ، ملکیت او میراث ، طلاق او د ماشومانو ساتنه ؛

ج: د پوهاوي کمپاین په لاراچول چې ښځې یی تر هدف لاندې نیولې وي او دوي ته په کورنیو کې د خپلو حقونو ، کورنیو اړیکو او ازدواج په باب پوهاوی ورکړي ؛

د: د اقداماتو نیول څو د ازدواج او طلاق قضیی ثبتې کړي ؛ د دې داډ ورکړي چې د ازدواج او د کورنۍ د قانون قضیې په کافی ډول تر غور لاندې نیول کیږی او د مدني او کورنۍ محاکمو له خوا اوریدل کیږي ؛ او

هـ: ضروری قانوني او په پالیسی پورې مربوط اقدامات ونیسی څو په یوه وخت کې له ډیرو ښځو سره واده کول لغوه کړي.

د کنوانسیون په ۲۰ ماده لومړی پاراګراف کې تعدیل او اختیاري پروتوکول:

۴۴: کمیته غړی هیواد هڅوي چې د کنوانسیون اختیاري پروتوکول تصویب کړي او بې له ځنډه د هغه په ۲۰ ماده او لومړۍ فقره کې تعدیل ومني چې د کمیټې د غونډو په وخت پورې تعلق لري.

د پیکن اعلامیه او د عمل لپاره پلاتفورم:

۴۵: کمیته په غړي دولت غږ کوي چې د پیکن له اعلامیې او د عمل له پلاتفورم څخه ګټه پورته کړي ، چې د ترون د احکامو د تطبیق په لار کې هڅې شمیرلې کیږي.

د زریزې انکشافی هدفونه او راتلونکې تګلار

۴۶: کمیته د کنوانسیون د احکامو سره سم په ټولو هڅو کې چې هدف یی د زریزې انکشافی موخې وي او د غه راز له ۲۰۱۵کال څخه هیسې د نوي انکشافی تګلارې په رابطه غوښتنه کوي چې د جنډر مسئلې په دغو تګلار کې شاملې کړي.

تخنیکی مرستې

۴۷: کمیته د دې سپارښتنه کوي چې غړی هیواد د بین المللی مرستې څخه د تخنیکي مرستی په ګډون ګټه پورته کړي څو یو هر اړخیز پروګرام طرح کړی چې هدف یی د کمیتی د پورتینو سپارښتنو او د ترون په مجموعی ډول پلی

کول وي. کمیټه همدارنګه په غږی هیواد باندي غږ کوي چې د ملګرو ملتونو د اختصاصی ادارو او پروګرامونو سره ، د ملګرو ملتونو د پرمختیاي مرستو د صندوق (UNDAF) او د توکیو د کنفرانس د دوه اړخیزې حساب ورکونې له چوکاټ سره سم ، خپله همکاري نوره هم زیاته کړي.

خپرول او توزیع کول:

۴۸: کمیټه د دې غوښتنه کوي چې د وروستنی ملاحظې په مناسب وخت کې د غږی هیواد په رسمی ژبه (ژبو) د دولت ټولو موسساتو ته په ټولو کچو (ملی ، سیمه ییز او محلی) کچو کې ورسوي ، په خاص ډول حکومت ، وزارتونو ، ولسي جرګې او مشرانو جرګې او قضایی قوې ته ورسیږي چې د هغو بشپړ تطبیق ممکن وګرځوي. کمیټه غړی هیواد تشویق کوي چې له اړونده برخه والو سره همکاري وکړي ، لکه د بشري حقونو او د ښځو سازمانونه ، پوهنتونونه او څیړنیز مرکزونه ، خبري رسنی او نور. کمیټه وړاندې سپارښتنه کوي چې وروستی ملاحظې په محلی کچه په یوه مناسب شکل توزیع شي چې د تطبیق په اړه یې اسانتیاوې پیدا شي. په دې برسیره ، کمیټه له غړي هیواد څخه غواړي چې د ښځو پر ضد د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون (سیدا) ، دهغه اختیاري پروتوکول او د هغه قضا یی صلاحیت ، او د کمیټې عمومي سپارښتنې ټولو برخه والو ته ورسوي.

د وروستیو ملاحظو تعقیب

۴۹: کمیټه له غړي هیواد څخه غوښتنه کوی چې په دوو کلونو کې د ننه د هغو اقداماتو په باب لیکلي معلومات تهیه کړي چې د ۱۱ ، او ۲۳ فقرو د شاملو سپارښتنو د تطبیق په اړه یی اخیستي وي.

د بل راپور تهیه کول:

۵۰: کمیټه غړي هیواد ته بلنه ورکوي چې خپل درېیم نوبتي راپور د ۲۰۱۷ په جولای کې تسلیم کړي.

۵۱: کمیټه له غړي هیواد څخه غواړي چې د نړیوالو بشري حقونو تړونونو پربنسټ د راپورونو په اړه همغږې شوې لارښوونې تعقیب کړي ، دهغو لارښوونو په ګډون چې د (HR/MC/2006/3)(Corr.1) عمومي اساسي سند او د تړونونو د اختصاصی سندونو په اړه وي.